اهل سنت والجماعت یا ناجیه فرقه

اهل سنت والجماعت

اتمه برخه

مفتي شاهد حقاني

د(ما أنا عليه وأصحابى)تشريح :

ښه به داوي چې دحديث شريف ددې فوق الذكر فقرې تشريح او وضاحت پخپله له هغه حديث څخه معلوم کړو ،هغه داسې چې يو پوښتونکې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل، چې پداسې حال کې چې دا امت (٧٣) فرقو اولويو ډلو باندې وويشل شي او اوسنی وحدت يې ټوټه ټوټه شي ،پدې ډلو ټپلو کې چې صرف فرقه ناجيه او هغه ډله چې په حق ده ، کومه يوه ده، نو ده صلى الله عليه وسلم ورته په ځواب کې لا هغه مهال ويلي و ،چې ((ما أنا عليه وأصحابی)) ،نوموړی حديث چې (مشکاة المصابيح)رانقل کړی په لاندې ډول دی !وعن عبدالله بن عمرو قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ليأتين على أمتى كما أتى على بنى اسرائيل حذوالنعل بالنعل حتى ان كان منهم من أتى أمه علانية لكان فى أمتى من تصنع ذالک ،وان بنى اسرائيل تفرقت على سبعين ملة وتفترق أمتى على ثلث وسبعين ملة ،كلهم فى النار الاملة واحدة، قالوا من هى يارسول الله قال ما أنا عليه وأصحابى ــ(مشكاة المصابيح باب الاعتصام بالكتاب والسنة ج١ ص٣٠).ترجمه :د حضرت عبدالله بن عمر و څخه روايت شوی ،چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

زما په امت به يوه داسې زمانه راشي ،چې په بني اسرائيلو راغلې وه ،داسې لکه يوه پڼه چې له بلې پڼې سره برابره شي ،تردې پورې، چې که په هغوئ ځوک خپلې مورته ښکاره راغلې وي (ښکاره يې ورسره زنا کړې وي)زما امت کې به هم داسې وشي ،له شک پرته بني اسرائيل په (٧٢)فرقو ويشل شوي وو ،اوزما امت به په (٧٣)فرقو يا ډلو وويشل شي ،ټولې به دوزخ ته ځي ،مگر يوه فرقه به نه ځي ،صحابوو(رض)ترې وپوښتل چې اى دالله رسوله(ص) هغه به کومه فرقه وي ؟رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: چې په کومه طريقه چې زه او زما اصحاب دي.

همدا سې په يوه بل روايت کې راغلي چې:

عن أنس بن مالک قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "تفترق أمتي على ثلاث وسبعين فرقة كلهن في النار إلا واحدة "،قالوا: وما تلک الفرقة؟ قال: "ما أنا عليه اليوم وأصحابي ".

رواه الطبراني في الصغير وفيه عبد الله بن سفيان قال العقيلي: لا يتابع على حديثه هذا وقد ذكره ابن حبان في الثقات. (مجمع الزوائد ومنبع الفوائد ج١ص٢٣١)

ژباړه :حضرت انس بن مالک (رض)فرمايي :چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :چې زما امت به په (٧٣)ډلو باندې وويشل شي ،چې ديوې فرقې څخه علاوه به ټولې فرقې اور کې وي ،دوئ (صحابه کرامو رض)وپوښتل، چې دايوه فرقه به کومه يوه وي (څه صفات به لري)،نو نبى عليه

السلام ورته وفرمايل، چې دا هغه ده (دهغو عقايدو او سنتو پيروي به کوي)چې نن پرې زه او زما اصحاب دي.

دموضوع د لا ښه وضاحت لپاره به دځينو منل شويو علماوو اقوال ،دمفتي صاحبانو فتواوې اودلويو فتاوو څخه ځيني حوالې رانقل کړو، څو ترې دموضوع په اړه لا ښه معلومات ترلاسه اوددې مسئلې په باب ابهام ورک شي !

مشهور عالم (مفتي زين العابدين کرناپوري)په خپل کتاب (عقايد اهل السنة والجماعة) کې د (ما أنا عليه واصحابي)شرح داسې کوي:د(ما)کلمې څخه موخه قانون ، شريعت او اسلامي تعليمات دي ،د((أنا ، وأصحابی)) څخه مراد هغه مقدس شخصيتونه دي ،چې ددوئ نه په انسانانو کې مختلف مهارت لرونکي اشخاص پيدا کيږي ،چې سرچينه او منبع يې رسول الله صلی الله عليه وسلم دی ،چې ددې حاصل دادی، چې ،حقه فرقه هغه ده چې بنياد او بنسټ يې دوه شيان وي ،يو حق نظام او بل اتباع دحقو شخصياتو ،پدې دواړو کې چې يو منتفي وي، هغه بايد داهل سنت او ناجيه فرقې دعوی ونکړي ،نوموړی ليکي: چې بريلويان يوازې شخصيات پالي اودوئ هم بې لارې دي ،داجتهاد ،تقليد او اجماع له منکرينو سره د شريعت نظام شته خو دا بل بنسټ(مقدس اشخاص) ورسره نشته، نو ځکه دوئ هم بې لارې دي ،خو د ديوبند دمکتب فکر اهل سنت والجماعت علماوو سره بيا دواړه بنسټه او اساسات شته، يعنې هم اصول شريعت اوهم مقدسه اشخاص ،يعنې دقرآن اوسنت په نوم قانون او دصحابوو(رض)او الجماعت په نوم شخصيتونه هم له ځانه سره ساتي، نو همدا بيا ددې مذکور حديث شريف مصداق دی.

د (دارالعلوم حقانيه په اردو فتاوی اول جلد دباب الفرق الاسلاميه وغيرها)تر بحث لاندې همدا موضوع ،ددې استفتاء په ځواب کې (چې داهل سنت والجماعت مصداق کوم خلک دي او تعريف يې څنګه دی؟) داسې ليکي: اهل سنت والجماعت هغه خلک دي ،چې عقايدو او احکامو يې دقرآن اوسنت سربيره دصحابه کرامو رض مسلک خپل کړی وي اودهغوئ په اقوالو عمل کوي، لما قال العلامة ظفر احمد العثماني (اہل سنت و جماعت وہ مسلمان ہیں جوعقایدواحکام مین حضرات صحابہ کرام رضی اللہ عنہم کی مسلک پرہون اورقرآن کی ساتھ سنت نبویہ ص کو بھی حجت مانتی اوراس پر عمل کرتی ہون)

(شيخ احمد الطحطاوي رحمه الله) هم دا اهل سنت والجماعت يا ناجيه فرقه ،نن سبا په اربعه مذاهبو کې منحصره بولي او له مذاهبو څخه وتلو ته دبدعت مترادف وايي،لکه د(الطحطاوي علی الدرالمختار)متن چې د(دارالعلوم حقانيه فتاوی دوهم جلد)کې ديوه مستفتي په ځواب کې داسې را نقل کړی ، چې البته مونږ به يې بې له تصرفه پښتو ژباړه ديوې معتمدې حوالې په پار دلته وليکو !

سوال:جناب مفتي صيب په موجوده زمانه کې دڅلورګونو مذهبونو څخه په غير دکوم نوي مذهب تقليد کول جائز دي که نا جائز؟؟

الجواب: دعلماوو دتصريحاتو په رڼا کې نني وخت کې دڅلورو مذاهبو نه علاوه پر بل کوم مذهب عمل کول جواز نلري ،داځکه چې داسې کومه جزئيه به نه وي پاتي، چې دې اربعه مذاهبو به پرې صراحت نه وي کړی، لما قال العلامة الطحطاوي رح فعليکم يا معشر المؤمنين باتباع الفرقة الناجية المسماة بأهل السنة والجماعة فان نصرته في موافقتهم وخذلانه و سخطه و مقته في مخالفتهم، وهذه الطائفة الناجية قد اجتمعت اليوم في المذاهب الاربعة هم الحنفيون والمالکيون والشافعيون والحنبليون و من کان خارجا من هذه المذاهب الاربعة ذلک الزمان من اهل البدعة والنار (الطحطاوي علی الدر المختار ج۴ ص ۱۵۳کتاب الذبائح).

ورپسې ددې عبارت په لمن ليک کې د(علامه کمال ابن الهمام رح) تائيدي متن هم رانقل شوی ،چې پداسې ډول دی :

قال العلامة ابن الهمام رح :وعلى هذا ما ذكر بعض المتأخرين منع التقليد غير الأربعة لانظباط مذاهبهم وتقييد مسائلهم وتخصيص عمومها ولم ير مثله فى غيرهم الآن لانقراض اتباعهم وهو صحيح (التحريرفى اصول الفقه ص ۵۵۲بحواله فتاوى رحيميه ج۱۰ص۸۹کتاب العلم.

حضرت امام شاه ولى الله محدث دهلوي رح په خورا مشهور او مستند کتاب (حجة الله البالغه)کې دفرقه ناجيه په باب داسې فرمايي

:اقول الفرقة الناجية هم الآخذون فى العقيدة والعمل جميعا بما ظهر من الكتاب والسنة و جرى عليهم جمهور الصحابة و التابعين و ان اختلفوا فيما بينهم فيما لم يشتهر فيه نص ولا ظهر من الصحابة اتفاق عليه استدلالاً منهم ببعض ما هنالك او تفسيراً لمجمله ،وغير الناجية كل فرقة انتحلت عقيدة خلاف السلف او عملا دون اعمالهم .(حجة الله البالغة جلد۱صفحه ۳۱۲).

لنډه ترجمه: زما په نظر ناجيه فرقه هغه ده، چې خپله عقيده اوعمل له قرآن ،سنت څخه را اخلي او خپله عقيده هماغسې ورغوي ،چې څنګه جمهورو صحابه وو(رض)او تابعينو (رح) رغولې ده ،که څه هم ددوئ تر منځ پداسې اجتهادي مسايلو کې سره اختلاف نظر وي، چې په هغې کې نص نه وي مشهور او نه پکې دصحابه وو رض نه اتفاق راغلی وي، دا يا په هغو استدلال وي ،چې ورسره دي او يا دمجمل تفسير وي ،او غير ناجيه فرقه هغې ته ويل کيږي، چې عقايد او اعمال يې له سلفو صالحينو څخه خلاف وي او دهغوئ په منهج نه وي روان.

نوربيا ....

د ژوند د ځينو اوصافو نښې...

د لوړ همت نښه دا ده، چې د ځان لپاره يوازې په هغه څه راضي شې چې تر ټولو غوره وي.
د زهد نښه دا ده، چې له دنيا څخه مخ واړوې، په داسې حال کې چې دنيا تا ته مخه کړې وي.
د پرهېزګارۍ نښه دا ده، چې له شبهاتو ځان وساتې.
د سخا او کرم نښه دا ده، چې په هغه څه کې هڅه وکړې، چې خلک يې په اړه نه غږېږي، نه په هغه څه کې، چې د هغوی ترمنځ معمول وي.
د لويوالي نښه دا ده، چې پر حقه لاره ثابت پاتې شې که څه هم چې ستړياوې دې زيات شي۹ flower.
د ريښتينولۍ نښه دا ده، چې خبره دې په ډاډمنتيا ، ويره، طمع او نهيلۍ کې يو ډول وي.
د حکمت نښه دا ده، چې لومړی په خپله پر هغه څه عمل وکړې چې خلک ورته رابولې.
د نېکو اخلاقو نښه دا ده، چې په خپل کور کې تر ټولو خلکو ښايسته اخلاق ولرې.
د تقوی نښه دا ده، چې له خلکو سره ښې اړيکې ولرې.
د الله تعالی لپاره د غيرت نښه دا ده، چې له هغه چا سره ملګرتيا ونکړې، چې د هغه د حدودو پروا نه کوي.
د تواضع نښه دا ده، چې د کاميابۍ پر مهال پر ځان ونه وياړې.
د استقامت نښه دا ده، چې اخلاقي فضيلتونه دې د شرايطو د بدلون پر وخت بدل نکړې.
د اخلاص نښه دا ده، چې د الله تعالی رضاء ترلاسه کول د خلکو په رضاء او خوښۍ غوره وبولې.
د صبر نښه دا ده، چې خلکو ته شکايتونه ونکړې.
د شکر نښه دا ده، چې د هغه چا په حق کې د نيمګړتيا له امله حياء درشي چې له تا سره يې نېکي کړې.
له خپل بنده سره د الله تعالی د مهربانۍ نښه دا ده، چې سخت کارونه ورته اسانوي، په لږو يې راضي کوي، لرې شيان ورته نږدې کوي او له هغو دردونو يې ساتي چې د زغملو توان يې نه لري.

ځوورځې په میدان ښار کې



د **۱۴۳۵** هـــــــــ ق د روژې نونسمه ورځ وه چې میدان ښار ته ورسېدم ، د میدان ښار ښکلا ، د خلکو خوښی ، د مجاهدینو برلاسي ، او د غازیانو ډلې ډلې وجود هغه څه وو چې تسل خوښي او ډاډ یې را وبخښلو.

د اختر تر لسمې هلته وم ، پدې شلو ورځو کې چې ما څه ولیدل واورېدل او حس کړل د هغې غونچه تا سو قدرمنو ته ډالۍ کوم.

زمونږه سیمه :

د میدان ښار په بازار کې درې لارې دي ، دوه یې کابل او کندهار ته تللي ، دریمه لار چې د شمال غرب خواته ترې جدا شوې بامیانو ته قافلې پرې ځي ، همدا د بامیانو سړک په یوه اوږده دره کې ورانده تللی ، دواړو خواوو ته یې له تېرو پرښو جوړ د هندوکوش د دنګو غرونو شنه او توره لړۍ په مستطیل شکل پرته ، او د وړو وړو درو خولې ورته را خلاصې دي.

د درې د ځمکې مخ د منو ، چنار ، سنزلو ، زردلو ، توتو او نورو شنو ونو پړوني پټ کړی دی ، ټوله دره لکه د پانې په څېر په منځ کې لوی سیند او سړک لري ، او له شاوخوا درو څخه همدې سیند او سړک ته واړه واړه سړکونه او سیندونه را تویېږي.

زمونږه سیمه هم د شمال لور ته په وړو کې ستره دره ده ، د کوټه عشرو د زاړه بازار له شا څخه پیل کېږي ، په پیل کې پراخه ، وړاندې بیا په په دوه درې وړو وړو برخــو وېشـــل شــوې او د هندوکوش په لویه لړۍ یې ابادي ختمېږي ، په سر درو کې یې د کوچیانو کېږدۍ او خواره کلي ستړي مسا پر ته تسل او هیلې جوړوي ، اول کلي یې روستم خیل او جندي خیل نومېږي ، وروستنۍ برخه یې ګُهنه خُمار بلل کېږي.

جهادي وضعه :

د میدان ښار د نورو سیمو په نسبت دا ټوله دره د مجاهدینو لپاره ښه قرارګاه ده ، درې خوا ووته یې غرونه دي ، یوائې یوه لاره لري چې دښمنان پرې پل ایښودو ته زړه نه ښه کوي.

له همدې امله په سیمه کې مجاهدین په پوره معنا حاکم دي ، ډېر مجاهدین لري ، او خلک یې هرکلی کوي.

اقتصادي حالت :

د ټول میدان ښار د خلکو اقتصادي حالت ښه دی ،ډېر خلک په تجارت بوخت دي ، د پیوسته کابل له امله پاتې خلک هم د کابل په ښار کې په دوکانداریو او نورو تجارتي چارو کې مصروف وي.

پدې غرییزه درو کې ځمکې کمې دي ، چې ډېرې یې اوس په باغونو پوښل شوې ، له همدې امله خلک تجارت ته اړ دي ، خو بیا هم د کور په سر یو سړی د باغونو څارنې او ساتنې ته ګومارلی وي ، د منو او زردلو حاصل د ډېرو کورنیو د اقتصاد یوه برخه جوړوي.

هغلته د ښه اقتصاد یوه ګټه دا شوه چې د پیسو له لارې یرغلګر د خلکو د زړونو په را نیولو کې پاتې راغلل ، د اربکیتوب شومه پروسه دلته ناکامه شوه ، او د جاسوسانو شتون هم صفر دی.

دا ، او د جهاد مینه خو د ایمان برخه ، د وطن حق ، او د مشـرانو میـراث دی ، نـو ځکـه د جهـاد صـفونه لـه تنکیـو زلمیانو او لویانو څخه ډک وي.

له مجاهدینو سره مینه :

د وطن د نورو سیمو په څېر هلته هم مجاهدینو ته خلکو په احترام درلود ، په مینه یې لاربنونه ، مرسته او درې وخته ډوډۍ ورکوله ، دا خو یې د هر ګروپ حق ګڼلو ، خو د روستم خیلو او کهنه خمار د سیمې د مجاهدینو یوه مشر ... یوه خبره راته وکړه چې زه یې په سر کې حیران او بیا په خپل ولس ډاډه کړم ، هغه ویل چې: له پسرلي را هیسې چې په سیمه کې مونږه عملیات پیل کړي دي تر اوسه پورې هره ورځ زمونږه ګروپ ته په یو کور کې خامخا د چا لـه لوري مېلمستیا وي ، او ډېرې ورځې داسې شوي چې دوه کورونو مېلمستیا کړې وي ، بیا مو د هغوی د خوښولو لپاره ملګري په دوه ډلو وېشلي او دواړه کورنۍ مو رضا کړي دي.

دا خو ما په خپله ولیدل چې مجاهدین به په کوم کور یا کلي تېرېدل ، نو لویانو او وړو ماشومانو به د زړه له کومې د چای ډوډۍ کلک ست کولو .

یو وارې مونږه د کهنه خمار په کلي کې چې د تاجکو سیمه ده روان وو ، له یوه کاریز څخه تېرېدلو ، هلته څو ماشومانو د اوبو شاوخوا ته لوبې کولې ، پام یې نه وو مونږ ترې تېر شولو ، چې له شا یې غږ را وکړ ، زه ورته ودرېدلم ما ویل که څه کار به یې وي ، چې راغلل د پنځو شپږو کلونو واړه واړه ماشومان وو ، لکه د لویانو په څېر کلک شولو ، خپل کور ته یې اشاره کوله او په لوړ او ډاډه غږ یې ویل: بې آیید ، چای بخورید ، چاشت همرای ما باشید ...

د ګوډاګیانو حالت :

د امریکایانو وروستی بېس د میدان ښار د بازار له څنګه په وتو وو ، کانتینرونه زاړه ټانکونه یې لیلام کړي وو ، ډېر زاړه ټانکونه ورڅخه د یګ بخار د یوې کارخانې مالک اخستي وو ، چې وسپنه یې د دې د یګیو لپاره ډېره مناسبه وه ، یو کس راته او ویل چې د کارخانې مشر ډېر خوشحاله وو ، چې له دې وسپنو څخه به ولس ته ښه د یګونه تیار کړم.

بامیانو تـه پـه غزېدلي سړک ځای ځای د هزارجات د اربکیانو پوستې او دوه درې ځایه د غلامې اردو بېسونه دي ، خو د دوی شتون تر پاخه سړکه پورې محدود دی ، ځکه چې لاندې ځمکه له سړک نه پرته ټوله باغ او ځنګل دی ، چې د دوی واک د سړک له ژۍ سره پرې ختمېږي.

دا پوستې وخت په وخت د مجاهدینو تر بریدونو لاندې وې.

د جلرېز ولسوالۍ د زیولایت د سیمې د سړک پوستې خو د درازکوپ له وېرې داسې وې چې پېره پرېښودلو ته اړ شوي وو ، چې سر به یې اوچت کړو نو په لاندې باغونو کې ناستو مجاهدینو په د درازکوپ په غلي او وېرژن ګوزار ویشتل چې تر عمره به له سر پورته کولو پاتې شول.

د جلرېز د زیولایت د سیمې دوه زلمي مجاهدین د اربکیانو په ښکار کې ډېر مشهوره شوي وو ، په یه باندې یې چا ټوکه کړې وه چې: ته خو درازکوپ په اوږه په اربکیانو پسې داسې ګرځې لکه ایلۍ چې ولې.

د مجاهدینو شتون :

پـه مرکز او جلرېز ولسوالۍ کې بامیانو تـه د غزېدلي سړک د مستقیم خط له هغو سیمو نه پرته چې پوسته یا بېس وو پکې وو ، نورې ټولې سیمې د مجاهدینو تر تصرف لاندې وې ، د جنوب خوا ته له غره نه آخوا د نرخ ولسوالۍ ده ، هلته اوس د اسلامي امارت د مجاهدینو پوره واک وو ، د نرخ په اول سر کې په ولسوالۍ له را څرخېدلیو څو پوستو پرته نوره ټوله سیمه د اربکیانو له وجود څخه پاکه او خلک ببرته ډاډمن ژوند ته ستانه شوي وو.

د مجاهدینو د خپل منځ اتفاق او همکارۍ ډېره د ډاډ وړ وه ، د سیمې ټول مجاهدین سره یو غږ او د ضرورت په وخت کې یو بـل سـره ملاتـړي وو ، لـه اختـر نـه دوه درې ورځـې مخکـې مجاهدینو د امریکایانو په بېس د میزایلو حمله وکړه ، میزایل

ډېر په هدف لګېدلي وو ، په غزا کې یو مجاهد ولایت ته نږدې کوم ځای یو اځې روان وو ، دغلته د روسانو د وخت د کومې جهادي ډلې په نوم یو سړی مرموز جهادي حرکات لري ، هغوی دا مجاهد نیولی وو ، خو دې مجاهد په اول سر کې ملګري خبر کړي وو ، دې مرموز ګروپ د ولایت ځینې اورګانونه خبر کړي وو ، چې دا مجاهد به په لاس ورکوي ، خو چې نور مجاهدین پرې خبر شول نو ټولو ګروپونو هغه سیمه کلابنده کړه او هغه مجاهد یې سالم ترلاسه کړ.

په سیمه کې د خدای نښې :

یوه ډېره جالبه معنا ما هغلته ولیدله چې: د روان جهاد په حقانیت او د سیمې د مجاهدینو په خلوص یې دلالت کوله ، هغه داوه چې: ډېر عامو خلکو او ډېرو مجاهدینو رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوب کې لیدلی وو.

د کهنه خمار د قلعهٔ بَغَل کلي یوه ځوان چې سجاع (شجاع الدین) نومېدو ویل چې: د روژې په دیارلسمه شپه مې په خوب کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیدلو ، سپینه پګړۍ او سپین کالي یې په ځان کې وو ، مخته یې شهیدان شوي مجاهدین ګرځېدل ، ما ته یې ویل چې: د کُهنه خُمار د قریې مولوي صاحب ته او وایه چې خلکو ته اعلان کړي چې: د شهیدانو په هکله تشویش مه کوئ ، هغوی ټول داده له ما سره دي.

سجاع ویل: ما هغلته ډېر شهیدان شوي مجاهدین ولیدل ، شهید قاري هدایت او "نور سید " مې ولیدلو ، هماغسې جمپرونه او کرمچ یې په پښو وو.

سجاع د خپل ماشوم زوی بشیر په هکله ویل: دا عجیبه ماشوم دی ، له مجاهدینو سره دومره مینه لري چې زه یې مجبوره کړم چې له دې ځای نه یې په سوونو کلومتره لرې د یوه شهید د یتیمانو لیدلو ته ور ولم.

څو واري د ده په مخ باندې الله اکبر ولیکل شو ، او اکثره د اسلامي میاشتې په ۱۳ ، ۱۴ ، او **۱۵** تاریخ د ده په ژبه د خدای سل نومونه واره واره لیکل کېږي.

د واره اختر په دریمه ورځ: یوه مشر حاجي صاحب چې کور یې د مجاهدینو ډېر خدمت کړی دی ویل چې: بېګا شپه مې چې مجاهد زوی له کوره وتلو نو ډېر خفه شوم ، او په کور کې هم لږ خفګان وو ، هغې نور هم وزورولم ، همداسې ویده شوم ، د شپې مې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوب کې ولیدلو ، د مکې په ښار کې له یو ځای څخه را اووتلو ، نور اصحاب هم ورسره وو ، په اس سپور وو ، زغره یې اغوستې او خول یې په سر ، لوڅه توره یې په لاس کې او چته نیولې وه ، ما ډېره شېبه ورته وکتل.

حاجي صاحب ویل چې د شپې ډېر خفه وم ، خو اوس له خوښۍ نه په جامو کې نه ځایېږم ، ویل یې چې: کاشکې لږ ډېر غمجن شوی وی چې تر دې مې ښه خوب لیدلی وی ، یعنې خدای پاک مې په خوب لیدلی وی.

د روژې په دوه ویشتمه ورځ قاري زین الله او ورسره د زبیر په نوم دوه مجاهدین په ډرون حمله کې شهیدان شول ، زین الله ډېر لوی اتل او غازي وو ، ډېر امریکایانو او ګوډاګیان د ده په لاس وژل شوي وو ، پدې ورځ هم په سړک د ګوډاګیانو ډله راغلې وه ، د راشکو لوړې غونډې ته ختلو چې له پاسه سړک تعقیب او خبر شوی ماین په مناسب وخت کې د ریموټ په واسطه انفجار کړي ، دی پر لاره وو ، چې شهید شو ، یو ورور یې قاري سیف الله څو کاله مخکې شهید شوی دی.

د کاکازوی یې خالد ویل چې: د قاري زین الله مور بي بي ویل چې: د ده له شهادت نه څو ورځې مخکې ما خوب ولیدلو ، سیف الله او زین الله دواړه ورونه یو ځای کې ولاړ وو ، زه پرې تېرېدم ، ما ور څخه وپوښتل: دلته ولې ولاړ یاست ؟ هغوی ویل چې: د خدای پاک ملاقات ته ولاړ یو.

د یو مجاهد په کور کې پلار مور او مشرې خور رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوب لیدلی وو ، همداسې نور هم ډېر زیات خلکو او مجاهدینو لیدلی وو ، اوس همدومره ، ان شاء الله دا او د نورو سیمو د مجاهدینو خوبونه به په یو ځانګړې مقاله کې را ونغاړو.

دحج فضائل او احکام




حج د اسلام له ارکانو څخه هغه ستر رکن دی چې په دې عبادت کې ډیر حکمتونه او عبرتناک درسونو نغښتي دي ، حج په هر کال کې په نړیواله سطحه د مسلمانانو لویه اجتماع ده چې یو له بله خپل نظریات ، سیاست ، اقتصاد ، کلتور او د مشکلاتو حل ، په نړیواله سطحه اسلامي وحدت ،علوم او تجربې په داسې حال کې یو له بله شریکوي چې د الله تعالی د رحمت تر سیوري لاندې خاص د الله تعالی د رضا لپاره په یو مقدس ځای او مقدسو ورځو کې سره ټول شوی وي.

حج د اسلام د شعائرو یو نمونه ده چې د خاصو مناسکو ، خاصو ورځو او خاصو ځایونو او احکامو سره ادا کیږي ، هماغه شعائر چې تعظیم او احترام یې د زړه تقوی او د خیر سبب دی لکه چې الله سبحانه وتعالی فرمايي : وَمَن يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى الْقُلُوبِ (**الحج ۳۲**)

د حج ځنې حکمتونه او د عبرت درسونه په لاندې ډول دي :

۱- حج د الله تعالی د بنده ګۍ او فرمانبرداری ښکارندوی دی ځکه چې حاجي د دنیا د آرام ټول اسباب ترک کوي ، اهل عیال پرېږدي ، د دنیا د ټولو مشغولتونو څخه خپل زړه او فکر خالي کوي ، د حرمین شریفین په لورې سفر کوي ، خپلې قیمتي جامې باسي د کفن په څیر دوې سپینې جامې اغوندي د الله تعالی په یاد کې د الله تعالی د داسې بیتې طواف کوي چې الله تعالی یې د طواف حکم کړی دی ، هغه مقدسه کعبه شریفه چې لومړې د ملائکو په لاسونو بیا د آدام علیه السلام، ابراهیم علیه السلام، اسماعیل علیه السلام او جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاسونو جوړه شوې ده ، په مسجد الحرام کې په داسې حال کې د الله تعالی په حضور کې لمونځ کوي چې کعبې یې مخې ته قرار لري او میلینونه مسلمانان حضور لري ، دا هغه جومات دی چې په دې جومات کې یو لمونځ د یولکو لمونځونو برابر ثواب لري .



۲- د عرفات په صحرا کې د مسلمانانو لويه اجتماع د جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم د حجة الوداع د آخري حج ياد دی چې په دغه صحرا کې رسول الله صلی الله عليه وسلم پخپله اوښه سپور ؤ او د هغه چاپير يولک څلويښت زره عاشقان صحابه جمع شوی وو او رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپل امت لپاره مهم امور اعلانول او د خپل امت د بخښنې او اصلاح لپاره يې په ډيره عاجزۍ سره دعا کوله.

دا د ژړا او زاريو، بخښنې او دعا ځای دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: په دې ورځ شيطان تر بلې هرې ورځې نه زيات ذلت او خواري ويني ځکه چې د بندګانو ګناهونه معاف کيږي (موطا امام مالک).

همدارنګه مسلم شريف د عايشې رضی الله عنها په روايت سره نقل کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: داسې ورځ نشته چې په هغې کې الله تعالی د عرفې د ورځې نه زيات د خپلو بندګانو د دوزخ د اور څخه د نجات فيصله وکړي- په دغه ورځ الله تعالی د خپلو بندګانو باندې د رحمت نزول کوي، او په دوی باندې فخر کوي فريښتو ته وايي: [ما اراد هؤلاء] يعنې: تاسې وينئ زما دا بندګان دلته د څه مقصد د پاره راغلی دی؟ (المسلم)

په دې صحرا کې د ميليونو مسلمانانو ټوليدل په داسې حال کې چې د کفن په څير جامه اغوستې سر تور سر د حشر د ورځې يوياد دی.

۳- د صفا او مروه تر مينځ سعي د بی بی هاجرې رضی الله عنها د لوي استقامت، صبر او قربانۍ ياد دی.

کله چې ابراهيم عليه السلام د الله تعالی په حکم خپله بې بې هاجره رضی الله عنها سره د خپل تي خوري بچي اسماعيل عليه السلام د مکې په وچه دښته کې چې نه هلته آبادي وه او نه هم اوبه پريښودل او ابراهيم عليه السلام د شام په لورې روان شو او کله يې چې د اهل څخه نظر فنا شو نو د الله تعالی په دربار کې داسې دعا وکړه:

رَبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ (حج ۳۸).

ژباړه: ای زما ربه! ما خپل اهل عيال په يوه بې کښته او بې ابو دښته کې ستا د محترم کور تر څنګ ميشت کړل.

د بې بې هاجرې سره څه خرما او اوبه موجود وو کله چې هغه اوبه خلاصې شوې اسماعيل عليه السلام له تندې سره مخ شو بې بې هاجرې د ابو په لټه کې د صفا او مروا دوو غونډيو تر مينځ اوه ځله منډې ووهلې کله چې د خپل بچې خوا ته راغله ګوري چې د هغه په پښو کې ابه روانې دي بې بې هاجرې اوبه ته وويل زم زم (ودرېږئ) چې دا د ابو چينه اوس د زم زم په نوم يادېږي.

او د صفا او مروا تر مينځ د حاجيانو سعي کول د بې بې هاجرې د سعي يادګار دی چې د قيامت تر ورځې به ژوندی وي، الله (جل جلاله) ته د بې بې هاجرې صبر، استقامت او د الله تعالی د حکم منل دومره خوښ شول چې د دغه بې بې منډې او سعي يې د قيامت تر ورځې پورې د عالم د پاره يو يادګار او عبرت وګرځولو او حاجيانو ته حکم شوې دی چې د دغه بې بې د منډو پر ځای به منډې وهي کوم چې د صفا او مروه تر مينځ سعي دي.

۴- په منا کې د حاجيانو وقوف او د جمرو ويشل د شيطان پر وړاندې د بت ماتوونکې ابراهيم عليه السلام د سترې مبارزې او سترې قربانۍ ياد دی.

په ابراهيم عليه السلام باندې د الله تعالی ددې ابتلاء وروسته چې خپله بې بې او ماشوم د مکې په وچه دښته کې پرېږده ابراهيم عليه السلام د الله تعالی په حکم خپله بې بې او ماشوم بچی د مکې په وچه صحرا کې پريښودل او په دې ابتلاء کې کامياب شو، ددې نه وروسته پر ابراهيم عليه السلام باندې بله ابتلاء راځي چې خپل هغه ماشوم زوی دې ذبحه کړه چې نوې تنکۍ ځوانۍ او د مور سره د منډو ترړو سن ته رسيدلی دی، الله سبحانه و تعالی فرمايي:

فَلَمّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيّ إِنّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَى قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللّهُ مِنَ الصّابِرِينَ (**الصافات ۱۰۲**).

ژباړه :هغه هلک چه کله د هغه سره د منډو ترړو سن ته ورسيد ،نو ابراهيم عليه سلام هغه ته وويل زويه ! زه په خوب کی وينم چه ستا ذبح کوم ،اوس ته ووايه چه ستا څه نظر دی،هغه وويل پلار جانه! دهغه څه چه ستاته حکم کيږی ترسره کړه ته به ان شآءَ الله ما له صابرانو څخه ومومی.

ابراهيم عليه السلام د الله جل جلاله د حکم له مخې خپل ماشوم زوی د ذبحې کولو لپاره د ځان سره روان کړ، رټل شوي شيطان کوښښ کولو چې اسماعيل عليه سلام او د هغه مور پښيمانه کړي خو شيطان په دې ونه توانيده دوی دواړه د الله (جل جلاله) د حکم پر ځای کولو په لوري صحرا ته روان شول او شيطان يې ورټلو چې اوس په همغه ځای باندې ځلی جوړ دي او حجاج يې جمرې کوي .

دا د شيطان پر وړاندې د ابراهيم عليه السلام ، بې بې هاجرې او اسماعيل عليه السلام د مبارزې لوی عبرتناک درس دی چې دقيامت تر ورځې به يې يادګار ژوندی وي .

۵- په حج کې دا پر ډاګه څرګنديږي چې مسلمانان د يو جسد حيثيت لري په ميليونو کسان د اسلامي شريعت د حکم پر آساس يو شان مناسک ادا کوي او د يو امام په اقتدا لمونځ کوي چې د تور ، سپين ، مالدار او غريب ، قوي او ضعيف ، اقتدار واله او بې اقتداره تر مينځ هيڅ فرق نشته او ټولو يو شان جامې اغوستې وي او يو شان مناسک ادا کوي .

د حج ادا کول د کفر او شرک پر وړاندې د ابراهيم عليه السلام او رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه د صحابه د مبارزې يادګار دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو د دين په رسولو کې څومره تکليفونه ګاللي دي او د دوی د تکليف ګاللو په وجه دغه د اسلام ستر نعمت تر موږ پورې را رسيدلې دی ، هلته مسلمان له خپل پروردګار سره تعهد کوي چې نور به د شيطان پيروي نه کوم ، د شيطان او اسلام دوښمنو پر وړاندې به جهاد او مبارزه کوم او د دين د نصرت د پاره به د خپل وس موافق هلې ځلې کوم .

۶- د حج د ادا کولو وروسته حجاج کرام د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم دار الهجرت مدينې منورې ته سفر کوي ، په دې مبارک ښار کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو مبارک کانو قبرونه دي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو په لاسونو باندې جوړ شوی نبوي جومات دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په اړه فرمايي :صلاة في مسجدي هذا أفضل من ألف صلاة فيما سواه إلا المسجد الحرام). الطبراني و صحيح ابن حبان) .

يعنې زما په جومات (مسجد نبوی کې) لمونځ کول د نورو تمامو جماعتونو د زرو لمونځونه بهتره دی (سوا د مسجد الحرام) نه

د حج احکام

حج په عمر کې يو ځل فرض دی ، ددې رکن منکر کافر دی او د فرض کيدو د شرايطو برابر کيدو باوجود نه اداکول واله فاسق او ګنهګار دی ، لکن حج په هر مسلمان فرض نه وي بلکه پر هغه چا فرض دی چې توان يې ولري .

قوله تعالى : وَلِلّهِ عَلَى النّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً ((**آل عمران ۹۷**)

ژباړه : او حج د دغه الهي خونې پر هغو خلکو فرض دی چې (مالي او بدني) توانايي ولري .

د مالي او بدني توانايی شرح په لاندې ډول ده

۱- په نابالغ او ليوني باندې حج فرض نه دی اګر که مالي توان هم ولري .

۲- تندرست کيدل : يعنې چه بدن يې داسې ناروغ وي چې د سفر کولو توان نه لري .

۳- دلارې خرڅ ولري او همدارنګه د خپل اهل عيال د کومو چې نفقه د ده په ذمه وي د بير ته راتګ تر وخت پورې دهغوی د پاره خرڅ ولري .

۴- پوروړی او قرضدار نه وي ، که د قرض د اداورسته دومره مالي توان ولري چې د کور د اهل او لارې خرڅ ورباندې کيږي نو حج ورباندې فرض دی
.

۵- دلارې امنيت

۶- د چا ضامن نه وي : که ده د چا ضمانت کړی وي نو بيا د ضمانت په دور کې حج کول صحي نه دي .

۷- د حج وخت : د حج په مقرر موده کې حج ادا کول د هغې مقررې مودې نه وړاندې يا وروسته حج کول نه ادا کيږي

۸- د ظالم حکومت لخوا څه منع نه وي او يا په جيل او زندان کې نه وي (آزاد)وي .

د ښځو حکم : د ښځو د پاره ددې شرطونو سره دوه شرطونه نور هم دي

اول: هغه به يوازې نه ځي بلکې خاونداو محرم به ورسره وي .

دوهم : دوهم شرط دا دی چې هغه به په عدت کې نه وي ، عدت که د خاوند د مرګ وي او که د طلاقو وي


دحج فضايل

له حضرت ابی هريرة رض څخه روايت دی هغه وايي چې ماله رسول الله ص څخه واوريدل چې فرمايل ئې :

څوک چې د الله ج لپاره حج وکړي د شهوت او ګناه خبری ونه کړی دی به داسې پاک راوګرځي لکه په کومه ورځ چې دی مور زيږولی وي (مسلم ، بخاري ، ترميذی)

همدارنګه له حضرت ابی هريرة رض څخه روايت دی چې رسول الله ص وفرمايل :

يوه عمره تر بلې عمرې دهغه ګناهونو کفاره ده چې د دوی تر منځ وي او دقبول شوي حج بدله پر ته له جنت څخه بل شی ندي (د مبرور معنی هغه چې ګناه پکې نه وي ،قبول شوی وي ،هغه چې ريا پکې نه وي يا هغه چې ورسته ور څخه ګناه ونشي) .



له عائشی رض نه روايت دی چې له رسول ص څخه موپوښتنه وکړه آيا په ښځو جهاد شته ؟

رسول الله وويل هو : په ښځو داسې جهاد دی چې په هغه کې قتال نشته هغه حج او عمره ده . (ابن ماجه)

له حضرت ابی هريرة رض څخه روايت دی چې يقيناً رسول الله ص وفرمايل :

حاجيان او عمره کوونکی دالله ميلمانه دی که هغوی خدای ج ته دُعا وکړی هغه قبليوي (ځکه چې د مومين نيک خواهش ضرور پوره کيږي)او که هغوی د خدای ج څخه عفوه وغواړی هغه بخښل کيږي .

. الله تعالی دې مونږ ته ددې پوره توفيق راکړئ چې په اخلاص سره د حج د اداکولو د پاره حرمين شرفين ته سفر وکړو (بيلابيلي ، ديني منابع)

دعدلي محکمو دقاضيانو دسيمينارونو راپور

دروان ۱۴۳۵ هـ ق د شوال المکرم دمياشتې په (۱۴ ۱۶\۱۵\ ) مه نيټه دافغانستان د اسلامي امارت درهبري شورا لخوا دټولو عدلي محاکمو (ابتدائيه ،مرافعه ، او تميز) قضاة او مفتيين کرام ديوه علمي او روزنيز دري ورځني سيمينار لپاره رابلل شوي وو ،چې دمربوطه ولاياتو د نږدې ټولو محاکمو څخه قضاة او مفتيانو ګډون کړی ؤ.

سيمينارونو کې دمحاکمو دقضاة او مفتيانو علاوه دتميز دعالي رياست مشر انو ،درياست غړو او دهيواد نامتو علماؤ او شيوخو هم ګډون کړی ؤ.

سره له دې چې په عمومي لارو زياتې امنيتي ستونزې وې ولې بياهم دهيواد دډيری ولاياتو د محاکمو څخه نږدې ټول قاضيان او مفتيان د سيمينارونو ټاکلي وخت او ځای ته راورسيدل.

د سيمينارونو امنيتي وضعه خورا ډاډه ، چاري يې ښې سنبال شوي اوډګډون کونکو اړتياوي په پام کې نيول شوي وې.

سيمينارونه دقرآن کريم په تلاوت سره پيل شول ، له تلاوت څخه وروسته لمړی يوه يوه تن عالم

مقدماتي خبري وکړي ، اووروسته د اسلامي امارت دتميز دعالي رياست له لوري دعدلي محکمو داداري

اوحقوقي اجراآتو اصولنامي چې دفرهنگي کميسيون دتاليف او ترجمي څانګي په کتابي بڼه چاپ کړې وې په ګډون کونکو وويشلي او وروسته دتميز دعالي رياست يوه تن عالم دغه اصولنامي ګډون کونکوته ماده په ماده لوستلې چې داړتيا په وخت به حاضرو شيوخو او علماؤ تشريح ورکوله ،د سيمينارونو لمړۍ ورځ ښه بوخته او له فوايدو ډکه تيره شوه.

دعدلي محاکمو اداري اوحقوقي اجراآتو اصولنامي

دعدلي محاکمو دقضاء دغه اصولنامي چې دافغانستان دستري محکمي دمسلکي علماؤ په زياربانددي ترتيب شوي وي له ۱۳۳۶ لمريزکال څخه نافذالعمل وي.

خوبيا څرنګه چې اسلامي امارت وغوښتل چې دهيواد په شرعي محکموکې دقضيو اوڅېړنو کيفيت او اړوند چاري په اصولي او شرعي طريقه سره لاښې تنظيم شي دمذکوره اصولنامو دکتنې په موخه يې ۱۴۳۳ قمري کال د ۱۰ مياشتې په دوهمه نيټه يولوی علمي اوڅېړنيز سيمينار ترتيب کړ په سيمينار کې دتميزعالي مقام علمي کدرونو دولاياتو دمرافعه محاکمو قاضيانو اودهيواد په کچه يوشمير وتلو علماء کرامو چې دټولو شمير ۶۰ تنوته رسيده ګډون وکړ ، په نتيجه کې يې داضطراري

غوښتنو او حالاتو له کبله په نوموړيو اصولنامو کې يولړ اصلاحات رامنځ ته کړل.

د ۱۴۳۴ هق کال د ربيع الثاني دمياشتې په ۲۵\۲۶\۲۷ د افغانستان د اسلامي امارت رهبري شورى دځينو غړو ،دتميز عالي رياست علماؤ او يو شمير متخصصو علمي شخصيتونو په ګډ مجلس کې نوموړي اصولنامې دمسلسلو تودو بحثونو په ترڅ کې وڅېړلې ، اوبيا داسلامي امارت مرکزي دارالافتاء هم دغه اصولنامې ترنظرتيري او تائيد کړي ،وروسته دوتلو علماء کرامو متخصصو څېړو يو هيئت وټاکل شو ترڅو دنوموړو اصولنامو دمادو شرعي فقهي جزئيات او ماخذونه ولټوي اوبيايې له خپلو مادو سره په لمن ليک کې ثبت کړي ، نوموړي هيئت خپله ورسپارله شوي دنده د درومياشتو په موده کې په ډيردقت اوغورسره سرته ورسوله.

درجب المرجب په ۲۶\ ۱۴۳۵ هق دهيواد دسترو علماؤ او شيوخو يوګډ مجلس تريوي اوني پوري داصولنامو په نوموړو مادو څېړنه او تحقيق وکړ اوبيا په اتفاق دارآؤ دغه اصولنامه تثبيت کړل شوه.

اوس دغه اصولنامه چې په پښتو او فارسي دواړو رسمي ژبو ترتيب شوي ؛ دوه برخې لري يوه يې اداري اوبله يې حقوقي ده لمړۍ هغه يې په دولس عنوانونو ،شپږو فصلونو ۲۷۸ مادو ۳۰ تبصرو او ۳ ضميمو مشتمله ده ، اودوهمه يې په ۱۲ عنوانونو.۲۶۰ مادو ۴۲ تبصرو مشتمله ده.

دغه اصولنامې دافغانستان داسلامي امارت دمشرتابه مقام ۱۴۳۵\۸\۱۵ دفرمان مطابق نافذالعمل کرزيدلي دي .او اوس دافغانستان داسلامي امارت دفرهنګي چارو دکميسيون دتاليف او ترجمي څانګې په کتابي بڼه خپره کړي.

دسيمينار روستۍ ورځ

دسيمينار دوهمه ورځ هم دلمړۍ په څېر داصولنامو دمادو په قرائت او وضاحت سره په ښه توګه پاي ته ورسيده اودسيمينار دريمه ورځ ماسپښين دري نيموبجو داصولنامو دمادو قرائت او تشريح پاى ته ورسيده ،وروسته يوه تن عالم درهنمايي وثائق څه مهمي برخې تشريح کړي ، اودسيمينار پاتې برخې ته چې کوم ځانګړي ميلمانه رابلل شوي ؤ هغه په خپل وخت سره يو په بل پسې راورسيدل په دغه ميلمنو کې درهبري شورا غړي ،دنظامي کميسيون مسئولين ، د ولاياتو واليان اومعاونين شامل وو ،دميلمنو له رارسيدوسره وروسته دتميز دعالي مقام محترمو مشرانو خپله په زړه پوري اختتاميه ويناوکړه ،چې دويناځيني مهم ټکي يې داسې ؤ : دامت ترټولو لويه سرمايه دوه ډلي دي چې يوه يې دعلماو اوبله دمجاهدينوده که له دغه دوو څخه يوه نه وي نو امت به بې سيکه اوبې روح وي. همدارازيې قضاة ته يادونه وکړه چې داسلامي امارت دلوړو او اساسي اهدافو څخه دشريعت تنفيذدى ،اوهمدغه زموږ داستشهادي ځوانانو اودسنگر دهغوملنگانو ارمان اوارزوده چې دخپل ژوند تروروستۍ سلګۍ پوري يې لټوي ،نوزموږ دغه اهدافو ته رسيدل دقضاء استحکام اوله يوبل سره دتعاون په صورت کې شوني دی ،اوبيايې دذکرشويو اصولنامو په عملي کولو ټينګار وکړ ،اودتطبيق په لاره کې يې امراء ته هم دخپل مسئوليت اوپه دې لاره کې دخپل ټول کوشش اوزيار ايستلو يادونه وکړه ،وروسته يې داصولنامو دځينو مادو يادونه وکړه چې دقضاء دکيفيت په اړه مهمې وي.

اوبيايې په افغانستان کې دقضاء په اړه ځيني څرګندوني وکړي ، اوزياته يې کړه چې سره له دې چې په افغانستان کې امنيتي وضعه خرابه ده خوپه هغه سيمو کې چې دخلګو رسيدګي دمجاهدينو ترمحاکموپوري کيږي ،هلته خلګ له ښارونو څخه ددې په ځاى چې په نامه ددولت محاکمو ته ورشي دهغه په ځاى دامارت محاکموته رجوع کوي ، اوداځکه چې دامارت قضاة علماء دي اودلته دخلقو حقوق خوندي کيږي ، اودخلګو دستونزو په حل کې زيار ايستل کيږي ،ددې برعکس په نامه ددولت قضاء چې

علمي کدرونه نه دي نو دستونزو دحل په ځای خلګوته لامشکلات جوړوي ، اودرشوت بازار يې خورا تود دی ، موږ ته دامارت ډيرو قاضيانو وويل:چې اوس خلک زموږ دابتدائيه محاکمو په فيصلو قناعت کوي اوهمدغه دشريعت فيصله ګڼي اومطمئن وي ورباندي .

وروسته دسيمينار يوې برخي ته مشر ميلمه حاجي ملاصاحب خپله وينا پيل کړه ، په لمړيوکې يې دليري پرتو سيمو څخه راغلو قاضيانو صاحبانو اومفتيانو کراموته ښه راغلی وويل اوبيايې په دي نامساعده حالاتوکې دهغوئ داوږدو اوستونزمنو سفرونو په کولو اوسيمينارته په خپل وخت سره دځان رارسولو شکريه اداء کړه ، اوبيايې دسيمينار دانعقاد اړتيا اوضرورت په اړه څرګندوني وکړي .داصولنامو په اړه يې دعلماء کرامو دوه کلني هڅې وستايلي ، اوقضاتو ته يې دعملي کولو توصيه وکړه ، اودواليانو او امراء څخه يې هم وغوښتل چې دقضايې ارګانونو سره پوره تعاون وکړي .

وروسته دغه دري ورځنی سيمينارونه دهيواد دنامتوشيخو په اختتاميه دعا سره پای ته ورسيدل .اودهيواد له بيلابيلو ولاياتو څخه دمحاکمو محترم قاضيان ،مفتيان ، شيوخ ، متخصصين ، اورابلل شوي ميلمانه يعني واليان اودکميسيونو نو مشران يوپه بل پسې رخصت شول.

والسلام .

داستغفار فایدې اوګټې

يو ځل امام احمد بن حنبل رحمه الله په سفر ووت. په لار کې يو مسجد ته د شپې تيرولو لپاره ورغی. خو د مسجد ساتونکي له لوري پرې نه ښودل شو چې په مسجد کې شپه تېره کړي، امام احمد بن حنبل ډېر کوښښ وکړ چې د مسجد ساتونکي راضي کړي ترڅو ده ته د شپې اجازه ورکړي خو هغه نه منله. اخير امام احمد بن حنبل د مسجد په دروازه کې پسته وغوړوله او ویده شو، د مسجد ساتونکي چې امام وليده راغی او د هغه په کشولو يې شروع وکړه ترڅو د مسجد له څنګ څخه يې لیرې کړي. په همدې حالت کې د يو ډوډۍ پخوونکي سترګې پرې ولګېدې چې د مسجد ساتونکی يې په کشولو د مسجد له څنګ څخه شړي.

ډوډۍ پخوونکي امام احمد بن حنبل، چې له شکل څخه هم د قدر او عزت سړی ښکارېده، ته په خپل کور کې د شپې تيرولو وړاندیز وکړ او امام رحمه الله ورسره کور ته لاړ، په کور کې يې د امام احمد بن حنبل ډېر اکرام او قدر وکړ، ډوډۍ پخوونکي اوړه لمدول او استغفار يې په ژبه جاري وه، يوه لحظه يې هم پرته له استغفار څخه نه تېروله، او امام رحمه الله ورته متوجه وه.

چې سهار شو نو امام احمدبن حنبل له ډوډۍ پخوونکي څخه، دهغه په کثرت سره د استغفار په هکله وپوښتل، نو موړي وويل چې استغفار يې خپل عادت ګرځولی او هيڅکله يې استغفار نه دی پرې ايښی. که څه هم امام احمد بن حنبل د استغفار په ګټو پوهيده او فضايل يې ورته معلوم وه خو له هغه څخه يې وپوښتل چې آيا د استغفار فايده او ګټه دې ليدلې که نه؟ ډوډۍ پخوونکي وويل: هو، په الله جل جلاله مې دې سوګند وي چې هره دعا مې کړې الله تعالی قبوله کړې ده، پرته له يوې دعا څخه.

امام احمد بن حنبل له ډوډۍ پخوونکي وپوښتل چې هغه کومه دعا ده چې تراوسه قبوله شوې نه ده؟، هغه وويل: دا چې امام احمد بن حنبل ووينم.

امام احمد وويل: زه احمد بن حنبل يم، په الله جل جلاله مې دې سوګند وي چې زه ستا لپاره په ځمکه راښکودل شوم ترڅو الله تعالی ستا دا آرزو هم پوره کړي

په څرخ کې څه تیریږي؛ خو له رسنیو پټ

وحیدالله لوګری

څرخ د لوګر له تاریخي او غرنیو ولسوالیو څخه یوه، چې مولانا یعقوب څرخي او وتلی صوفي شاعر بهاوالدین آغا پکې ډیره سپینه کړې، ددې سیمې جوړښت تر ډیره غرنی او غرونو، د انګورو او ګڼو میووو باغونو یې ښه بل ډول کړې او د طبیعت په یوه ښکلې منظره یې بدله کړې، د لوګر په ټول تاریخ کې څرخ تل د دیني علماوو، مدارسو او وتلو دیني څیرو ټاټوبی پاتې شوی دی چې د جهاد په وخت د څرخ مولوي صیب په ټول افغانستان کې شونې ده ډیر کم خلک ونه پیژني، نور خو یې ټولو ته هره کارنامه او سرښندنه ښه معلومه ده.

خو نن سبا د څرخ، طبیعي ښکلا او سکون هرڅه تري هره ورځ نښتو، بمباریو، عملیاتو او شپنیو عملیاتو اخیستې، په تیروو دوو کلونو کې څرخ د سختې ناامنۍ، وژنو او بمباریو ښکار شوی دی، عمده لامل یې ددې سیمې تاریخي شالید دی او شونې ده وطن دښمنه څیرې د هیوادله ډیرو تاریخي سیمو تیر تاریخ ته په کتو سره ویره ولري.

څرخ وروسته تر هغه تر ډیره د بهرنیانو له لوري په نښنه شو چې د دوی په لوګر کې یوازنی ستر پوځي مرکز شنګ د څرخ تر خولې پورې ورسید او ډیرې عیني ځمکې او دښتې یې هم پکې په وچ زور لاندې کړې، خو د څرخ وضعیت وروسته تر هغه ډیر خراب شو، چې په دې ولسوالۍ کې د اربکي په نوم لومړنۍ قراردادي ډلې چې د شمالي ولایتونو وې مقررې شوې او دوی د ولس په ځورونه پیل وکړ، خو باالاخره وسله وال مقاومت ددې لامل شو څو له څرخ څخه ددې خپل سرو ډلو ټغر ور ټول کړي.

خو له تیر کال را هیسې نیږدې هره شپه ددې ولسوالۍ په ډیرو سیمو کې بیا د امریکایي ځانګړو ځواکونو وحشتونه روان دي او هره ورځ له ملکي وګړو په ډیره بې رحمۍ ژوند اخلي، او همدا کار ددې لامل شوی دی څو ولسي تنفر نور هم ډیر شي او خلک یو ډول له هرڅه بیزاره شي، تیر کال ددې ولایت ډیری ښونه او کروندې همداسې په پټیو کې پاتې شوې او بزګر ترې ګټه وانه خیسته، ځکه په هر بڼ کې به بزګر او کاریګر په الوتکو په نښنه کیده.

سږکال بیا د افغانستان ځانګړو ځواکونو چې په دوی کې ډیری یې قومي عقدوي کسان او د شمالي ولایتونو دي دې شنې درې ته ورغلي دي او هره شپه ملکي وګړي وژني او د دوی کورونه پلټي بندیان کوي یې ځوروي یې او نیسي یې، خو دا لړۍ د سږني کال د هوا له ګرمیدو سره سم ډیره چټکه شوې، زه منم طالبان په څرخ کې ډیر دي، تر نورو ه لوګره شونې ده له ستراتیژیکه پلوه یې طالبانو ته ارزښت ډیر وي، لې دا په دې مانا نه ده چې افغان ځواکونه باید تل ملکي وګړي په نښنه کړي او یا ملکي وګړي ووژني.

تیره اونۍ زه په داسې یوه ناسته کې شاهد ووم چې له کابل پلاوی وروسته تر هغه ولاړ چې ځینو رسنیو په څرخ کې د ۴۰ ملکي وګړو د وژل کیدو اوټپي کیدو خبره وکړه، په

لومړي سر کې یادې خبرې تشې ډنډورې وبلل شوې، ځکه څرخ ته رسنۍ نه تلې او هرڅه به چې کېدل د والي د ویاند د خولې خبره به سمه وه خو کله چې رسنۍ ورغلې او هرڅه روښانه شول نو شوی وحشت په هیڅ ډول د منلو وړ نه و.



Mohammad Amin Kamalpuri (RFE/RL)

د څرخ یو وتلي مشر او دیني عالم په هغه ناسته چې په مرکز پل علم کې جوړه شوې وه له کابله راغلي تش په نوم پلاوي ته وویل:« درې تنو زموږ په کور کې دوه تنه شهیدان کړل، لومړی کس یې را و ویست او سپیشل فورس یوه سرتیري بل ته وویل: رقص مرده را دیدي . په همدې خبره یې و ویشت، بیا یې ویل خوب رقص نکرد بل یې و ویشت او یوازې یو ماشوم یې په دې پلمه چې نورو اجازه ورنکړه پرېښود«.

یو بل تن په یاده ناسته کې وویل:« اربکیان ملکي وګړي برمته کړي، لاسونه وروتړي تر مخ یې کړي څو ځانونه له طالبانو خلاص کړي، کله کله دوی ملکي وګړي شهیدان کړي بیا دا پلمه کوي چې ګواکې یاد کسان طالبانو په نښه کړي دي او طالبان د ملکي وګړو له کورونو د سنګر په توګه کار اخلي.

په دې ولسوالۍ کې نن سبا د خلکو وژنې، ځورونې او د سپیشل فورس عملیاتو یو وار بیا له خلکو سکون اخیستی دی، شوني ده یو وار بیا د دې ولسوالۍ خلک د تېر کال په څېر له هرڅه بې برخې شي او میوې یې په بڼونو کې د کارغانو خوراک شي یا خرابې شي، د خلکو اقتصاد او وضعیت یې په همدې بڼونو پورې تړلی دی، په دې ولسوالۍ کې د میوو په موسم کې دا ډول بې رحمه عملیات په هر حال د دې ښودنه کوي چې دلته ولس یو ډول مجبورېږي او اړ کېږي څو یا مړ شي یا موړ، زه چې څومره خبر یم ویل کېږي چې دې ولسوالۍ ته د اربکي سازي طرحه پلان شوې وه ولس یې مخالفت وکړ او اوس اوس ولس په زوره اړ ویستل کېږي څو اربکي سازي وکړي او په دې سره به یوازې دولت د بیرغ حاکمیت هلته ورشي نور چې هرڅه کېږي په دوی کار نشته.

یو وار بیا خبرداری ورکوم، چې دا ولسوالۍ دولت له قصده دې ډول نا امنیو ته ور ټېل وهي او هر ملکي وګړی دوی په یو نه یو نوم په نښه کوي څو په دې ولسوالۍ کې د اربکي سازي پروژه پلې شي یا په قرارداد دې ډول یو وار بیا د ټلوالې لنډغرو ته وسپارل شي

حقوق بشر حربه ای در دستان آمریکا...

حقـوق بشــر، آزادی، عــدالت و دموکراســی، شعار ها و اصطلاحات زیبـایی هسـتند کـه از دیربـاز مـورد توجـه قرارگرفتـه انـد. قـدرت هـای بـزرگ بـرای توجیه خواسته های سیاسـی خـویش از آن بسـیار بهره جسته اند. این بهره وری به همـین رویـه هـم اکنون نیز دوام دارد. آمریکا هم اینـک سـردمدار ایـن رویه به حساب می آید. آمریکا سراسر دنیـای بشـر را با بیرق دفاع از حقوق بشـر در نوردیـده اسـت. بـا این رویکرد، آمریکا هرساله وضعیت حقوق بشر را در سطح جهان مورد بررسـی قرار می دهد و فهرسـت بلندی از ناقضین حقوق بشر را منتشر می کند.

حال سـوال اساسـی اینسـت کـه جایگـاه خـود آمریکـا در حمایـت از حقـوق و آزادی هـای اساسـی بشری در کجای این معادله قرار دارد؟ آیا آمریکا خود قلبا به این واژه احترام می گذارد؟ برنامـه هـایش در راستای حفظ، تأمین و گسترش حقوق بشـر اسـت یا در جهت مخالف حرکت می کند؟ آیا حقـوق بشـر بـرای آمریکـا یـک رسـالت انسـانی اسـت یـا از ایـن کلمـات بعنـوان یـک حربـه بـرای سـرکوب مخالفـان و دست یابی به اهداف خاص، استفاده می کند؟

بررسـی تاریخچه سیاسـت هـای ایـالات متحـده آمریکا و جهان این تلقی را نشان میدهـد کـه آمریکـا خود یکـی از ناقضان حقـوق بشـر درسـطح جهـان و منطقه است. آمریکا اساسـا هیچگونـه اعتقـادی بـه ایـن اصـل انسـانی نـدارد، بلکـه صـرفا از آن بـرای رسیدن بـه خواسـته هـای پلیـد خـود اسـتفاده مـی کند.

بـاالاخص درفلسـطین، بشـر بـه صورت آشـکارا شکارگلوله های دیکتاتوران می شوند. از کشته ها پشته می سازند، آمریکا نه تنها بـا ایـن بشـر نگـون بخـت هـم صـدا نمـی شـود، کـه صـدای شـان را خـاموش مـی سـازد. آمریکـا نـه تنهـا ایـن فجـایع انسـانی را محکـوم نمـی کنـد کـه از دیکتـاتور هـا حمایت می کند، تجهیزات و ابزارهای سرکوب مـردم را در اختیار قدرت حاکمه قرار میدهد تا صدای مـردم را خفه کنند.

کارنامه ! سیزده ساله آمریکا در افغانستان این ادعا را ثابت می کند. آمریکا به عنوان دفاع از حقوق بشر زمینه ورود خود بـه افغانسـتان را فـراهم کـرد و این کشور را به اشغال خود درآورد

. مردم بازیافتند که این دستان همـان دسـتانی اند که حقـوق مـردم را خـود سـلب کـرده انـد. ولـی تأسف این جاست که این دسـتان هـر روز از آسـتین دیگر می برآینـد و رنـگ دیگـر مـی گیرنـد. وعـده هـا همچنان باقیست و نقض ها هم چنان دوامدار.

اما حقیقت خود به شـهامت شـهادت می دهند که آمریکا در افغانستان به دنبال حقوق خویش مـی گردند نه حقوق مردم. سوال این جاسـت کـه حقـوق آمریکا در افغانسـتان چه می کنند؟ مگر این مملکـت و این مردم کی حقوق آمریکا را ازایشـان گرفتـه انـد که آنان به دنبـال حقـوق از دسـت رفتـه اش در ایـن دیار هجوم آورده اند؟

ارمغان حضور نیروهای آمریکایی در افغانسـتان و عراق چیزی جز ویرانی و کشتار مردم نبـوده اسـت. بازداشت و شـکنجه افـراد غیـر نظـامی، آزار و اذیـت مـردم توسـط سـربازان نـاتو، بمـب بـاران منـاطق مسکونی و تجاوز به کودکـان، کـارویژه هـای مهمـی هسـتند که در کارنامه آمریکا در افغانسـتان بـه ثبـت رسـیده انـد. البتـه عـوارض سـلامتی ناشـی از تشعشعات رادیواکتیو در تسلیحات شیمیایی آمریکـا و بیماری های ناشـی از سلاح های میکروبی اش از

جمله آیتم های است که در آینده در این کارنامه گنجانیده خواهد شد. چه آنکه اینک از دید، دیدبانان حقوق بشر پنهان مانده است. بدین جهت که آمریکا در پشت شعارهای حقوق بشری اش پنهان شده است تا چهره اصلی اش برای مردم پنهان بماند و ماهیت واقعی اش آشکار نشود.

آمریکا با همین چهره و با همین شعارهای زیبای حقوق بشری می خواهد عرض زمین و طول زمان را بپیماید و به منافع خود در سطح جهان و منطقه برسد. بدین رهیافت، سکوت آمریکا را در قضیه فلسطین می توان تفسیر کرد. چه آنکه نقض حقوق بشر در این کشورها مساوی است با بقای حقوق آمریکا. حضور و استیلای آمریکا در این سرزمین خود از بزرگترین نقض حقوق بشر در دنیای امروزی است. نقض حقوق بشر از عوارض حضور آمریکا در این مرز و بوم است. از این رو این مردم هنگامی حقوق خویش را باز خواهند گرفت که دست آمریکا را از این ملک کوتاه کنند.

آزادی، حقوق بشر، دموکراسی، و دیگر مفاهیم مدرن امروزی از جمله ابزارهای عقلانی و فریبنده ای است که آمریکا و همپیمانان غربی اش، آن را در کشور های مختلف دنبال می کنند. این مفاهیم ابزارهای دلنوازی هستند که زندگی بشری به آن دلپذیر می شود. بدین رهیافت ملت هایی که سالها رنج و مشکلات را تحمل کرده اند به شدت خواهان و بدنبال همین اصول هستند. چه آنکه این اصول زمینه ی یک زندگی آرام و به دور از تنش را برای مردم نوید می دهد. و اینک این مردم، وقتی که گمشده ی خود را در پناه مفاهیمی چون حقوق بشر، دموکراسی، برابری و مانند آن می یابند بی درنگ به سوی آن هجوم می آورند، غافل ازآنکه اینها جز شعاری، بیش نیست. چه آنکه آمریکا و کشورهای غربی در پشت این شعار ها، اهداف و منافع خاص خود را دنبال می کنند و اساسا خود، هیچ گونه اعتقادی به این مفاهیم ندارند. در حقیقت طرز برخورد آمریکا و متحدین اش با مفاهیم حقوق بشر یک شیوه فریبنده و ریا کارانه است. چه آنکه خودشان نخستین پایمال کنندگان این مفاهیم هستند. (افغان ـ ت ل)

په دنده کې د بريا لپاره لس کلياني

په ژوند او ورځنيو چارو کې بريا خورا ارزښتمن توکی دی. هر سړی په خپل کار کې د بريا په لټه کې وي او خوښوي چې د يوه اغيزناك شخص په تو ګه په خپلو ملګرو او همکارانو ګران وي. خو په کاري ژوند کې بريا ته رسيدل يو ستونزمن کار دی.
همدې ارمان ته د رسيدو په موخه، لس وړانديزونه کښل شوي دي.

١ -ځان وپيژنه.
هغه وخت انسان کولای شي خپل ځان ښه درك کړي چې خپل د پياوړتيا او کمزورتيا ټکي وپيژني، کله مو چې دغه ټکي کشف کړل، بيا نو د پياوړو ځانګړتياوو د لا قوت دکمزوريو د له منځه وړلو لپاره هڅه وکړي. د ورځنيو ستونزو سره د مخ کيدو له لارې، کولای شو په ښه توګه چې خپل ځان وپيژنو، دا کار هغه وخت شونی دی چې نور د دغه ستونزو په رامنځ ته کولو کې تورن نکړو بلکه هڅه وکړو چې خپل هغه کړه وړه پيدا کړو چې د دغې ستونزې د رامنځ ته کيدو لامل شوی دی. د ښې پيژندنې لپاره اړينه ده چې خپل وپيژنو تر څه خپل ځان له وس نه پورته په زحمت نکړو، او هغه موخې وټارو چې زمونږ رسيدل ورته شوني وي.

٢ -د فکر کولو سره ځان عادت کړه.
فکر کول د انسان لپاره د ژوند په مختلفو حالاتو کې يوه ښه وسله ده. منظم فکر کول د زياتو کتابونو د مطالعې او د معلوماتو له لرلو نه ګټور دی، ځکه منظم فکر انسان ته د ستونزو او خنډونو منځ ته راتګ په ګوته کوي، او د هغوی د لرې کولو لپاره مناسبې لارې چارې پيداکوي.

٣ -په چارو کې نيك شګوم نيسه.
د پرمختګ، او د ستړيا د لرې کولو لپاره خوشحالي او هيله د انسان معشوقه ده. هر څوك چې غواړي پخپل کار کې بريالي و اوسي، نو بايد خپل کار په خوشحالی او د ښو پايلو د لاس ته راوړلو په هيله پيل کړو. انسان هغه وخت بريالی کيږي چې خپل ژوند ته خوش باوره و او سيjob-works.

حقوق زن کلمة حق یرید بها الباطل

زن نیمی از پیکرهٔ جامعهٔ انسانی است!!!

فهیم عمر

این شعاری است بلند آوازه و پر طمطراق، گاهی از گلوی پاکی بلند شده و ارادهٔ خیر دارد و گاهی مورد استفاده استعمار فریبکار قرار میگیرد و همان فرمودهٔ امیرالمؤمنین علی بن ابی طالب رضی الله عنه در موردش صدق میکند که فرموده بود: سخن حقی است ولی برای هدف باطلی استفاده میشود.

جامعهٔ افغانستان و ملت آن همیشه متهم به پامال نمودن حقوق زن است، این که این ادعا تا چه اندازه درست و تا چه اندازه نادرست است نیاز به تأمل دارد ولی جای تعجب اینست که افغان ها از سوی کسانی به توپ این اتهام بسته میشوند که آنها خود کمترین ارزش و اهمیتی به این قشر غفیر و تأثیر گذار قایل نیستند آنهایی که هدف شان آزادی زن نیست بلکه آزادی رسیدن به زن است...

آنهایی که زن را همچون کالا و ابزار تجارتی استفاده کرده و صرف از جمال و زیبایی اش استفاده میکنند و زمانیکه به سن کهولت رسید همچون جنسی که تاریخ انقضایش به سر رسیده باشد در گوشه یی پرتش کرده و هیچ ارجی به پایش نمیگذارند.

آیا آنعده از زنان ساده دل که صدای این دعوتگران بسوی باطل را طنین انداز میکنند و با آنان هم آواز میشوند تاحال به این نکتهٔ مهم و حساس دقت کرده اند؟

خواهرم و برادرم! زن در پهلوی حقوقی که خواستار آن هستند مسؤلیت هایی نیز به عهده دارد مسؤلیت خطیر و بس بزرگ...

وآیا امکان دارد کارگری قبل از اتمام و به سر رسانیدن مسؤلیتش حقش را بدست بیاورد؟؟؟

پس بهتر است اندکی به این نیز بیاندیشیم که زن مهمترین و بزرگترین وظیفه را در اجتماع به عهده دارد، در طول تاریخ پربار تاریخ اسلام زن پشتیبان مرد بوده است، زن سیاستمدار بوده است، زن فقیه ترین انسان بوده است، آیا جانفشانی های ام المؤمنین خدیجه رضی الله عنها برای پشتیبانی از دعوت مقدس اسلام گواه این مدعا نیست؟ وآیا اسلام آوردن ام المؤمنین خدیجه به عنوان اولین زن و اولین انسان جزو افتخارات زنان امت اسلامی شمرده نمی شود؟ آیا از خود گذری حضرت سمیه اولین شهید زن در راه حفظ اعتقادش گواه این مدعا نیست؟ آیا فقاهت و دانشمندی ام المؤمنین عایشهٔ صدیقه رضی الله عنها گواه مدعای ما نیست؟

بلی! اسلام در ابتداء وظیفهٔ زن را مشخص ساخت و با دادن مسؤلیت و جیبهٔ تربیت و پرورش بزرگمردان تاریخ به او ارج گذاشت اورا از شر قوانین و قواعد پوچ جاهلی که فقط زنده به گورش میکردند و فقط برای خواهشات نفسانی استعمالش میکردند رهایش ساخت و اورا جایگاه و

مرتبهٔ بلندی عطافرمود، اما اکنون همان عصر جاهلی دوباره برگشته است، همان قوانین جاهلی که زمانی از سوی مشرکین عرب اعمال میشد اکنون با اندکی تغییر از سوی غرب و غربیان برپا میشود، زن را زنده به گور نمی کنند اما عزت و عفتش را به حراج میگذارند اورا وسیله ای برای تبلیغات تجارتی خود ساخته اند و اورا از خط اصلیش که پرورش رهبران و تاریخ سازان است، منحرفش ساخته اند وآیا غرب جز این چیزی دیگری میخواهد؟

پس یگانه آیین و یگانه سنگری که مخلصانه از زن، وجایب و حقوقش دفاع میکند اسلام است و بس، نه آنهایی که خواستهٔ شان حق زن است و هدف شان کشیدن زن از کانون مستحکم خانواده به میان جامعهٔ پر از شر و شور و پر از گرگ های درنده....

د ژوند د ځینو او صافو نښې...

د لوړ همت نښه دا ده، چې د ځان لپاره یوازې په هغه څه راضي شي چې تر ټولو غوره وي.

د زهد نښه دا ده، چې له دنیا څخه مخ واړوي، په داسې حال کې چې دنیا تاته مخه کړې وي.

د پرهېزګارۍ نښه دا ده، چې له شبهاتو ځان وساتې.

د سخا او کرم نښه دا ده، چې په هغه څه کې هڅه وکړې، چې خلک یې په اړه نه غرېږي، نه په هغه څه کې، چې د هغوی ترمنځ معمول وي.

د لویوالي نښه دا ده، چې پر حقه لاره ثابت پاتې شې که څه هم چې ستړیاوې دې زیات شي.

د ریښتینولۍ نښه دا ده، چې خبره دې په ډاډمنتیا، وېره، طمع او نهیلۍ کې یو ډول وي.

د حکمت نښه دا ده، چې لومړی په خپله پر هغه څه عمل وکړې چې خلک ورته رابولې.

د نېکو اخلاقو نښه دا ده، چې په خپل کور کې تر ټولو خلکو ښایسته اخلاق ولرې.

د تقوی نښه دا ده، چې له خلکو سره ښې اړیکې ولرې.

د الله تعالی لپاره د غیرت نښه دا ده، چې له هغه چا سره ملګرتیا ونکړې، چې د هغه د حدودو پروانه کوي.

د تواضع نښه دا ده، چې د کامیابۍ پر مهال پر ځان ونه وياړې.

د استقامت نښه دا ده، چې اخلاقي فضیلتونه دې د شرایطو د بدلون پر وخت بدل نکړې.

د اخلاص نښه دا ده، چې د الله تعالی رضاء تر لاسه کول د خلکو په رضاء او خوښۍ غوره وبولې.

د صبر نښه دا ده، چې خلکو ته شکایتونه ونکړې.

د شکر نښه دا ده، چې د هغه چا په حق کې د نیمګړتیا له امله حیاء درشي چې له تا سره یې نېکي کړې.

له خپل بنده سره د الله تعالی د مهربانۍ نښه دا ده، چې سخت کارونه ورته اسانوي، په لږو یې راضي کوي، لږ شیان ورته نږدې کوي او له هغو دردونو یې ساتي چې د زغملو توان یې نه لري.

د حقیقت نښه دا ده، چې ساده او واضح وي او عالم او جاهل دواړه پرې وپوهېږي، خو که چېرته داسې ګونګ او مجهول وي چې هېڅوک پرې نه پوهېده، مګر دا چې سختي او رنځ وګالي، دا نو بیا حقیقت نه؛ بلکې هسې تش خیال او وهم دی.

د بصیرت نه لرلو نښه دا ده، چې انسان د خپل کور له تیارې په تنګ شي، په داسې حال کې چې د خپل زړه تیارې ته خوشحاله وي!

د بدبختۍ علامه او نښه دا ده، چې انسان د قبر خپګان ته اندېښمن وي؛ خو د خپل زړه خپګان ته هېڅ ارزښت نه ورکوي!

له چیریکي جګړې سره دجبهیي ګوزار انګازې !!

خبیراحمد م

په داسې حال کې چې مجاهدینو دتیرو ۱۴ کلونو په اوږدو کې داشغالګرواوددوی دګوډاګیانو زور اودبدبه تږدیره ځایه دچریکي جګړې او ورپورې تړلو جهادي تکتیکونو په مرسته اوبه اوالله تعالی له همدې لارې دنړیوال استعمار دکبراوغرور مانۍ نسکوره کړه، اوس دادی وینوچې مجاهدینو د چریکي مبارزي ترڅنګ دجبهیي جګړې مرحله هم پیل او دښمن ته یې له تیرو دریو اونیو راپه دې خوا درانه زیانونه اوتلفات وراړولي اوپراخي سیمي یې ورڅخه ترګوتو کړي .

د رواني (اګست) میاشتې په اوږدوکې دنورستان ولایت اتلو مجاهدینو دنورو فتوحاتو اوجهادي لاسته راوړنو ترڅنګ دیوې کامیابې اوتاریخي تهاجمي جګړې په لړ کې دنوموړې ولایت ترټولو مهمه ولسوالی (دوآب) فتح ، لسګونه ګوډاګیان یې پکې مړه اوژوبل ، ډیرئ عسکر یې ژوندي ونیول او هم یې په انبارونو انبارونو لوژستیکي زخیرې ، پریمانه جنګي مهمات ، ګڼ وسایط او ډول ډول سپکي اودرني وسلي ولجه کړي.

بله ستره کامیابي دزابل په ولایت کې وه ، چې دنوموړي ولایت قهرمانو مجاهدینو له ۹ ورځنیي مسلسلي جګړې ورسته دالله تعالی په خاص عنایت وکولای شول چې دزابل حساسه ولسوالی (نوبهار) اوشاوخوا سیمي دجبهیي برید په مټ فتح او په مرکز یې داسلامي امارت سپین سپیڅلی بیرغ ورپوې

که څه هم دښمن ددغې اوږدې جګړې په ترڅ کې زیاته هڅه وکړه چې دمجاهدینو دبریدونو مخه ونیسي اودجګړې په ورستی ورځ ، ګوډاګي رژیم خوله کندهار اوکابل څخه یولوی پوځي کتار چې په یونیم سل پوځي اولوژستیکي وسایطو اوپه سوونو عسکرو سمبال وو دجګړې لپاره راولیږه ، خودالله تعالی په نصرت په دې سربیره چې ددښمن مجهزه اومغروره فوځي قافله دړې وړې شو ه،بالاخره ولسوالی هم دمجاهدینو بشپړې سلطې ته ولویده.

دغه راز ، دهیواد په شمال کندوز ، فاریاب او لدې ورانديې په ختيځ ننګرهار دحصارک په ولسوالۍ کې هم مجاهدینو دتهاجمي بریدونو په توسط دکابل اداري دملي اردو ګڼ شمیر پوځي قطعات له خپل ټول قوت او تجهیزاتو سره شرمنده او بیرته پرشاتګ ته اړویستل اوهم یې پراخي سیمي ترینه ونیولي.

دګوډاګي اداري دفاریاب والي ، خو آن رسنیوته هم په ډاګه کړه چې نه یوازې دفاریاب دوه ولسوالۍ دطالبانو ترمستقیم تهدید او سلطي لاندې دي ، که رژیم توجه ونکړي ، نو ممکن دفاریاب اکثره سیمي او ولسوالۍ دطالبانو لاسته وغورځیږي.

دروانې میاشتې یوبل کفرلړزونکی خبر او اشغالګروته هیبتناکه پیښه داوه چې یوه افغان غازي دکابل هوايي ډګرته څیرمه د(بي بي مهرو) په سیمه کې دامریکایي پوځ دیوه مهم قوماندان (متیو لېګکېټ)په مرمی چاړه راکش کړه او حلال یې کړ،



چې الله تعالی نوموړي غازي ته دخلکو په مرسته نجات ورکړ او قوماندان یې دجهنم کندې ته ولیږه.

دچارو دماهرینو په اند ، ددو دریو اونیو په ترڅ کې دمجاهدینو دغه بیساري فتوحات چې هسې مشت نمونه خروار ورته اشاره وشوه ، داډه ښئي چې نور داشغالګرو بیړۍ ډوبه ، شیطاني جالونه او ستراتیژۍ یې دړې وړې ، دګوډاګیانو روحیه یې مهندمه او ترټولو ښکاره حقیقت اوزیری دا چې دچریکي جګړې ترڅنګ دجبهیي ګوزارونو زانګو هم رنګ او خوندراوړ او په لږ وخت کې ستړې بریاوې دمجاهدینو په لړو زیانونو لاسته راغلي.

دکابل ګوډاګي رژیم اوبادرانو به یې تل داویل چې مجاهدین یوازې دخرپ اوترپ جګړه پرمخ بیولی شي ، خو ورستیو فتوحاتو په اثبات ورسوله چې طالبان ددښمن داټکلونو برخلاف اوس جبهیي او چریکي جګړې دواړه رهبري کولای او له حماسو ډک سنګرونه یې په یووخت کې تاوده اوګرم ساتلی شي. (انشاالله تعالی)

په بل مکناټن (هارلډګریني)

د بل اکبرخان (رفیق الله) ګوزار دسپیني ماڼۍ برجونه ولړزول !

رحیمی

داګست په پنځمه نیټه دقرغې په پوځي اکاډمۍ کې دهغو مراسمو په غونډه کې چې د اجیرو افغاني جنرالانو په ګډون علاوه پکې امریکایي ،بریتانوي او جرمني جنرالانو او لوړ پوړي پوځي چارواکو هم ګډون لاره دیوه تل اوقهرمان نفوذي مجاهد "رفیق الله" تاریخ جوړونکي برید د سپیني ماڼۍ دکبر اوغرور ټول برجونه ولړزول!!

دپوځي اکاډمۍ د مراسمو په غونډه کې دامریکااوناټو جنرالانو دګډون موخه داوه ځوهغوئ خپلې هغه کرغېړنې اوغرضي مرستې افغان ولس سره دامریکا اوناټو د سترو ښېګڼو او احسان په نوم یادې اوتکرار کړې ،کومې یې چې په تیرو ۱۳کلو کې په وحشیانه جنګونو کې دافغانانو په وژلو، کړولو او زورولو لګولي.



هو! امریکا او ناټوپه تیرو ۱۳کلو کې افغانان په درواغجنو پلمو ،ډول ډول بهانواوحیلو تیرایستل، په دغو پوځي مراسمو کې دامریکا اوناټو چارواکان د همدي زهنیت په بدرګه شریک ول،څو دیوشمیر اجیرو عسکرو روزنه افغانانوته د خپلو غوره خدمتونو په بڼه وښیي، ګورئ! امریکا دافغانستان څومره خوشالي اوترقي غواړي ،دادی دومره شمیر افغاني عسکر یی ورزل!! خو جوته او ښکاره ده چې امریکا افغانستان ته د خپلو استعماري ګټو وټو پسې راغلي، نه دافغانانو دخوشالۍ اوهوساینې لپاره!بیا هم دخلکو په ستر ګو کې خاورې شیندي، چې ګواکې دوئ دافغانانو دخدمت په اراده راغلي!! که هر څوک دا انګیرنه لري ، چې امریکا دافغانستان ژغورلو په نیت راغلي! او غواړي افغانستان یو پرمختللی هېواد شي ، پخپلو پښویې ودروي، دداسي خلکو په شعور او پوهه ډېر افسوس ! ولې امریکا

غواړي افغانانو ته په ګوړه کې زهر راکړي، په غوړو ،چربو خبرو اوژمنو افغانان له جهاده کینوي ، دمجاهدینو دملاتړ سلنه ټیټه کړي .افغانستان دتل لپاره خپل غلام هېواد کړي.

روښانه ده چې افغانان په دغه ډول ټولو جعل کاریو او تزویرونو پوهیږي ، دامریکا له موخو او ارادو نه په پوره توګه خبردي ، دا وجه ده چې نن ټول ولس دجهاد او مقاومت لور ی نیولی او هم یې خپلې راتلونکې هېلې دازادۍ تر ننګیالیو او مجاهدینو پورې تړلې.

قرغي په پوځي اکاډمۍ کې جوړو مراسمو کې دامریکا یانو ټولې خوارۍ او هیلې هغه مهال په سیند لاهو شوې، چې کله ناڅاپه یوه زلمي افغان عسکر ! دهېواد په ازادۍ مین ځوان (رفیق الله) دچا د بد ن رګونو کې چې دازادۍ او خپلواکۍ وینه په غورځنګو وه او ورته د امریکا یانو وحشتونه اوظلمونه له زغم بیرون وو، په ډیره عالي روحیه یې دپوځي مراسمونه په ګټه دخپل ټوپک شپیلۍ دامریکا او ناټو ددرې ستو ریرز تورن جنرال (هارلډ ګریني) ځیګر ته ونیوه او د الله اکبر په ملکوتي غږ یې تالاردهغه په وینو رنګ کړ او ټول ناست خلک یې هک پک حیران کړل،په لومړي ډز یې هغه نیغ جنهم ته ور ولیږه، بیا یې دناټو ، امریکا او اجیرو افغاني جنرالانو برید وکړ ، چې له کبله یې یو امریکا یې ،یوجرمنی او یو افغان جنرال مرګوني ټپیان شول او نور په لسګونو خارجي او کورني پوځي چارواکې او عسکر یې مړه اوټپیان کړل، دخبرې سرچینو په استناد :وژل شوی درې ستوریز تورن جنرال (هارلډ ګیني) دویت نام جنګ نه وروسته دامریکا دپوځ هغه ترټولو جګ پوړی پوځي دی چې په دغه برید کې وژل شوی.

دافغان زلمي(رفیق الله) په دې برید دامریکا یې ښکېلاک مغرورو مغزو ته دروند ټکان ورکړ،آن دسپیني ماڼۍ کبرجن برجونه ولړزیدل، دنوموړي په برید جوته شوه چې افغانان دامریکا باداري نه مني ، امریکا اوناټو دا دعوه کوي، چې دوئ هر کال افغانستان کې ۱۲۰ملیارد ډالرمصرفوي او په تیرو دیارلس کلو کې یې ۵۳۷.۸ملیارد ډالر لګولي، څو افغانان د ځان کړې، افغانان تابع کړي ،خو امریکایانو به په دې حیرانوونکي برید ضرور درک کړي وي، که دوئ پنځه واره نور هم دومره درانه لګښتونه وکړي، بیا به هم افغانان د خپلې ازادۍ له مسیر وانه وړي اونه به دامریکا په وړاندې دجهاد اومقاومت نه لاس واخلي، امریکان دا مني چې افغانستان کې ددوئ ۲۱۵۲عسکر وژل شوي اونولس زره شپږ سوه یې ټپیان شوي ، خو دمجاهدینو منابع افغانستان کې دامریکایانو دمړو او ټپیانو شمېره ددینه څو واره لوړه ښیي ، که موږ دلته یوازې دامریکایانو دشمېرنې ارقام اومنو ، بیاهم دنړۍ دیو اځیني ابر قدرت په حیث دامریکا لپاره د شرم او خجالت ځای دی، چې افغانانو ورته په تشو لاسو ۲۱۵۲عسکر وژلي او نولس زره شپږ سوه یې ټپیان کړي، ددیارلس کلن اوږده جنګ وروسته امریکا ونه توانیده چې دمجاهدینو له بریدونو خپل یرغلګر ځواکونه خوندي اومصؤن کړي، په روان جنګ کې دامریکا اوناټو زرهاوو ټانګونه، شوبلې، جنګي هلیکوپترې او جنګې عراده جات هواته پورته شوي او له خاورو سره خاورې شوي، بیسونه او پوځي هډې یې ړنګې بنګې شوي، لکونه ټنه باروت یې کارول شوي او دنورو پوځي توکو زخیرې یې خالي شوي ، تردې پورې چې دناټو ځیني غړي هېوادونه چې افغانستان ته له امریکا سره مله راغلي وو، هغوئ افغانستان کې د نه جبرانیدونکو زیانونو اوتلفاتو په لیدو بیرته پښې سپکې کړي او خپلو هېوادونو ته لاړل او امریکا تنها پاته شوه.

بیا   امریکا ددې لپاره چې نړۍ ته په افغانستان کې د ځان د بري په اړه باور ورکړي، افغانستان کې دانتخاباتوپه نامه يې يوه بله رسوا ډرامه پیل کړه، کومه چې تردې مهاله بشپړه شوې نده او نده جوته چې نور وخت به څومره ونیسي.

دکتونکو په وینا: امریکا ۱۳کاله مسلسل دافغانستان لویشت لویشت زمکه په وینو رنګ کړه ، زرګونه انسانان يې پخپلو په وینو کې ورغړول،خو خپلې استعماري موخې ترلاسه نکړای شوې، نن ورځ وینو دافغانستان په سمه اوغر کې جهاد اومقاومت روان دی، دیته په پام په وروستیو کې دامریکا او ناټو د یرغلګرو قواوو قومندان "جوزف ډنفورډ" دیته اړشو او اعتراف يې وکړچې : "افغانستان کې دطالبانو دویم وار واک ته رسیدل شونې دې" دهغه لخوا اعتراف ددې دلیل دی چې امریکا او ناټو افغانستان کې له جدي ننګونو او ماتې سره مخامخ ده او دخپل هغه بد انجام په لور ګامونه اخلي ،له کوم سره چې وړاندې په ویت نام کې مخامخ وه.

په ۱۹۷۰ز کې دامریکا دهغه مهال ولسمشر " جانسن" پر ضد دویت نام جنګ له کبه قهرجن لاریونونه ووتل، په یوه ، یوه لاریون کې پنځوس، پنځوس لکه خلکو ګډون درلود ، هغوئ ولسمشر جانسن دیته اړ کړ چې د واک نه مخکې لاس په سرشي ، دهغه ځای "رچرډنکسن" ونیو ، "نکسن" د خپل ابلیسانه امریکایې فطرت ښودو لپاره په یوولس ورځو کې یواځې دویت نام په دوه ښارونو "هنویي" او "هایې فونګ" باندې یولک بمونه وغورځول،دهغو بمونو ټول ځواک په "هیروشیما" او "ناګاسا" باندې دتوغول شویو اتومي بمونونه پنځ واره زیات وو، ددې په غبرګون کې ټول ویت نام کې دامریکا پر ضد د غلچکیو بریدونو نه تم کیدونکې لړۍ پیل شوه، له کبله يې دامریکا ټول غرور خاورې



شو،دامریکا زیات شمیر پوځیان کمینونو وخوړل، دجګړې په طولاني کیدو دامریکا اقتصاد ته شدید ټکانونه ورسیدل ، ورځ تر ورځې په امریکا دپورونو سلنه ختله، دامریکا یط پوځیانو د تلفاتو کچه ترحیرانوونکي بریده ډیریده

،پرضد یې دامریکا دننه اوبیرون خلک پورته شول، دنکسن په خلاف لاریونونه ووتل، په ویت نام دامریکا ظالمانه بمباردونو غندنه و شوه، دویت نام ازادۍ جنګیالیو نورهم بریدونه نورهم دقیق کړل، دامریکا یې عسکرو روحیات پریوتل ارادې اوحوصلې یې ماتې شوې، بالاخر دامریکا پوځیان دقوماندانانو اوجنرالانو دحکم پرته په سایکلونو، ریړو اوپلې تیښتې ته اړشول، په زرهاوو عسکر ترې تم ورک شول ، ترننه هیچا دهغوئ سراغ ونه کړ، امریکایان یې په باب تراوسه علم نه لري ، چې په هغوئ څه شول ؟ قبرونه معلوم ندي، په لوی شمېر امریکایې پوځیانو دتیښتې په حال کې خپلې وسلې پلورلې، دخوراکې توکیو او پریښودو بدل کې یې دویت نام میرمنو ته وسلې کیښودې ، دویتنامیانو په هغوئ لاړې تف کولې، ورته یې کنځلې او بدې ردې کولې ، دامریکا عسکرو په ژړا وو ،انګولاوو زاریو اوفریادونو د هغوئ له مونګلو ځانونه ژغورل ، په دې سره دامریکا ټول غرور او دبدبه خاورې شوه، چې دیوه کمزوري هېواد خلکو پخپلو محدودو وسایلو دنړۍ لوی هېواد ته ماتې ورکړه، هغه یې له خپلې خاورې نه ویستلو ته اړکړ، دپوځي او قتصادي پلوه امریکا یان خوار او زلیل شول، کچکول په غاړو اروپا کې ګرځیدل، بریتانیې، فرانسې، استرلیا او اسرایل امریکا ته مالي مرستې ورکړې، هغوئ په پښو ودروله، خو امریکا بیاهم دخپل عادت اوخصلت نه لاس په سر نشوه، دامریکا دفطري شیطانت په تنه کې د ساه په بیا چلیدو یې ، جنګونه شروع کړل، دنړۍ په خپلواکو هېوادو یې منګلې خښې کړې، داسلامي هېوادو دننه یې دخپلواکۍ ساتونکي حکومتونه نسکور کړل، داسلامي هېوادو نو ولسمشران یې ووژل، دنړۍ دیواځیني ستر ځواک په کیدو ، په افغانستان یې یرغل راوړ، بغداد یې اشغال کړ، لیبیا یې قبضه کړه، په سوریه یې بمباردونه و کړل، په غزې یې داسرایل دملاتړ لپاره څو واره وحشیانه یرغلونه وکړل، په لکونو مسلمانان یې شهیدان اوټپیان کړل، په دې ټولو کې افغانستان دامریکا لپاره له ویت نام وروسته هغه ویاړلی هېوادشو چې امریکا پکې دهغسې شکست او خجالت سره مخامخ ده څنګه چې هلته مخا مخ وه ، افغانستان کې دامریکا ټول زور اوبه شو، داګست په پنځمه نیټه د پلازمینې په لویدیځ د قرغې په پوځي اکاډمۍ کې له ویت نام وروسته دامریکا یې د درې ستوریز تورن جنرال هارلډ ګیني مخامخ ویشتل او دهغه وژنه هغه ستر تاریخي افتخار اوویاړلې کارنامه ده چې ددې هېواد راتلونکي نسلونه به پرې تر پیړیو پیړیو پورې ویاړي،د غازي رفیق الله دا کارنامه دغازي اکبرخان په لاس دمیکناټن دوژنې تاریخ پیا تکرار کړاو ثابته یې ثابته کړه چې که افغان زلمو ځوانې څو سرو ځپو وړې خو ایل شوې نده، اوس هم دننګ یون په بدرګه دمیړانې قدمونه اخلي ، نن هم داکبرخان بچي ژوندي دي،هغوئ دمیکنټن دلمسو راغلو لښکروته دسر په کاسه کې اوبه ورکولی شي ،د افغان ویاړلي تاریخ پاڼې به ددغسې سرښندونکو فداکارو غازیانو حماسې او کانامې ستاینې او در اتلونکو نسلونو دقربانۍ اوفداکارۍ روڼ مشال وي او غلیم ته به دشرم نه ډک پیغور پاته وې... انشاء الله

لاتراوسه یې ماغزه په قرار ندي
چاچې ماسره وهلی سر په سنګ دی

د آزادۍ په معنا آزاد خلک پوهیږي

افغانانو ته د امریکا د مبارکۍ پیغام !!!

لیک : توریالی "همت"



ګرانو هیوادوالو د تیری آزادۍ او خپلواکی په رڼا کې د افغانستان روان اشغال باید د پای ټکی وموومی. دا یو لار لری او هغه د بهرنیو اشغالګرو او یرغلګرو په خلاف وسله وال جهاد ته ادامه ورکول دی. تر څو چې یو بهرنی هم زمونږ په ګران هیواد کی موجود وی، نو افغانستان ته آزاد او خپلواک هیواد ویل د عاقلانو کار نه دی آیا آزادی دیته وائي چې د هیواد ځمکه او فضا د بهرنیو په اختیار کی وي او د هیواد په ګوټ ګوټ په هر کور او هر دفتر کې د بهرنیانو واک او قومنده چلیږي. پخوا یو انګریز او بیا یو شوروی افغانستان اشغال کړی وؤ او اوس له ۴۸ څخه زیاتو متجاوزو هیوادو افغانستان اشغال کړی دی نو پخوانی ته اشغال ویل او دیته اشغال نه ویل به د کوم سالم عقل خاوند ومنی. اوس چې په ارګ کې د انګریزانو غلامان کومه آزادی نمانځی او د دغه جشن مصارف همدغه اشغالګر امریکایان او انګریزان، فرانسویان او نور تیری کوونکی هیوادونه ورکوی نو آیا آزادی دیته وایي چې اشغالګر د آزادی د ورځی د نمانځنی مصارف ورکړی او د هغوی د الوتکو او ټانکونو په واسطه واک ته ورسیږي، دا خو هسې په آزادی او خپلواکی پوری خندا او ملنډې وهل دی.

ګرانو هیوادوالو د آزادی په ورځ په هرات کې وحشي صلیبی اشغالګرو امریکایانو دوه کوچنی معصوم ماشومان په ډیری بې دردی سره په شهادت ورسول همدا شان امریکایان او نور اشغالګر هره ورځ بیګناه افغانان وژنی او څوک ورڅخه د پوښتنی حق هم نه لري. اصلا : – د هرات پیښه کې امریکا افغانانو ته یو پیغام ورکول غوښتل چې تاسو کومه آزادی جشن نیسۍ آیا د آزاد هیواد اتباعو ته به څوک په خیرنو او کړو سترګو کتلی شي که افغانستان آزاد وای نو بیا ولی چا امریکایان را ونه نیول دا خو لا څه چې غلامانو وربانډی تندی قدری هم تریو نه کړ او آن د هرات په پیښه یې امریکا یانو ته ګیله قدری هم ونکړه او په پوره بې شرمی ئې تش په نامه د آزادی ورځ ونمانځله. آزادی نمانځل د هغه چا حق دی چې نن د اشغالګرو خلاف جنګیږی او اشغال په خلاف او د حقیقی آزادی په هیله په تودو سنګرونو کې پراته دی. هغه

ځوک چې د اشغالګرو په خدمت کې دي په هیوادی کې د هغوی بقا غواړي. له افغانستان څخه د اشغالګرو په تیښته خفه کیږي هغوی په کومو سترګو آزادی نمانځي او ۲۸ د اسد جشن نیسي، که د ملی اردو عسکرو کې غیرت وای نو د رسم ګذشت په ورځ به یې د قرغی د ستر غازی او شهید رفیع الله په شان د خپل ټوپک شپیلۍ د اشغالګرو نندارچیانو او د هغوی د غلامانو په طرف را تاو کړی وای او د هغوی سینې به یې غلبیل غلبیل کړی وای د رسم ګذشت په وخت د جناب کرزی هغه عکس چې په مطبوعاتو کې خپور شو د آزادی ښه تمثیل کوی چې ټیټ سر پکی ولاړ وي یو شاعر څه ښه ویلي قدر زر زرګر شناسد قدر ګوهر، ګوهری د آزادی په معنی آزاد خلک پوهیږي د غلامانو د آزادی نمانځني سره څه کار دی. په ارګ کې د انګریزانو څخه زمونږ د نیکونو د آزادی اخستلو ورځ نمانځل د خجالت او شرم خبره ده پداسي حال کې چې په زرګونو اشغالګرو فوځیانو افغانستان اشغال کړی دی په زرګونو افغانان یې په بګرام، قندهار او ګوانتانامو کې بندیان کړی په سلګونو زره ولسي وګړی یې شهیدان کړی هره ورځ د اشغالګرو له فجایعو څخه خبریږو چې قلم یې په لیکلو او ژبه یې په ویلو شر میږي آیا د هغه چا لپاره د آزادی ورځ نمانځنه د شرم خبره نه ده چې خپل ځان او خپل کور په خارجیانو ساتی. آزادی نمانځل هغه چا سره ښائي چې اشغالګر ځواکونه ئې تیښتې ته اړ کړی دي. نه د هغه چا سره چې د افغانستان د اشغال لپاره یې بهرنیانو او اشغالګرو سره معامله کړی او کوي یې. یو شاعر وایې چې:

آزادی که خیراتی وی، یا د چا مهربانې وي افتخار به پرې ونه کا چې غیرت یې افغانی وي

افغان یو غیرتی قوم دی لکه څنګه یې چې نیکونو او پلرونو اشغالګر ځغلولی او له ګران هیواد څخه یې شړلی دي او هیواد کې آزاد کړی دی دوی هم غواړي چې موجود اشغالګر له افغانستان څخه د انګریزانو او شوریانو په شان د جهاد په ذریعه وځغلوی او ګران هیواد تری آزاد کړی نو کله چې بهرنی اشغالګر له افغانستان څخه وتښتیدل او هیواد تری آزاد شو او د کوم مقصد لپاره چې آزادیږی هغه تر لاسه شي نو بیا به آزادی لمانځل یو په سله خوند وکړی. د آزادی مقصد د صحیح اسلامی او شرعی نظام نافذول دی. د غلامانو له خوا د آزادی ورځی جشن نیول د شرم خبره ده او د مجاهدینو لپاره ستر ویاړ دی. روسان او انګریزان هغو غازی افغانانو ځغلولی د چا لمسیان او ځامن چې نن د قهریدلو زمریانو په شان په غرونو او رغونو کې د بهرنیانو ښکار پس ګرځی که واقعی مجاهد ته وویل شي، چې د اشرف غنی او عبدالله په ځای تا د افغانستان جمهور رئیس جوړوو. خو پدې شرط چې یو دلګۍ وسله وال امریکایان به په افغانستان کې پاتې وی. نو هغه مجاهد به ورته ووایي چې که یو بهرنۍ عسکر هم په افغانستان کې پاتې وي. زه به خپل وسله وال جهاد ته دوام ورکوم. او یا به ورته ووایي چې د دې بدل کې یو دلګۍ وسله وال مجاهدین به امریکا ته ولیږو په کومو شرائطو چې ستاسو عسکر دلته پاتې کیږي په هغو شرائطو به وسله وال مجاهدین هم هلته امریکا کې پاتې وی، لکه سفارتونه چې یو بل ملک کې یو بل سره متقابل برخورد کوی. له دې پرته واقعی مجاهد ریاست جمهوری د ځان لپاره غلامی او شرم خبره ګڼې واقعې مجاهد د ذلت له سل کاله ژوند څخه یوه لحظه د عزت ژوند او د عزت مرګ غوره او بهتر ګڼي د واقعي مجاهد دا شعار وی چې "یا د عزت ژوند او یا د عزت مرګ" واقعی مجاهد له دې پرته په بل څه نه قانع کیږي.

ګرانو هیواد والو! په نړیواله کچه داسي کوشش روان دی، چې واقعي آزادۍ په سمبولیکه آزادی بدله کړی لکه په ارګ کې د تیری ورځی جشن لکه څنګه چې ۴۸ اشغالګرو هیوادو افغانستان اشغال کړی او په ارګ کی د هغوی په

مصارفو د آزادی جشنونه کوی دا داسي مثال لری لکه د یو چا پلار چې غله له کوره څغلولي وي، څه وخت وروسته د هغه غلوڅامن بیا په هغه کور حمله وکړي او بیا دویم ځل کور ونیسي او د کور خاوند چیغې وهی او افتخار کوی چې زما پلار له خپله کوره د دغو غلو پلرونه شړلي او څغلولي دي. نو دغه موجود غله او نور کلیوال به وایې "چې په خپله میړه نه یې په دنیا کې نو به فخر په بابا کوی تر کومه" نو بیا به دغه غله ورته وایې که ته تکړه یې او د خپل پلار څوی یې نو مونږ وڅغلوه. ستا سرنوښت زمونږ په لاس کې دی ته اوس زمونږ اختیار کې یې د خپل پلار پشان غیرتي شه نو بیا به دی د پلار د آزادی افتخار په ځای وی او تاسره به یې بیا نمانځل خوند وکړي اوس خو درته د آزادې نمانځل د شرم خبره ده.

یوه ملګري خوب لیدلی وه، چې جنت ته تللی وی ګوری چې په جنت کې غازیان افغانان او په جهنم کې انګریزان وی د افغانانو او انګریزانو مناظره وی د افغانانو مشری وزیر اکبر خان کوی او انګریزانو مشری مکناټن کوی. مکناټن وزیر اکبر خان ته وایي چې افغانستان کې څه حال دی ستا واک چلیږی او که زما واک؟ وزیر اکبر خان ورته وایې هغه ورځ در یاده کړه چې ماته دغی کندی ته را ولیږلی او زما ملګرو په میوند کې ستا شل زره عسکر چې اوس تاسره جهنم کې دي در ولیږل، او زما نورو ملګرو په لغمان کې و ریښمین تنګی کې ستا یوولس زره نور عسکر دغی کندی ته درولیږل، چې اوس تاسي پکې یاست او زما ملګرو ستا د لښکر د ښځو داسي خیال وساته لکه د خپلو خویندو میندو او لوڼو خیال چې ساتي ډاکټر بریډن سره یې ټول انګریزانی ښځي په عزت سره ستاسي واک لاندي سیمي ته ولیږل.

مکناټن بیا وزیر اکبر خان ته وویل چې زما لمسیان خو بیا هلمند "میوند" وریښمن تنګي" کابل او نور افغانتسان ته راغلل آن تر دې چې زما د ملک شهزاده هري څو ځلي هلمند او میوند ته درغلی او د خپلو نیکونو لار یې تعقیب کړه ستا بچیان خو اوس زما د بچیانو باډي ګارډان دی، د دې ځواب راکړه: وزیر اکبر خان ورته وایې چې زما اصیل بچیان اوس هم ستا په بچیانو داسي کانې او داسي حملې کوی لکه ما او زما ملګرو چې په تاسي کولی ما ستا په وسله ستا کپری ستا په مرکز بالاحصار کې وشیندله او زما اصیل بچې رفیع الله ستاسي د جنرال کپری ستاسي مرکز قرغه کې وشیندله دا چې ځیني افغانان ستا د بچیانو غلامی کوي دا د هغو افغانانو بچیان دی کوم چې ستاسي غلامي یې هغه وخت کوله اصیل او مسلمان افغان به کله هم ستاسي غلامی ونکړي اې مکناټن ځان له بچیانو دی پوښتنه وکړه چې زما د اصیلو بچیانو د مرګونو فدایي حملو له ویري پمپرونه نه استعمالولی او هر وخت د خپل د مرګ انتظار نه باسی کوم بچیان چې ستاسي افغانستان کې وخت تیر کړی رښتیا وایه چې بیا له رواني ناروغیو نه کړیږي که نه؟ او خپل ځانونه وژني خو بیا افغانستان ته را تللو څخه ډډه کوی او آن چې زما د بچیانو له ویری په لندن کې خودکشي نه کوی؟ مکناټن وزیر اکبر خان ته وویل چې جناب ستا بچیان خو به له عمری خلافت څخه په کم څه نه راضي کیدل اوس ولې دوی د ابو جهل په نظام راضي شول؟ وزیر اکبر خان وویل زما اصیل بچیان اوس هم د عمری خلافت د راوستو لپاره قرباني ورکوی خو ځینو افغان نما بچیانو د عمري خلافت د رامنځته کولو په لاره کې ستاسو په مرسته او لاسوهنه خنډونه را منځته کړل خو لري نه ده چې دا خنډونه لري شي او دا کار الله تعالی ته څه سخت او ګران نه دی. والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د فحش کتنې بدې پايلې

د کیمبرج پوهنتون څیړنیز راپور

د اسلام مبین دین د فحشا کتلو، او خپرولو څخه منع فرمایلي ،اسلام د انسان ژوند وقایه او فحشا یې حرامه ګرځولي، ساینس، او څېړنو هم دا ثابته کړې چې فحشا کتنه، او کول د انساني روح، او جسم لپاره نهایت مضر او خطرناک دی. پر انټرنیټ د فحش ویب سایټونو په کروړونو کې د شمار له کبله د حیا سوځونکو فلمونو کتنه یوه خطرناک پړاو ته رسیدلې، د نورو ناوړه ناروغیو په څیر په دې فلمونو عادي کیدل هم خطرناکه ناروغي ده، د لندن کیمبرج پوهنتون په یوه تازه څیړنه کې جوته شوې چې په فحش کتنی ګڼ شمیر خطرناکي ناروغی رامینځته کیږي، د کیمبرج کالج دغو نویو څیړنو خطرناک واقعیتونه رابرسیره کړي.

۱ :په بربنډو فلمونو کتلو د (کولج ایفیکټ) نومي ذهني ناروغي لګیږي، حافظه لمینځه وړي، او خطرناک خو لا دا چې د اعصابو پلي هم له کاره باسي، چې له امله یې د انسان مهمي اعضاوي هم کار ورسره پریږدي، یا ضرر ګوري.

۲ :د فحش فلمونو کتونکی د دغو فلمونو داسي عادي شي لکه نشيي چې د نشي عاد کیږي، او د خواږه ژوند له خوند اخیستلو بې برخه وي، د فیصلي قوت یې په بې ساري توګه کم شي، پر ځان یې اعتماد زیانمن شي، او د مایوسي ښکار شي.

۳ :په دغه ناوړه عمل مبتلا اشخاص روزانه له څلورو تر پنځلسو ساعتونو پوري په دغه بیهوده مشغلا کي مبتلا وي.

۴ :عادي فحش لیدونکي پنځوس فیصده له واده کولو بیا تیښته کوي.

۵ :په دغه بدترین عادت مبتلا کس په ذهني ناروغیو سربیره جسماني نقصانات هم وړي.

۶ :د ډیر وخت لپاره فحش کتنه په طبیعت کي خوشکي، غصه او په جنسي رویي کي خرابي را مینځته کوي.

۷ :نولس فیصده فحش لیدونکي د سرعت انزال په ناروغی مبتلا وي، پنځویشت فیصده یې له جنسي تعلق سره دلچسپي نه لري، یودیرش فیصد کتونکي د منزل کیدو صلاحیت نه لري، او څلور دیرش فیصده خلګو کي د نامردی مسئلي څرګندي شویدی.

۸ :له فحش کتني، او له خپل ځان څخه له خوند اخیستو نه توبه کونکي شپیته فیصده خلګو کي جنسی صحت په څرګنده توګه ښه شوي دی.

۹ :په اوه شپیته فیصده توبه کونکو کي د عمومي طاقت، توانائي، او کار کردګی ګراپ پورته شویدی.

۱۰ :څیړنو دا هم جوته کړي چي فحش کتونکي د خصتینو له درد، د منیو له کمښت، له نه انتشار، او نه انزال غوندي سترو ستونځو سره هم مخامخ وي.

۱۱ :ځيرنكاران وايي : د پنځوس فيصده فحش كتونكو ماشومان معيوب ، يا كمزوري وي ، يا مورزادي په تلسيميا ، او نورو ورته بيماريو كي مبتلا زيږي ، او يا يي بالكل اولاد نه كيږي.

۱۲ :د فحش كتونكي تل د استمناء باليد غوندي بد مرض عاديان وي ، چي شريعت داسي كسان لعنتيان بللي ، او د محشر په سخته ورځ به يي د الله جل جلاله او د هغه د ټول مخلوق په مخ كي ګوتي اوميدواري (حمل داري) وي ، او ګواهي به ورباندي وايي.

اوس فيصله ستاسو په لاس كي ده ، كه غواړی فحش كتنه جاري وساتی ژوند برباد كړی ، يا بيا ځينی توبه كړی او خوشاله ژوند ولري.

د مسلم په يو روايت كی داسي راځی چي د ادم په اولادی باندی د زنا له آمله د وجود په هرې برخې باندې څه ناڅه برخه ليكل شوې ده ، نو دستر ګو زنا ليدل دی (نامحرمی ښځی ته) ، د غوږونو زنا اوريدل (دنامحرمی ښځی د اواز) ، د ژبی زنا خبری كول (دنامحرمی ښځی سره) ، د لاس زنا نيول (دنامحرمې ښځې) ، د پښو زنا تلل (دزنا لپاره) ، زړه بيا ددی غوښتنه او خواهش كوی او بيا ددی ټولو تصديق (منل) يا تكذيب (ردول) د تناسلی غړو لخوا كيږي.

مسئله واضحه ده ، فحش فلمونه ټول دي ، يواځي بربنډ فلمونه نه دي ، د هاليووډ ، باليووډ ، د پاكستانيانو ، چينايانو ، تركيانو ، او مصريانو او نورو فلمونه ، سريالونه ، ډرامي او ګيت مالي او نور د دا ډول بصري ، سمعي ، او يا د ناولونو لوستنه د ستر ګو ، غوږونو او خولې له زنا پرته بل څه نه دي ، طبيعي ده چې زړه هم د دغو فلمونو څخه په تاثر كې غواړي چې همدا كړه وړه خپله انسان عملي كړي ، چي د فرد ، او ټولني خلاف خورا خطرناک عواقب ، ابعاد ، او نتايج لري.

تاسوته بايد څر ګنده وی چی د هر حرام عمل ژرترژره پريښودل ضرور او واجب دي ، او د ګناه نه وروسته بيا ګناه كول د زړه د توروالي سبب ګرځي ، لكه چې په لاندې حديث كې نبي عليه السلام فرمايي:

كله چي يو بنده د ګناه يو عمل سرته رسوی نو ددغه بنده په زړه باندې ددغه عمل له امله يو تور ټكی لګول كيږي او كله چی دا بنده دغه عمل ترک كړی او دزړه په صدق سره توبه وباسی نو زړه يی بيرته پاک شی او كه چيرته بيا دوهم ځل لپاره همدغه دګناه عمل سرته ورسوي نو بيا په دغه توروالي كی اضافه والي راځي ان تر دې چی ټول زړه وربانـدی تورشي او دا هماغـه زنګ دی چی الله تعالی ورڅخه په قرآن كی يادونه كړې ده چې : بلكې دهغوی په زړونو باندی زنګ لګيدلی دی او دا دهغوی دخپلو كړو له امله دی.   سنن ترمذی حديث نمبر (۳۳۳۴) سنن ابن ماجه حديث نمبر (۴۲۴۴).

او داخبره هم په ياد لرئ چی هر كله يو مسلمان د الله تعالی درضا دلاسته راوړلو لپاره يو ناوړه او بد عمل ترک كړي او لاس تري واخلي ، الله تعالی ورته ضرور د هغی بدل (انعامات) وركوي. نو ځكه څومره ژر چې كيدای شی ددې عمل څخه دزړه له كومی توبه وباسي او دا ډول حرام كارونه او اعمال ترک كړي ، او خپل ځان په داسی كارونو او اعمالو كی مصروف كړی چی ستاسی ددنيا او آخرت د كاميابۍ سبب وګرځي زيات وخت دقرآن پاک تلاوت كوي او ورسره دنبی كريم صلی الله عليه وسلم ، د امهات المومنين او دصحابه كرامو رضی الله تعالی عنهم د سيرت مطالعه كوی. او د مفيدو تقريرونو او درسونو اوريدلوته مخه كړي ترڅو د الله تعالی ياد او دآخرت ويره ستاسو په زړونو كې پيدا كړي او په دی ډول تاسی له حرامو څخه ځان ليری وساتي.

الله تعالی دې موږ او تاسو ټولوته په سمه لاره د تللو توفيق راكړي. آمين والله اعلم

شهید زوی

دغزې دمیړنومسلمانانو دتاریخي استقامت اودحماس دسترو قربانیوو په مقابل کې بالآخره صهیونستي دولت په ګونډوشو ؛دحال په ژبه یې خپله ماتې ومنله اوپه ۵۱ ورځني اوږد اودوحشت نه ډک یرغل کې دڅه لاسته راوړنې پرته دستر شکست سره یوځای شرموونکي شاتګ ته اړ شو.

دمصر په منځګړیتوب دحماس اواسرائیلوترمنځ درواني اګست میاشتې په ۲۶مې نېټې داوربندتړون رامنځته شو ؛ پرغزې داسرائیلو له لورې د ۷ اوونیوو راهیسې دوحشي هوایي اوځمکنو حملواوپر اسرائیلو دحماس دراکټي بریدونولړۍ په ښکاره په رسمي ډول پای ته ورسېده ؛ په رمله کې دفلسطین ولسمشر محمود عباس په تلویزون داتړون په رسمي ډول اعلان او ولس ته یې ددې په رامنځته کېدلو او دفلسطیني قیادت دشرطونو په منل کېدو مبارکي ورکړه ؛ دمحمود عباس ددې اعلان نه پس دواړو اړخونوحماس اواسرائیلوومنله چې ترمنځ یې داوربندتړون لاسلیک شوی.

اسرائیل چې پر کوچنۍ غزې یې یرغل ډېراوږد شواوپدې اوږد یرغل کې دسترو وژنو او ورانیو درامنځته کولوسره سره هم ناهیلي اوناکام له غزې شاتګ ته اړ اوپه نړۍ کې سخت بدنام شول نوغوښتل یې چې څوک ورته داوړو پوزه کېږدي اوپه داسې طریقه له جنګ نه خلاص شي چې په ښکاره یې څوک په ستر شکست تعبیر نکړي ؛ مصردې خدمت ته په ډېرې خوښۍ حاضرشواودحماس سره داوربند په نوم یې اسرائیل ددې ستړي اواعصاب شکن جنګ نه خلاص کړل ؛ دابایډ ومنوچې داسرائیلو اوحماس عسکري ځواک هیڅکله هم نشي پرتله کېدای نوځکه دجنګ تم کېدل باید په اوربند تعبیر نشي خوداچې ددوسایلو په لحاظ دهمدې کمزوري حماس په مقابل کې اسرائیلوماتې وخوړه او دحماس سره خبروکولو ته اړ شول نوداسرائیلو دوحشت ودرېدو نه ځکه په اوربند تعبیروشو.

خو دحیرانتیا خبره داده چې داسلامي هېوادونو په شمول دټولې نړۍ رسنۍ داسرائیلو دوحشت موقت توقف هم په اوربند تعبیراوه حال داچې اوربند ددوه برابروځواکونوترمنځ کېږي ؛ ظالم اوجابرزبرځواک که په کمزوري اومظلوم دظلم لړۍ دڅه وخت لپاره ودروي هیڅکله هم اوربند نشي ګڼل کېدای ؛ موقت توقف هم دخاص پلان له مخې دځانګړو اهدافو لپاره کېږي او دادجنګ حصه وي ځکه خو یې اسرائیل اعلانوي اوچې خوښه یې شي پخپله یې ماتوي ؛ داګست په ړومبۍ نېټه چې په ړومبي ځل اوربند اعلان شونو ایله ۳ساعتونه تېرشوي وو چې وحشي اسرائیلوبېرته دمظلومو فلسطینیانوقتل عام پیل کړاوپه څوساعتونو کې یې د ۱۲۰ نه زیات مسلمانان شهیدان کړل.

دجون له ۸ مې نېټې راهیسې پر غزې دصهیونستي دولت له لورې داوسني اوربندتر رامنځته کېدو په ترسره شویوحملو کې د ۵۷۰ کوچنیانو اوکابو ۳ سوه مېرمنوپه شمول ۲زره او ۱۳۰ مسلمانان شهیدان او ۱۱ زره ټپیان شول چې دملګروملتونو په وینا په وژل شویو کې ۸۰ سلنه دولسي وګړو ده ؛ دشهیدانو او ټپیانو داشمېره ډېره ستره شمېره ده چې اسرائیل به پرې طبعاً ډېرخوشاله وي خوداچې په غزې کې دډېرستروحشت درامنځته کولوله امله په نړۍ کې دلویې بدنامۍ پرته بې له کومې سترې لاسته راوړنې اونتیجې اخستلو مغروراسرائیل دجنګ بندولو اود اوربندپه تړون کې دحماس دزیاتره غوښتنو منلوته اړ شو نوداد فلسطیني مسلمانانوستره فتحه ګڼل کېږي ځکه خوپه غزې اودفلسطین په نورو ښارونو کې مسلمانان واټونو ته راووتل اودفتحې جشن یې ولمانځلو .

نړیوالورسنیوو پدې اړه په خپلو خپروشویو راپورونو کې ویلي دي چې په اسرائیلو کې سیاسي کړۍ اورسنۍ هم داتړون داسرائیلو شکست اود نتن یاهو ددولت ماتې ګڼلې نوځکه دیهودي متعصبو ډلو ،اسرائیلي رسنیوواودحماس دراکټي بریدونوله امله غزې ته دځېرمه بې ځایه شویو یهودانو له لورې په خپل لومړي وزیر نتن یاهو سخت انتقادونه روان دي .

دقدرت شان ته ګوره ! داځل چې دغزې مظلومو مسلمانانو په ځمکې کې څوک خواخوږی او حامي نه درلودلو په اسماني مرستې یې باورډېرقوي وو؛ عزایم یې عالي اوحوصله یې ډېره لوړه وه خدای تعالی یې هم ستره فتحه په نصیب کړه ؛ دغزې ټولواوسېدونکو داویل چې که دغزې ټول ولس له منځه ځي ولاړ دې شي خوترڅویې چې غوښتنې نه وي منل شوي اوربند ته به تیار نشي ؛ دجګړې په جریان کې په غزې کې دټولنې دسرکرده افرادو له لورې یوه اعلامیه هم خپره شوه چې پکې راغلي وو : موږ دغزې استاذان ، دټولنې مشران اوفعال اشخاص په غزې کې دانساني قتل عام ګواهان یو اوترهغې اوربند ردووترڅوچې دغزې ۱۸ لکه اوسېدونکوته قانوني آزادي نه وي ورکړل شوې اوله تېرو ۶۷ کلونو اوخصوصاً دتېرو ۷ کلونوراهیسې چې بشري ټول غصب شوي حقوق بېرته نه وي ورکړل شوي اوربندراته دقبول وړندی؛ دغزې دټولو مسلمانانو همدې غوښتنې ته پام سره چې کله دتېرې میاشتې په ۱۷مې نېټې دمصرپه منځګړیتوب دحماس اواسرائیلو ترمنځ دموقت اوربندخبره رامخې ته شوه نو دلسو کلونواوږد اوربند دمنلوپاره حماس ۱۰ شرطونه وړاندې کړي وو؛ حماس غوښتي ووچې سمدستي باید دغزې له سرحدونو داسرائیلو ټانکونه لرې اوغزه له اسرائیلي فوځونو نه تخلیه شي ؛ دغزې محاصرې ته باید دپای ټکی کېښودل شي ؛ اسرائیلي زندانونو کې دزنداني شویوټولو فلسطینیانو ازادي دې حتمي شي ؛ په غزې کې دې دملګروملتونوترمراقبت لاندې دنړیوال هوایې ډګراوپر سمندربندرجوړېدو ته اجازه ورکړل شي ؛فلسطیني ګب نیونکوته دې اسرائیل تر۱۰ کیلومتروپورې په سمندر کې د کب نیولواجازه ورکړي ؛ دمصرسره په شریک رفح سرحد اوداسرائیلوپه ټولوپولودې دملګروملتونو فوځ واچول شي ؛ په مسجد اقصی کې له استثنی پرته بایدټولوفلسطیني مسلمانانو ته دعبادت کولواجازه ورکړل شي ؛ په غزې کې به صنعتي پارک جوړېږي ؛ دغزې په بیا ودانولو کې به اسرائیل نه خنډ کېږي ؛غزې ته به دتعمیراتي موادوپه انتقال بندیز نه وي اودغزې په داخلي سیاست کې به اسرئیلو ته د مداخلې اجازه نه ورکول کېږي .

صهیونستي دولت له څوپرته نورټول شرطونه ردکړي وو خواوس یې په شوي تړون کې زیاتره منلي دي ؛ دهوایې ډګراو سمندري بندرجوړېدلو اودبندیانو دآزادۍ په سربه په راتلونکې میاشت کې حبره کېږي ؛ نورټول شرطونه اسرائیلو منلي دي ځکه خواسرئیلي رسنۍ اوڅېړونکي په یوه خوله وایي چې په ۵۱ ورځنۍ جنګ کې سره دستروځاني اومالي تاوانونوپه خپلو شرطونودحماس کلک ودرېدل اومنلوته یې داسرائیلو اړکېدل دحماس دمقاومت فتح ده ؛ اوداچې په اسرائیلو دحماس له لورې لږتر لږه ۴زره توغندي وغورځول شول چې له امله یې ګڼ یهودیان دخپلو کورونوپرېښودلوته اړشول اوددې ترڅنګ حماس د۶۷

اسرائيلي فوځيانو په وژلو هم وتوانېدل خوبياهم اسرائيلو دحماس شرطونه په خپلې خوښې ومنل نودا داسرائيلوله لورې دخپلې ماتې اوناکامۍ ښکاره اعتراف دی،،

داسرائيلي دولتي تلويزون نامتو څېړونکي اوجورنالست روني دانيال داوربند پرمهال دحماس له لورې دشرطونوپه وړاندې کولوتعجب ښکاره کړاو ويې ويل چې دټول منځني ختيځ دځواکمن فوځ په مقابل کې تر۵۰ ورځوپورې دجنګېدلو نه پس په خپلوشرطونودحماس کلک ودرېدلو داثابته کړه چې حماس دټول منځني ختيځ ترټولو ځواکمنه وسلواله ډله ده ؛ نوموړي غزې ته دڅېړمه مېشتويهوديانودخپلوکورونو نه په بې ځايه کېدوجورخفګان ښکاره کړ او ويې ويل چې له بده مرغه چې داځل حماس پدې وتوانېدچې يهودانو ته دخپلو کورونونه دبې ځايه کېدلو ، ناڅاپي مرګ اوله خطرونو دډک ژوند کرغېړنه څېره وروښايې .

هو! له شک پرته چې په ۵۱ ورځني اوږد جنګ کې چې داسرائيلو خونړ و حملوغزه په کنډوالې بدله ، د ۲ زرونه زيات تنان يې شهيدان اوله ۱۰ زرونه زيات يې ټپيا ن کړل دادغزې دبې وسو اومظلومو مسلمانانو لپاره خوراډېر سترځاني اومالي تاوان دی خو پوښتنه داده چې آيا خپل دښمن ته ددې سترمالي اوځاني تاوان دوراړولو تر څنګ اسرائيلو دجنګ نه څه ترلاسه هم کړل ؟ نه ! هيڅ هم نه !

دسترو او وحشي هوايې اوځمکنيوحملوله امله په لسګونوزره مسلمانان ټپيان اوشهيدان شول اوټوله غزه په کنډوالې بدله شوه خودمرګ له وېرې له غزې يومسلمان هم ونه وت ؛په کوچنۍ غزې دادومره ستريرغل داځل پدې هيله وچې له اوږدې مودې راهيسې محاصره شوې اوداسلامي اوکفري ټولې نړۍ دحمايت اومرستې نه بې برخې غزه به ژرسرټيټ اوداسرائيلوغوښتنې ومني ؛اسرائيلو دلويې ورانۍ په رامنځته کولو اودزياتو کوچنيانو اومېرمنو دوژلو له لارې دغزې دمسلمانانوداعصابو مفلوجول غوښتل خوسره له دې چې حمله ډېره درنده اواوږده وه ؛ ورانۍ يې ډېرې اووژنې پکې په لوړه کچه رامنځته شوې اواسلامي نړۍ داځل دغزې دمسلمانانو سره ډېره ستره جفاوکړه خو دغزې مسلمانانو نه سرونه ټيټ کړل ؛نه ناهيلي شول ؛ نه يې همت بايلود ؛ نه يې حوصلې ماتې شوې ؛ نه يې دجهاد اوسپيڅلي مقاومت نه لاس واخست ؛ نه يې نړۍ ته ژړا ،فرياد اوخواستونه وکړل ؛ ولس په خپل قيادت بې باوره نه شواو قيادت دولس نه ناهيلی نه شو؛ اونه هم قيادت پرولس ياولس پر قيادت انتقادونه وکړل اوترټولو مهمه داچې دخوراسترو ځاني اومالي زيانونو باوجود داځل قيادت اوولس دواړه په خپلو غوښتنو کلک ودرېدل او اسرائيل دحماس ملکي اونظامي قيادت په کمزوري کولو کې ډېرپاتې راغلل ځکه چې دمدافعت اومقاومت نظريه په فلسطيني ولس اوقيادت کې ډېره قوی شويده چې دنړۍ يو طاقت يې هم له منځه نشي وړای نوځکه يې په يواځې ځان داسرائيلو پرضد په خورا لوړهمت دخپلې بقاجنګ وکړاو اسرائيل يې دخپلو غوښتنومنلو ته اړ کړل .

اسرائيلو دخپلو ۶۷ فوځيانو وژل کېدل منلي دي خوحماس وايې چې د۱۵۰ نه زيات اسرائيلي فوځيان يې وژلي اود ۴سوو نه زيات يې ټپيان کړيدي ؛په داسې وخت کې چې حماس داسلامي نړۍ دهرډول حمايت نه بې برخې دی اسرائيلوفکر کاوه چې داځل به دحماس بېخي نوغی وروباسي په وهم اوګومان کې يې هم نه وه چې حماس به دومره زيات ځاني تلفات ورواړولی شي؛خوبې له شکه چې فاتح حق اوصداقت دی او فتحه دهغه چاپه برخه کېږي چې دقدرت له تائيد نه برخمن او احساس او عزم يې ماتېدونکی اوتسخيرېدونک نه وي ؛ پرغزې داسرائيلودحملوچې کابو مياشت په پوره کېدو وه اسرائيلي څېړونکي ،،يوري آينوري ،، ليکلي وو چې :موږ بايدومنو چې زموږدښمن په لوړمورال اونوي طرز زموږپرضد جنګېږي ؛ په معجزاتي توګه يې ملکي اوفوځي قيادت ښه فعال دی ؛ دېرلپسې سترو ځاني اومالي تلفاتو سره سره هم دحماس ترشا خپل ولس ولاړ دی اودحيرانتيا وړدا

ده چې دنړۍ دستراتومي ځواک سره دځلورو اوونیوو مسلسل جنګ ددوئ حوصلې ماتې نکړې اونه یې په عزم اواستقلال کې کموالی راغلواونه هم چرته وتښتېدل .

خوبرعکس دحماس راکټې بریدونوکې دمرګ له وېرې غزې ته څېرمه ټول اوسېدونکي یهودان له خپلو کورونونه وتښتېدل ؛ داسرائیلو سیاحت دتباهۍ سره مخامخ شو ؛ اقتصاد ته یې په ملیاردونو تاوان واوښت ؛ دولت دخپل ولس اورسنیوو دسختو انتقادونوسره مخامخ شو اوپه نړۍ کې اسرائیل بې حده زیات بدنام شول ؛غزه فاتحه ده اواسرائیل دتاریخي ماتې سره مخامخ شول نودغزې اوسېدونکي حق لري چې په غزې کې دکامیابۍ جشن ولمانځي .

داځل په غزه کې دځاني تاوانونو ترڅنګ مسلمانانوته ډېرسترمالي تاوانونه هم اوړېدلي دي ؛دبې طرفو ادارو له لورې دترسره شویو سروېګانو له مخې غزې ته لږترلږه ۵ ملیارده ډالرتاوان رسېدلی دی ؛ اسرائیلي ځواکونوپه لویه پیمانه دغزې دودانیو دورانولوهڅې وکړې ترڅوډېرزیات فلسطینیان دخپلو سیمو پرېښودلو ته اړ اوپدې سیمو کې دحماس قوت په کلي توګه له منځه ولاړ شي ؛ ۱۰ زره کورونه په کلي توګه له منځه تللي دي اود۳۰ زرونه زیاتو ته تاوانونه رسېدلي دي ؛ دغزې دښار۲۵ سلنه ودانئ دخاوروسره خاورې شویدي او۷۰ سلنه ته یې دومره تاوانونه اوښتي دي چې له اوسېدو وړ ندي اودشجاعیه خو۶۰ سلنه ودانئ دخاورو سره خاورې دي ؛ دغزې ۵ سوه زره اوسېدونکي دخپلو کورونوپرېښودلوته اړشوي وو؛ کله چې دوئ خپلو کورونوته راستانه شول نوټولو دخپلو کورونو په ځای د خاورو ډېري ولیدل ؛دغزې دبرق یواځنی ستر سټېشن هم اسرائیلو تباه کړی اوداوبورسولو نظام ته یې هم ډېرتاوان رسېدلی دی ؛ اسرائیلو۱۱۰ جوماتونه ، ۸۳ ښوونځي او۲۷ روغتونونه هم په نښه کړي اوله منځه وړیدي ؛یواځې الشفا روغتون اسرائیلي جنګي طیارو ۵ ځلې بمبار کړ .

اسرائیلو دا ټول ظلمونه وکړل خو دغزې داوسېدونکواوپه ځانګړي توګه دحماس دازادۍ احساس ته په ماتې ورکولو کې ناکام شول ؛ دوسایلوپه لحاظ دحماس فوځي ځواک داسرائیلو دفوځي ځواک سره بیخي نشي پرتله کېدای ؛ دحماس ددواړو فوځي ډلو الاقصی اوقسام دفوځیانو شمېر د ۷ زرونه تر ۸ زروپورې دی چې دجنګ په ورځو کې یې د۱۰ نه تر ۱۲ زرو پورې نسبتاً کم روزل شوي ځوانان مرسته کوي ؛ حماس سمندري اوهوایي ځواک نه لري ؛ داوړې نه دټانک اوطیارې ویشتونکي او دځمکې نه ځمکې ته دلنډ اومنځني واټن ویشتونکي توغندي لري ؛ اسرائیل چې اتومي ځواک دی په همدې عادي وسلو ورسره حماس جنګېږي ؛ حماس په خپلو دې عادي توغندو داسرائیلو مختلف ښارونه په پرله پسې توګه په نښه کړل چې داسرائیلو دتوغندوضدپټریاټ نومي نظام ایله یو څو توغندي په هواکې خنساکړیدي ؛دپټریاټ ترڅنګ اسرائیلو په هوا کې دحماس دتوغندودخنساکولو په موخه په ملي هوایي دفاع کې د (Iron Dom) په نوم دفاعي سسټم هم داخل کړ خودحماس توغندو ددوئ دانظام هم سخت ناکام کړ نو ځکه دحماس دتوغندودمرکزونو دتباه کولوپه موخه یې فوځ ځمکنۍ حملې تېزې کړې چې پکې دحماس داتلوجنګیالوپه وړاندې دسختې ماتې سره مخامخ شول ؛ اسرائیل پرغزې دحملودجواز لپاره همداتوغندي پلمه کړي او داتبلیغات کوي چې حماس داسې هلاکونکي توغندي اومایینونه لري چې داسرئیلووجود ته خطردی ؛ که څه هم داداسې دروغ دي لکه پرعراق دیرغل دجوازلپاره چې امریکا جوړ کړي وو ؛ حماس هیڅکله داسې نظامي ځواک ندی چې داسرائیلو وجود ته خطر جوړ شي خولږترلږه پدې وتوانېدچې داسرائیلو دحملوپه درېمه شپه داسرائیلو بن کورین بین المللي هوایي ډګراو داسرائیلوپه جنوب کې د ،، دیمونه ،، اتومي بټۍ په نښه کړي ؛ دحماس دهمدې توغندو دښکار کېدو له وېرې ۷ ملیونه اسرائیلیانو په کورونو کې جوړو کړو سمڅو کې خپل زیات وخت تېراوه ؛داسرائیلو دفوځي چارو ماهرین په یوه خوله داوایي دتېرو کابو ۸ کلونو راهیسې داقتصادي بندیزونو اودمصر او اسرائیلو دمحاصرې سره سره هم دحماس په عسکري طاقت کې کموالی نه بلکې ډېروالی راغلی دی ؛ داسرائیلو

دجاسوسي شبکې موساد پخواني مشر ،،داني ياتوم،، ويلي دي چې داسې ښکاري لکه چې حماس جنګيالي له جبونوتوغندي راوباسي اوداسرائيلو پرلور يې فاير کوي .

پرغزې داسرائيلو اوسنو وحشي بريدونو اوپکې انساني قتل عام ته چې وګورونوداسې ښکاري لکه په نړۍ کې چې بيخي دځنګل قانون نافذ وي ؛ دبشري حقوقو؛ دانسانانوتر منځ متقابل احترام ؛ مذهبي ازادۍ اوانساني مساوات ټولې خبرې بې معنی دي ؛ لويديځ او خصوصاً نړيوال زبرځواکونه يې په نړۍ کې دخپلو اهدافو دحصول اودخپلو افکارو دمسلط کولو لپاره د آلې اوسپر په توګه استعمالوي ؛ داځومره دحيرانتيا خبره ده چې کله په نړۍ کې چرته دنامسلمانوپه ښبه کې ازغی هم لاړ شي نودملګرو ملتونواداره ،اروپايي اتحاد اودبشر دحقوقوپه نوم نړيوالې ټولې ادارې په يواوازمتحر کې شي اودلرکيو دحقوقودساتنې په نوم اسلامي هېوادونه دجغرافيايي ويش پورې هرهغه څه ته اړباسي چې زړه يې غواړي خوپه غزې کې چې داسرائيلوله لورې ټوله غزه په کنډوالې بدله او داسې انساني قتل عام رمنځته شوی چې دبشر دحقوقونړيوالې ادارې نه نيولې داسرائيلو دبدنامې جاسوسي ادارې موساد دپخوانو مشرانو پورې ټول وايي چې داستر بشري جنايت دی نوبايد اسرائيل جنګي مجرمين وګڼل شي ؛ امريکا اوټول لويديځ پرځای ددې چې ددې ستر جنايت دودرولو لپاره يې کوښښونه کړي وای برعکس يې ددې هرڅه ملامتيا پر حماس وراچوله اواسرائيلوته يې دبرأت ورکولو ناکام کوښښونه کول .

دهاګ نړيواله محکمه او دجنيوا کنونسيون دواړه پدې خبرې يوه خوله دي چې عبادت ځايونه ، تاريخي مقامات روغتونونه او ښوونځي به په جنګ کې نښي په نښه کولای اوچې کوم هېواد داسې وکړي فوځي اوملکي مشران به يې جنګي مجرمين ګڼل کيږي ؛ دلته اسرائيلو داهر څه وکړل ؛ ۱۱۰ جوماتونه ، ۸۳ ښوونځي ،او۲۷ روغتونونه يې په نښه کړل ؛ دجولاي په ۲۵ مې نېټې يې دملګرو ملتونو ښوونځی هم په نښه کړ چې پکې ۱۵ کوچنيان شهيدان او۲۰ ټپيان شول ؛ دملګرو ملتونو سرمنشي بان کي مون ددې پېښې په رسمي غندنې بسيا وکړه نورپدې ټول وحشت دملګر ملتونو اداره ، اروپايي اتحاد يادبشر دحقوقو دساتنې ټپکداره امريکاچوپه خوله پاتې شول او هيچا هم داجرأت ونکړ چې اسرائيل جنګي مجرم وګڼي بلکې برعکس امريکا داسرائيلووحشي حملې رواعمل ګڼلواوبيا بيايې داسرائيلو سره دمرستې کولو امادګي هم ښکاره کوله ؛ د امريکا اسلام او مسلمان دښمني دی حدته رسېدلي چې اوس هم د امريکا د باندنيو چارو وزير جان کيری وايي چې د فلسطين او اسرائيلو تر منځ د تاوتريخوالي مسئوليت د حماس په غاړه دی ؛ دامريکا ولسمشر بارک اوباما او د اروپائي اتحاد غړو هېوادونو خو اسرائيلو د وحشت نه د حمايت په لړ کې لا دمخه ويلي دي چې اسرائيل د خپل ځان نه د دفاع حق لري او دا چې اسرائيل د حماس دتوغندويې بريدونولاندې دي .

عجبه دفاع ده ؟! د فلسطينيانو غصب شوې خاورې ته دې د حماس له لورې يو راکټ ويشتل کيږی بيا دې وحشي اسرائيل د زوړ ،ځوان مېرمنې کوچني د امتياز پرته د غزې د هر اوسېدونکي د وژلو او د جومات ، مکتب امبولانس روغتون او هر کور د ويشتلو او لوټی لوټی کولو حق ولري اسرائيل دې اتومي ځواک وي د نړۍ تر ټولو عصري وسلې دې په لاس ولري پر غزې دې مسلسلی ځمکنۍ او هوائي حملې رواني وي چې پکې په زرونو تنان شهيدان او ټپيانېږي او ټوله غزه په کنډواله بدلېږي او بيا دې هم امريکا او نور لويديځ وايي چې اسرائيل دحماس تر حملو لاندې دی ؟!

د ۲۰۰۸م په دسمبر کې ترسره شوي خو نړي بريد کې په وژل شويو ۱۳سوه او۹۱ تنانو کې هم اکثريت د مېرمنو او کوچنيانو واوداوسني يرغل يو دردناک اړخ هم دادی چې دفلسطيني مسلمانانو دمورال غورځولوپه موخه په ځانګړي ډول کوچنيان په نښه شول ؛ دملګرو ملتونودمر کزونوپه شمول چې به کوموځايونوته زيات کوچنيان اومېرمنې راټولې شوې هماغه ځايونه به زيات په نښه کېدل په سوشل ميډيا باندې دشهيدانو شويو کوچنيانو ډېرزيات ويډيو کليپونه خپاره شول چې له امله يې داسلامي نړۍ

ترڅنګ د اروپا په ولسونو کې هم داسرائیلوپر ضد دیادولو وړغبر ګونونه رامخې ته شول خوغلامو نړیوالو رسنیو خپله بې طرفي بېخي ونه شوه ساتلای ځکه خو په تاریخ کې په ړومبي ځل دبی بی سي ددفترمخې ګڼو خلکولاریون وکړاودنړیوالورسنیویوطرفه قضاوت یې وغندلوچې په نتیجه کې یې دمنځني ختیځ لپاره دبی بی سی نماینده جریمي بوون له خپلې دندې ګوښه کړای شو .

بس له دې هرڅه داسې ښکاري چې کفري نړۍ دمسلمانانو نسل کشۍ پخه اراده کړېده ځکه خو دوسطي افریقا نه تربرما اودسنګیانګ نه ترفلسطین پورې په ډېرې بې دردۍ دمسلمانانوداسې قتل عام روان دی لکه چې دوئ انسانان نه وي خو کفري نړۍ باید پدې پوه شي چې ددې بې انصافۍ اونفاق نه ډک عمل سزابه خامخا وڅکي ؛ دنړۍ په هر ګوډ کې دمسلمان په کورکې دبل اورلمبې به ددوئ تر کورنو هم ور ورسېږي بیابه لاسونه مروړي خو وخت به ځنی تېروي .

دغزې له ۲۱ سوونه زیات مسلمانان شهیدان شویدي چې پخپله دملګروملتونوله لورې دخپروشویو اعدادو ارقامو له مخې پکې دکوچنیانو اومېرمنوپه شمول د۱۸ سوه نه زیات ملکي وګړي دي ، ملګرو ملتونوداهم ویلي دي چې په غزې کې په ټولووژل شویو کې ایله د ۲۲٦ تنانو تړاو دوسله والو ډلو سره دی ؛ ۱۸ سوو نه دزیاتو بې ګناه ملکي وګړو په شهادت خو پکار وه چې دملګرو ملتونواداره له خپل لورې اسرائیل جنګي مجرمین ګڼلي اوپرضد یې قانوني کړنې ترسره کړی وای خودتل په څېر داځل هم دې ادارې او لویدیځ دغندنې دڅوټکو او ارقامو خپرولو پرته په دې هرڅه سترګې پټې کړې ؛ اسرائیلو ته سزا ورکول خو ډېره لرې خبره ده داسرائیلو دروان وحشت دودرولولپاره یې کوم کوچنی اقدام هم ونکړ ؛ لویدیځ خوهسې هم داسرائیلو ترشا ولاړ دی اودملګروملتونو ادارې هم خپل ناپېیلتوب ندی ساتلی خوافسوس داسلامي نړۍ پرحال چې دبولیویا په نوم نا اسلامي هېواد اسرائیل تروریست هېواد وګڼلو اوله تېرو ٦۲ کلونو راهیسې چې اسرئیلیانو دلته ازاد تلل راتلل کول اوس یې ددوئ په تلو راتلو کلي بندیز ولګولوخواسلامي نړۍ پدې دومره ستر ناورین هم بې تفاوته پاتې شوه اوخپله یوه سلنه مسئولیت یې هم ادانکړ ؛ اوآی سي په څرګندو ټکو خپله عاجزي اعلان کړه ؛ اردن او سعودي لا د اسرائیلو له حملې وړاندې حماس تروریست ګڼلی و او دمصر خو داحال و چې په غزې کې د اسرائیلو له لورې په پنځمه ورځ دشهیدانو شمېر ۱۲۲اوپه سونوټپیان شوي وودازهر پوهنتون اودملګروملتونودسرمنشي بان کی مون په غوښتنې یې مصرته دټپیانو دانتقال په موخه درفح سرحدپرانست او ویې ویل چې سبابه هم پرانستی وي خومتأسفانه چې دمصر دولت په خپلې دې وعدې ټینګ پاتې نه شو اوسبا یې دغزې نه دراتلونکو ټپیانو پرمخ درفح سرحد وتړلو؛دغزې دروغتیا وزارت ویاند ډاکټراشرف القدره ویلي چې په کومه ورځ مصر دفلسطیني ټپیانوپرمخ درفح سرحدپرانستی وو په ٦ سوو کې یې ایله ۱۱ټپیانو ته مصر ته د داخلېدو اجازه ورکړی وه .

دعربي نړۍ مشهور تلویزون الجزیره دجولای په ۱۲ مې نېټې وویل چې داسرائیلو دباندنیو چارو مرستیال وزیر داسرائیلو ددولتي رادیوسره یوې تازه مرکې ددې اعتراف کړی چې دغزې پرضد دروانوعملیاتو په هکله یې مصرترشا ولاړ دی؛ دمصر دباندنیووچارو وزرات داسرائلو ددې دعوې پخلی وکړ او داعملیات یې دحماس دتوغندویې بریدونوجوابي عکس العمل وبللو

بس په اسلامي نړۍ کې ترکیه یوائنی هغه هېواد وچې په سختو ټکوبه یې ددې وحشت غندنه کوله او اوس چې طیب اردګان دترکې نوی ولسمشر شونودرواني اګست میاشتې په ۱۱ نېټې یې دقاهرې نه ترکې ته دغزې دټپیانودانتقال لپاره امبولانسي چورلکې ورواستولې او په دومره قدر یې قبول کړل چې انقرې ته په رسېدو یې مخې ته دترکې دباندنیوچارو وزیر دخپلې مېر منې سره یوځای راو وت .

هو ! نن د غزې جوماتونه شهیدان دي ، لارې او سرکونه وران دی ، اوبه اوبرېښنا منقطع دی دفترونه روغتونونه او د لوړو زدکړو ادارې لوټې لوټې دي ، هر دیوال په وینو سور دی ، له هر کور نه جنازه وتی ده او ګڼو کورونو خپل ټول غړي له لاسه ورکړي

هم دي د ځمکنو بزدلو اسرائيلی فوځيانو له لورې د بې وسلی ولسي وګړو د غلبيل شويو جسدونو او په درندو بمباريو کې د مظلومـو انسانانو د بـدنونو د شـيندل شـويو غـړو دردونکی منـاظر دغزې داوسـېدونکو مخـی تـه دی ؛ د مظلومـو فلسـطيني خوينـدو او ميـندو دردونکو آهونو فضا سخته غمجنه کړی او د سونو زرو بورو کونډو او يتيمانو د مظلوميت نه پر ډک حالت اسمان ژاړي خو متاسفانه چې پر اسلامي نړۍ د مسلطو د بی حسۍ دشرم نه ډک حالت له منځه نه ځي.خبره ديوې ورځې او ونۍ، مياشتې يا کال نده د ۱۹۳۸ دمۍ په ۱۵ مي نېټې چې دعاصب اسرائيلي دولت بنسټ کېښودل شو له هماغې ورځې راهيسې پـه تېـر ٦٧ کلونـه کـه لـه يـوې خـوا پر مظلومو فلسطينيانو داسرائيلو دبی ساري ظلم او وحشت نه ډک دي نو بل لور ته دا ٦٧ کلونه دحال په ژبې دمسلمانانو داجتماعي بی حسۍ او دفلسطيني مسلمانانو سره داسلامي هيوادونو دمشرانو دجفا او نفاق ګواهي ور کوي.

خو له نېکه مرغه چې پر اسلامي نړۍ دمسلطو حاکمانو دبی حسۍ او جفـا پـدې سـتر عـالم کې دفلسـطين او پـه ځـانګړي ډول دغزې مسلمانانو داحساس اسلامي، غيرت، دين، ديني شعايرو او نواميسو ته دوفا بی مثله او نه هېرېدونکی تاريخ جوړ کړ

داسلامي نړۍ دې اجتماعي بی حسۍ دوئ ناهيلي نکړل، دشيخ احمد ياسين رحمه الله تعالی په لاس دحماس په نوم اېښودل شوی جهادي غورځنګ چې دتيګو ويشتلو نه پيل شوی و داتومات وسلو او راکټونو نه هم اوښتی او تر داسې توغنـدو رسـېدلی چې دغاصبو اسرائيلو زياتره ښارونه پرنښه کولای شي.

په ٦٧ کلونو کې فلسطينيانو دګوليوو او بمونو په باران، دبارودو په طوفان، په ولګې، قحط، ورانيو او هجرتونو کې ژوند تېرول زده کړل ؛ داغيارو دپلانونونو او دخپلو منافقو ليډرانو دپنجو نه دځان ويستلو لارې يې وموندې، فلسطنيانو دا زده کـړه او نـړۍ تـه يې وښودله چې خپل مظلوميت او مغلوبيت څرنګه دقربانيو په زور په طاقت بدلولی او خپل درد ته څرنګه دوا موندلی شي؟

په تېرو ٦٧ کلونو کې په لسګونو زرو فلسطينيانو خپل ځانونه قربانۍ ته وړاندې کړل خو دسيمې مسلمانانو تـه يې دذلـت نـه دراوتلو ستر جوهر جهاد او شهادت ور په ګوته کړل؛ په شهيدانو شـويو کـې عـام مسـلمانان او مجاهـدين او دډاکټـر شـقاقي، ډاکټـر رنتيسي او شيخ احمد ياسين په څېر قائدين هم شامل دي.

نن دفلسطين دهر بچي په غوږ کې دجهاد او شـهادت دشـعارونو اذانونـه کېـږي، عظيمـې مېنـدې خپلوبچوتـه داسـلام، ملـت، خاورې او ديني شعايرو نه ددفاع په لار کې دايثـار او قربـانيو درسونه ور کـوي ځکـه خـو دسـترو ظلمونـو ؛ دنړيـوال کفـر دمسلسلو سازشونو او دمسلمانو دحاکمانو دپرلپسې جفاګانو او غـداريو سـره سـره هـم پـدې ولـس کې دفلسـطين دسپېڅلې خـاورې او اقصـی دازادۍ او ددې ځای نه ديهودانـو دشـړلو احسـاس ورځ تربلـې زيـاتېږي؛ دنـر، ښـځې، ځـوان بـوډا او کـوچني دامتيـاز پرتـه نـن دهـر فلسطيني دا شعار دی چې دخپل سر نـه بـه تېـر شي خـو پـه پـاکې ځمکې بـه ديهوديـانو ناپاکـه قبضـه ونـه زغمـي اودخپلـې خـاورې دلوېشت لوېشت دازادۍ لپاره به خپل جهاد جاري وساتي.

هغه ورځ به ژر راشي چې ړومبۍ قبله به ازاده او داسرائيلو په نوم غاصب دولت به دنړۍ دنقشې نـه لـرې شـوې او نـړۍ تـه بـه امن او لويه خوشالي راغلې وي.

زه څوک یم ؟!!

الف لام

نه پوهېږم له کومه ځایه یې پیل کړم که په خپله خاوره کې دصلیبي یرغل په وړاندې مسلحانه مبارزه کوم پردی یادېږم !! اجیرحکومت اودصلیب غلامان خومې دوروستۍ وسلې په توګه له دې ټکي په استفاده شعوراً پردی بولي ، خو هغوی چې په دې دښمنۍ او دصلیب په غلامۍ کې ښکېل نه دي له دې پروپاګنډې نه په تاثرمې په غیر شعوري توګه پردی یا پاکستانی بولي، او که دهجرت دیارته لاړشم کابلی اومهاجریم؛ خامخا دې دمهاجرت اسناد راسره وي ، که نه نو جېل مې ځای دی ؟!!

ماچې په هردورکې د یرغلګرو مقابله کړې تل راسره همدا ناځواني شوې، خو بیا وروسته چې حقیقتونو او واقعیتونو ځای نیولی بیانو دتاریخ اتل یادشوی یم ، دملا مشک عالم، غازی محمدجان خان ، غازی محمدایوب خان او.....په نومونو دهیواد دویاړ ځلي رانه جوړ دي ؟؟

زمونږ د "روان شناسۍ" استاد به په صنف کې راته ویل چې زمونږ د ځېړنو له مخې دهیواد مینه دنورو خلکو په نسبت په هغو خلکو ډېره وي چې له جومات اومدرسې سره یې تړاو وي، ځکه هغوی دمادیاتو په وړاندې له دې مینې نه تېرېږي که څه هم دسر په بیه ورته تمامېږي او زمونږتېر تاریخ له دې بېلګو ډک دی.

که دې خبرې ته لږ ځیرشو او ډېر لرې نه بلکې په وروستیو دوو پېړیو کې دتاریخ پاڼې راواړوو نو داحقیقت به دسرپه سترګو ووینو، او وبه ګورو هغه اردو اوفوځ چې دهیواد اوخاورې دساتنې په نوم او امید دملت له زېښنلو وینو جوړ شوی وي ؛ دهیواد او خاورې دارضی تمامیت ددفاع په ځای څنګه داستعمار اویرغلګرو په خدمت کې استخدام شوې اوڅه ډول یې دخپل مسلمان ملت په وړاندې دتوپک شپېلۍ را اړولې ؟؟!

په نولسمه پېړۍ کې دسره شوروي دیرغل او په شلمه پېړۍ کې دامریکا اوناټو دډله ایز یرغل په وړاندې تسلیمي اودهغوی په خدمت کې استخدامبدل یې ښه مثالونه دي.

دلته هغه با احساسه افسران استثنا کوم چې دجهاد په ليکو کې له مجاهدينو سره اوږه په اوږه ودرېدل يا يې په اردوکې دننه دايمان اوهيوادساتنې نه هېرېدونکې کارنامې ترسره کړې.

دتعجب ځای خودادی چې زه په ايماني جذبه او الهي فرض حکم خپل سرقربانوم او دبدن غوښې مې ټوټه ټوټه کيږي دا دپردو لپاره کوم اودپاکستان مداخله ده ! ! هغوی به يې مادي بدله راکوي چې نه پوهيږم بيابه زه کوم هوس او دنياوي ارمان پرې ترسره کوم ؟ ! ! اوهغه چې په ښکاره له وسلو او زور سره دهيواد پرخاوره مسلط ګرځي او افغاني مېندې اوماشومان وژني يرغل ، مداخله پردی او استعمار نه دی ! ! ؟؟

همدلته ده چې دعقل اوفکر خاوندان په دې پوه شي چې دطالب مبارزه دنورو لپاره نومول دلته داشغال ددوام لپاره څه ډول حربه ده ؟او چا په کار اچولې ؟؟ ! !

زما مبارزه ولې دماديا تولپاره بلل کيږي ؟

ايا زه دنورو ځوانانو په څېر همداسې هوس او آرمان نه لرم ؟

زما زړه دغوښې زړه نه دی ؟ چې ددې عمر دمينې نرۍ څړيکې يې ودردوي ؟ !

زما هم همداسې پلار ، مور ، خويندې او ورونه دي !

همداسې کور ، بچيان او ژوند لرم...

داهرڅه دکومو ماديا تو لپاره پرېږدم ؟ ! ! او ولې يې پرېږدم ؟؟

له ايماني قوت اوديني احساس پرته به نور کوم څه وي ، چې له دې هرڅه ورته تېرېږم ؟ اوکوم سالم فکر به يې ومني ؟؟ !

دهمدې خاورې بچی يم، دهيواد غرونه رغونه مې دې خاورې ته په وفاشاهدي وايي ، دهيواد دآزادۍ سندرې دهغو په حق کې ويل شوې چې له يرغلګرو سره يې دهيواد له تړو او درو مبارزه کړې ، نه دهغو په حق کې چې په مخکې يې په منډو سترې دي اودخپلو هيوادوالو په ورکه پسې راوتلي ، چې دسبا ورځې تاريخ به يې ونه ښيي او هرو مرو به يې پردي پال او تالي څټي وبولي.

امریکااودعفوې

دنړیوال سازمان ورستي راپور...

عبید-عزیز

دافغانستان مظلوم ولس دامریکاداشغال له ړومبیوورځوراهیسي ، ټولې دنیاته کوکاري اوناري وهلي چې امریکاپرې ناترسه بمونه غورځوي ، ډرون بریدونه پرې کوي ، زهرجني وسلي پرې استعمالوي اودکورنی خوابرخ غړی ددوی په وړاندې شهیدانوي اویاتوري خولی ورپه سر کوي اوخپل وحشي زندانونوته یې بیایي ، خونړی ، تش په نامه بشري سازمانونواوګوډاګی میډیاپرې غوږونه مړه اوکاڼه نیولي وواوامریکایي موقف اوښض ته به یې کتل .

خواوس دادی دامریکااوغرب په ګوتودجوړبنسټ (دعفوې بین المللي سازمان) دوه اونی وړاندې په مستندډول داسې یوراپور خپور کړچې په ترڅ کې یې دامریکاله وحشتناکي څیرې څخه دمکر اوفریب نقاب لیري کړ ، دافغانانوپه ګډون یې ټولې نړۍ ته وریه ګوته کړه چې په افغانستان دولسي وګړوپه پراخه مرګ ژوبله کې امریکایان تر دوغوږپورې ملوث اوتر ډیره ځایه لاس لري .

دعفوې نړیوال سازمان په خپل کره راپور کې وایي چې دتیر وپنځو کلونوپه اوږدو کې یواځي دهوایي بمباریوپه قصدي پیښنو کې ۱۱۰۰ یوه لس سوه ملکي وګړي چې نیمایي یکې ښځي ، ماشومان دي وژل شوي ، داچې دکورونو دتالاشیواویاهم په نورومواردو کې به څومره افغانان امریکایي عسکروله منځه وړي وي لاڅر ګند نده ،چې ممکن شمیر زرهاوتنوته ورسیږي، راپوروایي چې دعفوې سازمان ډلودافغانستان په سطحه دلسو خونړیوپیښنوپه هکله له نیږدې اوهر اړخیزه څیړنه کړي اودقرباني شوو خلکو له پاتې غړوسره یې مرکي کړي ، هغوی ټول وایي چې ملکي خلک امریکایان په نښه کوي .

حوریه مصدق؛ چې دنوموړي سازمان دافغانستان دبرخي مسؤله ده وایي زیات دځورټکی دادی چې امریکایان عام افغانان وژني خوپه مقابل کې یې هیڅ ډول معاوضه نه ور کوي اونه هم دغوغمځپلو کورنیوته دازمینه مساعده وي چې دامریکایی عسکروپه مقابل کې کوم امریکایي عدالت ته مراجعه وکړي .

دحوریه مصدق په وینا امریکااوناټوپه افغانستان کې دتیرو ۱۳ کلونوپه اوږدو کې څرګندبشري جنایتونه ترسره کړي چې متاسفانه په ټولویې خوله پټه اوغوږونه کاڼه نیولي اودیته هم چمتوندي چې په اړه یې پلټنې وشي

دعفوې داسیادبرخي مسؤل ،ریچارد بنتي وایي چې امریکابایدد ملګروملتونو دامنیت شورادقطعنامي په اساس چې په جګړې کې دملکي خلکوژوندخوندي کړي رعایت وکړي .

بنتي زیاتوي : افغانستان ته دامریکایي عسکروپه ورتګ زر ګونه بې دفاع افغانان ددوی له لوري وژل شوي اوپه لکونوتنه شکنجه شوي چې

په مقابل کې يې قرباني شوو اومتاثره کورنيو ته هيڅ ډول خساره اومعاوضه نده ور کړل شوي ،دريځار ډ بنتي په قول دامريکاپوځي چارواکي هميشه دځپلوعسکروپه خلاف ورزيو سترګې پټوي اودجرمونوپه وړاندې دقضايي پلټونومخه ډب کوي .

له بلې خوا په کابل کې امريکايي سفير دعفوې سازمان په راپور کلک غبر ګون ښودلی ،هغه يې ناسم بللي اودملکې وګړوعاملين يې طالبان بللي.

ولې حوريه مصدق يې په ځواب کې وايي چې دامريکاديوه سفيرپه توګه زيات دشرم اوخجالت ځای دی

چې زمونږ په مستندراپورچې هيڅوک ترينه انکارنشي کولای جرح کوي اوناسم يې بولي ، نوموړي سفيرمخاطبوي ، داسمه ده چې دطالبانوپه بريدونو کې هم ملکي افغانان وژل شوي خوهغه ۱۱۰۰ سوه تنه چې مونږ يې په اړه ژوره پلټنه کړې دوی صرف دامريکايانوپه هوايي بمباری کې هدف ګرځيدلي اوله منځه وړل شوي ، چې په هغو کې دطالبانو هيڅ ډول دخل اولاس نشته .!!

که څه هم هرڅوک په دې پوهيږي اودتيرو ۱۳ کلونوپه اوږدو کې ور ته لکه لمر روښانه شوي چې امريکااوناټوپه افغانستان کې په دې سربيره چې بې وزله اوبې دفاع افغانان يې دطالبانو اووسلوالو په نومونوهدف ګرځولي اولوی لوی کلي يې په بل مخ اړولي ، دځپلې استعمار جنګي ماشين دتمرين اوساعت تيری لپاره يې هم دافغانستان په هره سيمه کې په عامو افغانانو اودهغوی په جونګړواوشتمنيو زړه تش کړی اولولپه کړي يې دي .

خوتر اوسه ديوې داسې نړيوالې مرجع له لوري چې دمسلمانانوپه وړاندې هميشه د امريکااوغرب په ناکردواوجناياتوپې ستر ګې پټې کړي ،دافغانستان په اړه يې ورستی راپوربيساری اودلچسپه دی .

دامريکايانوله اشغال راپه دې خوادغسي يومستندراپورچې مخامخ دې دامريکايي پوځ جرمونواوجنايتونوپه ګوته کړي اودامريکاله مکارشکل څخه دې پرده پورته کړي ، ندی ترستر ګوشوی .

همدادليل دی چې دعفوې سازمان ورستي مدلل راپورچې په هيڅ قيمت امريکاترينه په نړيوال قضايي ميدان کې تيښته نشي کولای له سخت خجالت اوړسوايي سره مخ کړي .

له بل لوري دکابل ګوډاګی رژيم هم دعفوې دسازمان په ورستي راپوراندېښنه ښکاره کړي چې مخالف لوري خلاف ورزی يې پکې ندي په ډاګه شوي ، خوپه عين حال کې داخبره مني چې دخارجي قوااوپه هوايي ييښو کې له تيرو ۱۳ کلونوراهيسي ډيرملکي خلک وژل شوي ، چې نه يې کوم نړيوال قضايي اورګان غږ اوريدلی اونه هم مناسبه معاوضه ور کړل شوي ، بلکې دهروژل شوي افغان لپاره يولک افغاني اوټپي لپاره پنځوس زره افغاني ټاکل شوي .

دعفوې نړيوال سازمان ،په نړی کې دبشري حقونو دنقض دمخنيوي اوخاتمې په موخه په ۱۹۶۱ کال ديوه بر تانوي وکيل «پيتر بنسون» له لوري دلندن په ښار کې تاسيس اوپه ۱۹۶۲ کال دعفوې دسازمان په نوم رسماونومول شو.

نوموړی سازمان ، ادعالري چې هدف يې دسياسي زندانيانوعادلانه محکمه ، داعدام دسزالغوه کيدل ، په زندانونو کې دشکنجواودسياسي عامه قتلونو مخنيوی اودبشـــري حقوقودفـــاع يـــې لـــه مهمواهدافوڅخه دي

دعفوې سازمان وايي چې په ټوله نړی کې نيږدې ۲ ميلونه غړي لري اولګښتونه يې هم دهمدغو غړو په بسپنواومرستو تمويل اوپوره کيږي .

خوپخـواني شـوروي اتحـاددعفوې سـازمان دغـرب دجاسوسـي جـال بالـه اوترپايه يې پرې نيو کې لرلي .

د ۳۷ هیوادونو

مستقیم یرغل او د استقلال دعوې!!

عبید ـ خبیر

۹۵ کاله وړاندې دزمري په ۲۸ نیټه ، دافغانانو دبیسارو قربانیو ، فداکاریو اوجهدونو ورسته الله تعالی پرد غه اتل اوزمریالي ولس دفتحې او استقلال ګټلو شیبې ولورولې او دافغانستان دمشایخو ، روحانیونو اومتدینو اسلافو له لوري پاچا امان الله خان وهڅول شو چې له پیرنګي استعمار څخه به دهیواد دحقیقي استقلال ګټلو اعلان کوي.

هماغه وو چې د کابل د عیدګاه په تاریخي جومات کې دافغانستان علماوو اومشایخو امان الله خان ته د خپلواکۍ خول او ویاړ ورپه سر کړ دغازي لقب یې ورته ډالی کړ او په ډاګه یې ورته وویل چې دخپلواکۍ اعلان په ځغرده وکړه او د اسلامي شریعت له پلي کیدو مه پرشا کیږه.

په رښتیاهم د زمري د میاشتې ۲۸ نیټه زمونږ د ګران هیواد افغانستان په تاریخ کې د اتلولی، میړانې، حریت او قربانی یو ستر یادګاردی چې نمانځنه، یادونه او درناوی یې هر افغان ته خاص ملي ځای او دویاړمقام لري.

ځکه د نړۍ هغه یوه لویه امپراتوري چې په قلمرو کې یې لمر نه ډوبېده، په همدې ورځ د افغانانو په ایماني ځواک اوجهادي متېو ماته او وشړیده، زمونږ ننګیالیو اسلافو او میړنیو نیکونو د پیرنګي طاغوت دری بیلابیل یرغلونه په لوړ شهامت او قربانیو مات او هرځل یې له شکست او رسوایي سره مخ کړل او په پای کې په همدې نیټه اتلو افغانانو په نړیوال ډګر کې انګریزان دخپلې ویاړمنې فتحې عظمت ته سلامي کړل.

په ډېرتاسف سره باید ووایو چې کله دامان الله خان سترګې وغوړیدې او دانګریزانو دیرغل اوګوانښ شیبې پای ته ورسیدې نوبیانومو ړې دافغانستان داستقلال داصلي ګټونکو(علمای کرامو، مشایخو اومتدینو قومي مشرانو) سره دمشورو ، تفاهم اوګډې تګلارې پرځای چې څنګه یې دحقیقي استقلال پلوشې په افغانستان کې ځلولې اوپایداره ساتلې واې اوپه سیمه کې یې دیوه مسلمان باهیبته واکمن په توګه دافغانستان دجهاد اوخپلواکۍ ګټلو اساسات ژوندي اومستحکم ساتلي واي ، بدبختانه بیرته دغلامی اواسارت په کنده کې ولویداواروپاته یې دشپږمیاشتیني سفر په ترځ کې دافغانانو اوړدې اوبې ساري قربانۍ هیرې کړې اوچې کله بیرته هیوادته راستون شو ، بیاهغه غازي اومجاهدامان الله خان نه وو ، بلکې په فکر، عقیده اوټولوکړو وړو کې یې دبې دینۍ زهر کډ شوي .

د امان الله خان د ترقی او پرمختګ ړومبني ګامونه او اصلاحات ! داوو چې هغه دکابل په مختلفو سیمو کې پولیس ودرول د محجبو میرمنو له سره یې د

خنجکونو په واسطه چادریانې وغورځولې، د خلکو په مخ کې یې د خپلې مېرمنې له سره ټیکرې وغورځاوه، اروپایي لباس او شپو خولۍ یې په ښوونځیو او دولتي ادارو کې جبري کړې وو ، د ځلورو مېرمنو نکاح یې منع وګرځوله، هغه

په عسکري نظام کې د ړيړې خريل جبري کړل، او تر ټولو مهمه دا چې د اروپا په سفر کې د ملکه ثريا سر لوڅي او د ميني ژوب انځوران په کافي شمېر کې خپاره شول.

د امان الله خان دا اوديته ورته نور يولړ ناسنجيده او اسلام ضد کړني او اقدامات وو چې په وړاندې يې دافغان ولس دصبراوزغم کاسه ډکه شوه او په خلاف يې ديوې ديني فتوا په ترڅ پاڅونونه راپورته شول ، واکمنی يې نسکوره اوله هيوادڅخه تيښتي ته اړ وګرځيد.

دهيواد روان حالت اواستقلال:

دپخواني شوروي لښکرو دوتلو څخه ۲۵ کاله او دانګريزانو له شکست څخه ۹۵ کلونه تيريږي، خولاهم زمونږ ولس دارامی، سکون او پرمختګ پرځای يوځل بيا د اشغالګرو ترهجوم او اختناق لاندي ګير دي، دا ځل دغه ميړنی ولس د امريکا او سپين سترګي او سنی برتانيا او ناټو د مستقيم تجاوز شاهد دي او ۱۴ کاله پوره شول چې دغه غربي استعمار د افغان ولس په وژلو ، ټکولو ، او هضمولو بوخت دي اولايي هم زړه ندی سوړشوي.

خو د اشغال په دغه حالت کې هم چې شپه ورځ دامريکا او ناټو دير غلګرو پوځيانوله لوري زمونږ بې دفاع ولس په خپلو معصوموووينو لمبيږي بياهم دکابل غلام رژيم اوياهغه څوک چې داشغال په راشن چليږي اومخبران يې دي ، داستقلال دعوي کوي اوحتی له انګريزانو څخه دزمري د۲۸ نيټې په موخه دجشنونو اونمانځنو تدابيرهم نيسي.

دهيواد اداره اونظام چې تردې کچې ذليل ، غلام اوبې ارادي وي چې اول پرې دخپلو ديني اوملي معتقداتوپرځای خپله پرسوده غربي اوامريکايي پروژه تطبيقوي چې تاسي يوتربله انتخابات وکړي چې هرچازياتي رايي وګټلي هغه به حکومت اواداره جوړوي ، خوچې کله همدغه پروژه پرمخ ځي اويوکانديد ظاهراًکاميابيږي ، نووګوری چې باداريې پرې څومره ريخشند وهي دڅوميلونو خلکو رايو ته ددوپيسو ارزښت هم نه ورکوي په هغوملنډي وهي اودامريکادبهرنيو چاروزير په وچه بدماشی خپله استعماري طرحه پرې مني .

نواوس دې افغانان ووايي چې په دغسې يو حالت اوغوبل کې چې ۳۷ هيوادونه هلته يرغلګر پوځيان ولري اوامريکا ، برتانيااوناټو دافغانستان دځمکي اوفضاټيکه داري په لاس کې اخيستي وي اوهره ورځ لسګونه بې دفاع افغانان په هوايي بمباريو کې له منځه وړي ، بياهم څوک ادعاکولای شي

چې مونږ دخپلواکۍ څښتنان يو اويا په همدغسي شرايطوکې مونږ ته داضروروردی چې دزمري ۲۸ استقلال ولمانځو ،که نه اول بايد دامريکا ، برتانيااودناټو دپرتو متجاوزينو ژامي ورماتي کړل شي اوله هيوادڅخه يې تيښتي ته اړکړل شي اوبياورسته دحريت اوازادی ناري اوشعارونه ورکړو ؟

ځکه داستقلال خو وي داپنځه مهم ټکي چې هغه به له غلامی اوپردي هجوم څخه خوندي وي چې عبارت دي ، له فکري استقلال ، فرهنګي استقلال ، سياسي استقلال ، پوځي استقلال او اقتصادي استقلال څخه !!

دکابل چارواکي اوياهغه څوک چې دروان اشغال په حضورکې دخپلواکی ناري وهي ، هغوی دې داخبره ثابته کړي چې په دغو پنځو اساساتوکې کوم يو خوندي اودافغانانو اختياراواراده پکې حاکمه ده ؟

که په دغو پنځوکې يوهم دافغانانوپه لاس اوولکه کې وي ، له شک پرته چې بيامونږ يوخودمختار اوخپلواک ملک اوهيوادي يو اوداستقلال دلمانځلوحق لرو؟

په افغانستان کې د امریکا بې ګټې جګړه

(سي. بي. اس)

افغانستان هغه یوازینی هېواد دی، چې لا تراوسه پکې امریکایي سرتېري په کې وژل کېږي. تر ټولو مهم جنرال هارولد ګرین د دغې جګړې تر ټولو وروستني قرباني دی، چې تېره اونۍ په نابېره توګه د خپل افغان همکار په لاس ووژل شو.

تېره اوونۍ یو افغان سرتېری د ناټو یوه ډله پوځیان د خپلې ماشینګڼې تر برید لاندې راوستل، چې له امله جنرال هارولد ووژل شو او د ناټو ۱۴ نور سرتېري ټپیان شول.

له بلې خوا د ملګرو ملتونو نوی راپور ښیي، چې د روان ۲۰۱۴ کال په بهیر کې د ملکي وګړو مرګ ژوبلې د تېر کال په پرتله دوه چنده زیاتې شوې دی.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو استازي یان کوبیش په دې اړه وویل، په افغانستان کې د جګړې طبیعت تغییر کړی، چې د ملکي وګړو مرګ ژوبلې یې ښه بېلګه ده.

له ۲۰۰۱ کال راهیسې ، چې کله افغانستان د امریکا تر پوځي تېري لاندې راغلی، جګړه ملکي استوګنو سیمو ته غځول شوې، نو ځکه د بمي او هوایي بریدونو له امله، د ملکي افغانانو د مرګ ژوبلې کچه خورا زیاته شوې ده.

د روان کال د جولای پر ۲۵ نېټه د طالبانو مشر ملامحمد عمر د خپل اختریز پیغام په لړ کې څرګنده کړه، چې د طالبانو ځواک غښتلی شوی او له افغانانو څخه یې وغوښته، چې د طالبانو له ډلې سره یو ځای شي.

د طالبانو مشر تابه له پولیسو او ملي اردو سرتېرو څخه غوښتنه وکړه، چې نور دې پردي صفونه پرېږدي او د جهادیانو له ډلې سره دې یو ځآی شي.

یو افغان لوړپوړی چارواکي وایي، چې د افغانستان سل کلن ټولنیز جوړښت، چې د هغه له مخې به قبایل د هېواد په بېلابېلو برخو کې واکمني چلوه او له دغو سیمو څخه یې ساتنه کوله، له منځه تللی.

دغه افغان لوړپوړی چارواکی، چې نه غوښتل نوم یې واخېستل شي، وویل: امریکایي پوځیانو له ډېرو پرمختللو وسلو او تجهیزاتو سره افغانستان رادننه شول، خو دوی د چریکي جګړو په ورانې ورتیا نه درلوده، نو په دې توګه که امریکایي ځواکونو له افغانستانه شاتګ کوي، د وسلو حکومت به رامنځ ته شي.

یو له هغو مهمو ستونزو سره چې امریکا د طالبانو د حکومت تر نسکورولو وروسته ورسره مخامخه شوه، داوه، چې دوی د طالبانو حکومت تر نسکورولو وروسته کومه برنامه له ځانه سره نه درلودله. د څو کلونو تر تېرېدو وروسته لویدیځ چارواکو اعلان وکړ، چې په افغانستان کې جګړه د ورځې په تېرېدو سره کمېږي. خو له دې سره طالبانو، ورو ورو بېرته افغانستان ته ډېره مخه کړه او په سویلي سیمو کې خپلو فعالیتونو ته پراختیا ورکړله، چې دمګړۍ تر ټولو په ښه شرایط کې قرار لري. د طالبانو چارواکي او سیمه قوماندان وایي، کله چې بهرني سرتېري له افغانستانه ووځي، نو زموږ لپاره هر څه له صفره پیلېږي.

په هلمند ولایت کې د طالبانو یو قوماندان «ملا سلام آخوند» وایي: له افغانستان د ناټو او امریکایي ځواکونو تدریجي شاتګ زموږ لپاره ډېر ښه شرایط چمتو کړي او موږ د دې فرصت برابروي، چې خپل ځواکونه بېرته له سره تنظیم او پیاوړي کړو. نوموړی وایي، که څه هم د ملي اردو ځواکونو د موږ پر وړاندې جنګېږي، خو جګړه ییزه وړتیا ډېره ټیټه ده او له موږ سره د مخامخېدو توان نه لري.

د طالبانو یو بل جګپوړي چارواکي وایي، چې اوس هغه خوبونه لړلړ په واقعیت بدلېږي، چې د طالبانو حکومت په افغانستان کې بېرته ګرځېدونکی دی. ډیپلوماټان په دې باور دي، چې د افغانستان د ټاکنو ناورین د طالبانو د بیا راژوندي کېدو لپاره ښه چانسونو برابر کړی دی. دغه ډیپلوماټان څرګندوي، چې له افغانستانه د بهرنیو سرتېرو په وتلو سره، فکرنکېږي چې دکابل اداري امنیتي ځواکونو به دطالبانومقابلې په یواځې ځان راودانګي.

لیک ـ خبیر احمد مجاهد

داسلامي نړۍ نوموتې قاري

عبدالباسط څوک وو ؟

عبدالباسط ، داسلامي امت اومسلماني نړۍ په سطحه هغه نوم اوشخصيت دى ، چې کله يې نوم يادشي ، ورسره غبرګ دهغه خوږالحانه حنجره اوملکوتي قراني ترنم په ذهن کې انګازي جوړي کړي اوسړى دمعنويت دنياته والوزوي .

چاچي ويلي ، دقاري عبدالباسط غږ اوحنجره دقرانکريم زينت دى ، مبالغه يې نده کړي ،ځکه حضرت رسول اکرم صلى الله عليه وسلم په يوه مبارک حديث کې فرمايلي :

وعَنْ أَنَسِ بْن مَالِكٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " : لِكُلِّ شَيْءٍ حِلْيَةٌ ، وَحِلْيَةُ الْقُرْآن الصَّوْتُ الْحَسَنُ ، يعني دهرشي لپاره ګاڼه اوزينت وي ، دقران کريم ګاڼه اوزينت ښکلى غږاواواز دى . (مصنف عبد الرزاق ودارمی)

دعبدالباسط غږ يوالهي لورينه اوانعام دي چې الله تعالى په خپل دغه صالح بنده باندي پيرزو کړي اوداسلامي امت دممتازوقاريانواوحفاظوپه رديف کې لوى مقام اوځانګړتياوربښلي . دهغه په تلاوت اوغږ کې طراوت ، ښکلا ، تاثيراومعنوي حسن دومره ځرګنداومنلى وو چې دقرانکريم دمبارکواياتونواوسورتونوپه لوستلوبه يې په ستروني‌يوالومحافلوکې دمسلمانانوجذبې اوديني انګازي نه داچې راوپاروليې ، بلکې په کراتوداسې پيښنه شوي چې دعبدالباسط په تلاوت په لسهاوو تنه ناست کفاردقرانکريم اعجازته سلامي شوي اوځاى پرځاى داسلام په مقدس دين مشرف شوي .

استادعبدالباسط څوک و :

عبدالباسط ، دعبدالصمدځوى په کال ۱۹۲۷کې دمصرهيوادپه يوې ليري پرتي سيمي «المزاعزه» کې دنياته سترګي رڼې کړي ،ويل کيږي چې کله صلاح الدين ايوبى ، له ترکيى څخه مصرته لښکري ليږلي ، نو دعبدالباسط کورنى هم له ترکيي څخه مصرته هجرت وکړ، يعني هغه دنسب په لحاظ دترکيي کردى دى .

عبدالباسط په خپله يوې مرکي کې چې څنګه يې دقرانکريم له حفظ سره مينه پيداشوه داسې توضيحات ورکړي .

په لس کلنى کې مې قرانکريم يادکړ، تل به مې داارزو لرله چې الله تعالى ترينه مشهورقاري جوړکړي ، مابه دقرانکريم دتلاوت داوريدلو لپاره چې خواږه تلاوتونه واورم

هروخت تلوسه درلوده ، تردې چې زمونږ په کلي کې یوسماوت یاچای خونه وه چې راډیویې درلوده ، بل چازمونږ په سیمه کې راډونلرله ،نوله خپل کلی څخه به مي درى کلومتره مزل کاوه اونومورې سماوات ته به مې ځان وررساوه

له راډیوڅخه به دمصرردحکومت له لوري دوخت دمشهوروقاریانو(شیخ رفعت اوشیخ شعشاعى تلاوتونه خپریدل ، نوزه به دهغوداوریدلولپاره ورتلم .

شیخ رفعت به په اونی کې دوه ځله (ددوشنبی اوجمعي) په ورځوکې تلاوت کاوه ، ماته به دهغه تلاوت زیات خوند راکاوه.

ماقرانکریم په لس کلنی کې یادکړ، اوه ګوني (قرائات سبعه) مې په ۱۲ کلني زده کړل ، اولس قرائتونه مې په ۱۴کلنی کې زدکړل .

دقرانکریم په حفظ اودټولو قرائتونوپه زدکړې سربیره مې دمعاني وو کتابونه هم وویل ، ځکه چې علم معاني ، دقرانکریم ،دتلاوت ، فهم اونورو لازمي قوایدوپه رعایت کې مهم رول لري .

په ۱۹ کلنی کې په ۱۹۵۱ کال ، دړومبي ځل لپاره ، دمصرپلازمیني قاهرې ته ولاړم ، یوه ورځ هلته دنبوي میلاد په مناسب لوی محفل جوړشوی و، دمصردمشهورقاریانوله لوري تلاوتونه ویل کیدل ، داچې زه بې واسطي اوغریب کس وم په هیڅ ډول ممکنه نه وه چې ماته دې دتلاوت کولو موقع راکړل شي ، خویوه قاري اواستادزه پیژندلم زماتلاوت یې اوریدلی وو، هغه راته دلسو دقیقولپاره دتلاوت کولو وخت واخیست اوراته ویل چې ګوره لوی چاروکي اومشهورقاریان ناست دي چې کم مورانه ولی ، زه هم زړه اونازړه وم چې تاثیررابانـدي ونه غورځیږي اوداستهزاوړونه ګرزم .

دالله تعالی فضل اواحسان وو ، یونیم سات مې تلاوت وکړ، کله به چې ما ځان دتلاوت بسوالی ته جوړاوه دزرګونوبرخوالواوحتی مشهورو قاریانوله لوري به راباندي ددوام غږونه کیدل اوتشویقولم به یې . .

هماغه وو چې دمسؤلینوله لوري وهڅول شوم چې په قاهره کې پاتي شم اوپه راډیوکې تلاوتونه پیل کړم ، نوزما دشهرت ابتدا دمیلادله مبارک مجلس نه شروع شوه . .

استادعبدالباسط دمرکي په اوږدوکې وایي : په ۵۲ کلنی کې دحج په سعادت مشرف شوم اوپه ړومبي ځل دسعودي دتلویزون اوراډیوکاروکونکوزماتلاوت ثبت کړ.

استاد وایي ،زه په دې عقیده یم چې هرکله قرانکریم له زړه څخه تلاوت کړل شی ، په زړه اثرغورځوي اوپه اوریدونکوهم اثراچوي ، زما دتلاوت انداز خاص دی ، یعني له چاڅخه مې لهجي ندي نقل کړي ،په عین حال زماپه لهجه اوسبک باندي اوس په ډیروهیوادونوکې ښاغلي حفاظ اوقاریان عبورکوي اوتقلیدیې کوي ، که څه هم په دې خوشالیږم چې څوک یې په تلاوت اوحنجره کې تقلیداوپیروي وکړي ، خوپه هغه سربیره مې توصیی دادي چې ښاغلي حفاظ اوقاریان دي زیاروباسي ترڅوځانته په خپله صنع وکړي اودخپلو حنجروپه انګازواوقوت دقرانکریم پاکوزمزموته نوی اهنګ اوترنم ورکړي .

عبدالباسط زیاتوي : دقرانکریم تلاوت چې دزړه له تله اواخلاص څخه وي ، په هغه مهال په قاري باندي داسې روحاني شیبي اومنور حالت راولي چې له شک پرته بایدالهي فیوضات اوپه هغه مجلس کې دپرښتونوراني حضوروبلل شي . مایوځل ماپه مسجدنبوي کې دالمزمل سورت تلاوت کاوه اوالمغرب دپاچاپه ګډون ډیروچاروکوبرخه درلوده اوغوږ یې نیولی وو، باوروکړي چې په ماباندي داسې یوکیف اوحالت راغی چې له دنیاسره مې رابطه بلکل قطعه اوماویل چې نورپه جنت کې ناست یم . استاد دخپلو توضیحاتوپه لړکې وایی ، هغه ډیروهیوادونوته سفرونه کړي اودقرانکریم دتلاوت په سترومجلسونو کې چې په زرهاوو خلکوبه پکې ګډون کړی وو برخه اخیستی .

دامریکا۱۴ ایالتونوته چې هلته زیات مسلمانان اوسي سفرونه کړي ، چې دالله تعالی دخاص فضل اوکرم له مخي چې هرځل

به مادقرانکریم تلاوت وکړ،په پای کې به په درځنوامریکایان اودنورو هیودونواتباع راپورته شو ل، هیبت به اخیستي وو اوپه اسلام باندي به

ایا په تیاره کې لوستل یا سکین ته کتل سترګوته تاوان لری ؟

تاسو به شاید اوریدلی کله چی دخونی څراغ مړ وی الیکترونیکی الات کارول ستاسو سترګوته زیان رسوی یا کله چی څراغ مړ وی تاسو په خپل بستر کښی وړو کی ګروپ لګوی ترڅو کتاب ولولی . کله چی تاسو داسی وطاق یا خونی ته داخل سی چی رڼا کمه وی لومړی ستاسو سترګی پخپله ځان عیاروی پدی معنا سترګی کښی دراډ په نامه جوړښتونه دی داجوړښتونه یو ډول کیمیاوی مواد ترشح کوی دغه کیمیاوی مواد رڼا کشفوی او وروسته تر دی داړنا په بریښنایی سیګنالونو تبدیلوی او بیا هغه مرکزی عصبی سیستم ته یی لیږی ترڅو داسیګنالونه وژباړل سی او تصمیم پری ونیول سی.

دوهم دسترګو دننه د iris په نامه عضلات وجود لری دغه عضلات په همدی مهال کښی استراحت حالت ته اوړی خو ستاسو دسترګو حدقه لویږی ترڅو زیاته رڼا واخلی بلاخیره ستاسو دسترګو عصبی رشتی دچاپیریال سره ځان عیاروی . کله چی تاسو لیکنه لولی یا سکین ګوری تاسو باید دهغه لیکنی پر کلیماتو باندی تمرکز او دیقت وکړی پدی وخت کښی ستاسو سترګو عضلات باید په مسلسل ډول متراکم سی ترڅو دغه کلیمات ښه ولوستل سی.

دډیر وخت لپاره همداسی مطالعه کول ستاسو سترګی ستړی کوی ځکه سترګی پدی وخت کښی نه رپیږی یو مشکل چی لدی وجی راپیداکیږی هغه ته دسترګو کشیش یا eye's strainویل کیږی. دسترګو کشیش لاندی نښنانی لری -:

١ -دسترګو ستړی کیدل ٢ -دسترګو درد ٣ -دسترګو خارښت

۴-دسر درد ۵-دملا او مری درد ۶-ګډوډه لیدنه

تر اوسه پوری داسی څیړنه نده سوی ترڅو دسترګو دایمی مشکل له دی وجی وښی خو دغه پورتنی نښی او نښانی موقتی دی دڅه وخت وروسته بیر ته سترګی نورمال حالت ته راګرځی خودا معنا نه لری چی تاسو باید هر کله همداسی وکړی ځکه ډیر زیات فشار او سترګی ستړی کول حتماً دایمی مشکل سره مخ کوی. لازمه داده چی دهرو ١٠ او ١۵ دقیقو کښی یوځل باید مخ له الیکترونیکی الې څخه واړوی مثلآ پکی ته کتل یا بل لوری ته او سترګی ورپوی. خو یاد ساتی کله چی رڼا کمه وی خپل دالیکترونیکی الاتو رڼا کمه کړی او یا دخپل وطاق څراغ ولګوی ترڅو شاوخوا چاپیریال کښی رڼا خپره سی .

مشرف کیدل ، چې زما دتخمین له مخي چې دتلاوتونوپه مجلسونوکې زماپه وړاندې مسلمانان شوي شمیرسلهاوتنوته رسیږي (الحمدللّه) چې دازما لپاره تل پاتی ویاړونه اودځان لپاره یې لوی الهي سعادت ګڼم.

اوزماترټولو ښکلی سفرچې هیڅکله مې نه هیریږي دمسجداقصی و،چې دفلسطین دمسلمانانوپه دعوت تللی وم اوهلته لا په فلسطین باندي اسراییلي اشغال اویرغل خپل کرغیړن سیوری نه وغورځولی ، مابه هلته هره شپه داسرا سورت په ډیرخوندلوسته اوزرګونه مسلمانان به راته ناست وو ، همدارنګه به دفلسطین په راډیوسربیره په همدې حالت کې له ډیرونوروعربي اواسلامي هیوادونودراډیوګانوله څپوڅخه هم زماتلاوت مخامخ خپریده .

دقاري عبدالباسط وفات :

استادعبدالباسط ،دیني دسرطان په ناروغی اخته شو، په کال ١٩٨٨ کې دنومبرپه ٣٠ نیټه د٦٢ کلونوپه عمر وفات اودافاني دنیایې دابدي دیارپه نیت پریښوده ، داسلامي نړی ددغه ځلیدونکي نوراني ستوري په جنازه کې په داسې حال کې چې په زرهاوومسلمانانو برخه درلوده دټولو اسلامي هیوادونو سفیرانو دخپلو هیوادونو داستازو په ډول پکې برخه واخیسته اوپه قاهره کې خاوروته وسپارل شو. اللّه تعالی دې دهغه ټول قراني خدمتونه په خپل دربارکې قبول اودهغه دغږ او لحن انګازي او شغلي دي دمسلمانانوپه زړونو اودماغونوکې تل ترتله اومعطري ولري . امین

او د جان کيري په لاس جوړ شوی حکومت

ز- م افغان

اوس به ټول خلک پوه شوي وي چې په افغانستان کې د خلکو اراده، رايه، ديموکراسي او انتخابي حکومت څه معنی لري. د افغانستان دردېدلی ولس څو مياشتې د ټاکنو په نوم به يوه امريکايي پروسه کې را ګېر دی، چې ولس ته يې يوازې لوړه، نا امني او بې ثباتي ورکړې ده .

د امريکا سفارت کرايي افغان نماخيرو او د ډيموکراسي مبلغينو او د غرب لاسپوڅو رسنيو پرله پسې خلکو ته تبليغ کاوه چې را ووځي، رايه ور کړي، خپل ولسمشر وټاکي، خپل سرنوشت په خپله وټاکني او د بدلون لپاره هلې ځلې وکړي. اته ميليونه څو له شک پرته دروغ دي، څو ښايي له ٤ – ٥ ميليونو افغانان د دوی په دغو تبليغاتو را ووتل، خپلې ګوتې يې شنې کړې او د څو کانديدانو له منځه يې يوه ته رايه ورکړه.

ډېر وخت نه دی وتلی، له خلکو د ټاکنو په اړه شوي تبليغات هېر نه دي، څو اوس خپله ويني چې د دوی اراده او رايه کوم ارزښت لري او که نه. د دوی برخليک رښتيا هم دوی ټاکي او که بل څوک.

اوس دا له هېڅا پټه نه ده چې د خلکو رايې او اراده بې ارزښته وه، دکابل راتلونکي حکومت افغانانو نه، بلکې جان کيري ټاکلی او جوړ کړی دی. له همدې امله د ميليونونو افغانانارادو د جان کيري د ارادې په اندازه ارزښت نه لري. ځکه چې موږ د خپلو ارزښتونو سره سم عمل نه و، کړی او په يوه امريکايي پروسه کې ور ګډ شوي وو، نو ځکه يې پايله زموږ نه، د امريکا په ګټه ده.

د جان کيري پر مټ جوړېدونکی حکومت به لومړی تر هر څه وړاندې د ډلو او ټپلو يو سلاټه حکومت وي او ددې پر ځای چې ولس او خلکو ته کار وکړي، ټول وخت به يې پر خپل منځي اختلافاتو او ناوړه سياليو تيريږي او هر ډله به هڅه کوي چې د خپلو شخصي ګوندي ګټو لپاره کار وکړي او دوی ته به دا مهمه نه وي چې ولس څه غواړي او څه ته اړتيا لري. ددې ترڅنګ دغه د جان کيري په لاس جوړ شوی حکومت به په شدت سره د امريکايي ګټو د خوندي کولو لپاره کار کوي او هڅه به کوي چې په واک کې د پاتې کېدو لپاره جان کيري او په ټوله کې امريکايي دولت خوښ او راضي وساتي. نو راتلونکی حکومت به د ولس او خلکو پر وړاندې هر ډول ظلم او زياتی کوي او د امريکايي ګټو د خوندي کولو لپاره به ټول بريدونه ماتوي.

اوس نو بايد ولس پوه شوی وي، چې په غربي ډيموکراتيکو پروسو کې ور ګډېدل څه پايله لري او له دې لارې نه شي کيدلی چې د خلکو په ژوند کې مثبت بدلون راوستلی شي. غربي ډيموکراتيکې پروسې يوازې د غرب د ګټو د خوندي کولو لپاره دي او له دې پرته اسلامي امت ته هېڅ هم نه شي ورکولی. همدا وروستی ټاکنه يې غوره بېلګه ده، چې امريکا په کې خپلې ګټې تر لاسه کړې، څو افغانان په کې د اوږده وخت لپاره د سياسي، اقتصادي او امنيتي اور په تنور کې وغورځېدل.

د افغانانو په شان د تاريخي، مسلمان، مجاهد او غيور ولس لپاره د جان کيري په لاس جوړ شوی حکومت په هېڅ ډول د منلو وړ نه دی او دا ولس هېڅکله د خپلو ارزښتونو او عقيدې خلاف نظام ته وخت نه ورکوي چې د امريکايي ګټو لپاره پر دوی نور وحشتونه هم وکړي. اوس هغه وخت دی چې نه يوازې امريکايي استعمار، بلکې د هغوی لاسپوڅو نظامونو او غربي ارزښتونو ته هم ((نه)) وويل شي.

امریکا له خپلو لاسپوڅو سره څه کوي؟

زمری افغان

په داسې حال کې چې په ظاهره له افغانستان نه د امریکایي ځواکونو د وتلو خبرې کیږي، خو په حقیقت کې هغوی د خپل پوځي حضور ډول بدلوي، په افغانستان کې یو شمېر هغه کسان چې له امریکا سره یې د افغانانو په وژلو، نیولو، بندي کولو، زخمي کولو او نورو کارونو کې مرسته کړې اندیښمن دي چې له دوی سره به څه کیږي. ایا دوی به افغانانو او مخالفینو ته پرېښودل کیږي چې د خپل غچ او غوسې په اور کې یې وسوځوي او که به امریکا ورته ویزې ورکوي او له ځان سره به یې امریکا ته وړي؟ په دې ورځو کې په کابل کې د غربي هېوادونو د سفارتونو په دروازو کې ددغه ډول کسان بیروبار دی. دوی له امریکا او نورو اړوندو هېوادونو غواړي چې له وتلو وروسته یې یوازې پرې نږدي او له ځان سره یې بوځي.په همدې تړاو د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر پر خپل حکومت ږغ کړی دی چې له واشنګټن سره همکارو افغانانو ته دې ځانګړې ویزې ورکړي. جان کېري د خپل هیواد له کانګرس څخه غوښتني دي چې سږکال په دوبي کیې دې هغه قانون تصویب کړي چې له مخې یې له واشنګټن سره همکارو افغانانو ته د ځانګړو ویزو ورکولو تعداد ډیریږي. کیري د پنجشنبې په ورځ له «لاس انجلس ټایمز» ورځپاڼې سره په مرکه کې ویلي دي: ((خبره د امریکا متحده ایالاتو د ګټو نه ده. او نه هم افغانانو ته د ډالی ورکولو. بلکې دغه اقدامات د دې له پاره دي چې د هغو کسانو له پاره چې خپل ژوند یې له امریکایانو سره اوږه پر اوږه کارکولو سره په خطر کې اچولی و، پر خپلو ژمنو باندې وفا وکړو.)) ددغه پروګرام له مخې، د بېلګې په توګه په افغانستان کې د امریکا سفارت کارکوونکو ته چې ژوند یې له ګواښ سره مخامخ کیږي، ویزی ورکول کیږي، له ۲۰۰۹ کال راهیسې پیل شوی دی. په نږدې وختونو کې د دغو ویزو د ورکولو وخت ختمیږي. د روان مالي کال تر پایه پورې چې د سپتمبر میاشتې پر ۳۰ نېټې پای ته رسیږي، په پلان کې ده چې یوازې ۳۰۰۰ دغه شان ویزې ورکړل شي.

امریکایي ځواکونه چې کله له یوې سیمې وځي، نو له خپلو سیمه ییزو متحدینو سره څه کوي؟ په دې تړاو د امریکا چلند له دې سره تړلی چې له وتلو وروسته یې په هغه سیمه کې پلان څه دی. که امریکا غواړي

چې په هغه سیمه کې چې دوی ترې وځي، له دې وروسته هم خپل نفوذ او لاسپوڅي ولري، نو له خپلو پخوانیو همکارانو، جاسوسانو او لاسپوڅو سره داسې چلند کوي چې نور کسان هم له دوی سره دغه ډول همکاریو ته زړه ښه کړي. خو که امریکا هغه سیمه یو مخ پرېږدي، نو بیا له خپلو مزدورانو، لاسپوڅو او جاسوسانو سره ناوړه چلند کوي، هغوی پرېږدي چې د مخالفینو د غچ اور یې وسوځوي. مور د همدغه ډول کړنو ګڼې بېلګې لرو.

کله چې امریکا په ویتنام کې شرموونکې ماتې وخوړله او بیا یې نه غوښتل چې هلته خپل حضور ولري، نو خپل متحدین یې د مخالفینو غوسې ته یوازې پرېښودل. ان هغه کسان چې له دوی سره یې مرسته کړې وه، د دوی د وتلو پر وخت یې په امریکایي ټانګونو، موټرو، بېړیو او نورو لېږدونکو وسایلو پسې منډې وهلې او ځانونه یې پسې بندول، خو امریکایي ځواکونو به دوی په لتو وهل او غورځول به یې، چې وروسته بیا د مخالفینو منګلو ته ور رسېدل. خو په ځینو سیمو کې لکه په عراق کې یې بیا خپل متحدین او جاسوسان مخالفینو ته پرې نښودل. د دوی یوه برخه یې له ځان سره یووړل او یوه برخه یې هملته په عراق کې وساتل تر څو له دوی سره مـزدوری تـه همداسې دوام ورکړي.

اوس په افغانستان کې هم امریکا له خپلو مزدورانو سره د امریکایي ګټو سره سم چلند کوي. د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر دا خبره چې مونږ ګواکي د امریکا د ګټو لپاره نه، بلکې پر خپلو ژمنو د وفادارۍ په موخه

د تسبیح لمونځ (صلات التسبیح)

ګرانو ورونو، ددی معلوماتو په ویلو سره خو موشروع په وکړه نو لطفا دغه نوټ ترپایه پوری ووایاست انشاالله خدای پاک به یی حتما اجر درکړی.

یوه ورځ رسول اکرم (ص) وخپل اکا عباس ته وویل غواړي چي یوه تحفه درکړم هغه وویل ولې نه رسول اکرم (ص) ورته وویل چي د تسبیح لمونځ هره ورځ کوه که یي هره ورځ نسي کولاي نو په هفته کي یي یوار کوه که یي په هفته کي هم نسي کولاي نو په میاشت کي یي یوځـل ادا ... کوه که یي په میاشت کي هم نسي کولاي نو په کال کي یوځـــــل اداکوه او که یي په کال کي هم نسي کولاي نو په ټـوله ژوند کي یي باید یوځـل ادا کړي ترڅو په اخرت کي سوکاله ژوند ولري.

د تسبیح لمانځــه نیت: نیت مي کړی د لمانځــه چي ادا کړم څلــور رکعته لمونځ، خاص د خدای تعالی لپاره...

د لمانځـــــــــــه ترتیب:

له نیت وروسته د نورو لمنځــونو په څیــر لاسونه تړل کیږي، له سبحانک اللهم او اعوذ باالله او بسم الله ویلو وروسته ۱۵ ځلــه د تمجید کلمه ویل کیږي. له هغه وروسته الحمد الله شریف او له هغه وروسته یوځـــــــــل بیا ۱۰ واري د تمجید کلمه ویل کیږي.

وروسته رکوع ته ځـو او د رکوع له تسبیحاتو (سبحان ربي العظیم) وروسته د رکوع په حالت کي ۱۰ ځله د تمجید کلمه ویل کیږي. کله چي مو سمع الله لمن حمده وویل او راپورته شوئ بیا ۱۰ ځله په ولاړو د تمجید کلمه ویل کیږي. وروسته سجدي ته ځـو، د سجدي له تسبیحاتو (سبحان ربي الاعلی) وروسته ۱۰ پلا همدا کلمه ویل کیږي. د دواړو سجدو په منځ (جلسه) کي هم ۱۰ واري د تمجید کلمه ویل کیږي، په دوهمه سجده کي هم ۱۰ ځلـــــه ویل کیږي. له راپورته کیدو وروسته دوهم، دریم او څلـــــورم رکعت د لومړي رکعت په ډول ترسره کیږي. چي په هر رکعت کي ۷۵ ځلـه د تمجید کلمه ویل کیږي او په څلورو رکعتونو کي ۳۰۰ ځلـه دغه کلمه ویل کیږي.

د تمجید کلمه: سبحان الله والحمد لله ولآ اله الا الله والله اکبر ولا حول ولا قوة الا بالله العلی العظیم. (د تسبیح په لمانځه کي که «ولا حول ولا قوة الا بالله العلی العظیم» وویل شي ښه ده، خو که ونه ویل شي هم باک نه لري) یعنی که د تمجید کلمه سبحان الله والحمد لله ولآ اله الا الله والله اکبر وویل شی هم صحت لری

دوی ته ویزې ورکوو، د خندا وړ ده. امریکا یوازې د خپلو ګټو لپاره له بل چا سره مرسته کوي. له امریکایي ګټو پرته بل داسې هېڅ ارزښت نشته چې امریکا دې یې له مخې له نورو سره مرسته وکړي. له دې امله چې امریکا په افغانستان کې پاتې کیږي او یوازې د خپل حضور ډول بدلوي، نو له شک پرته چې خپل لاسپوڅي به تر ډېره خوندي کړي. دوی دا کار ددې لپاره کوي، تر څو نور خلک هم له دوی سره مرستې او جاسوسۍ ته زړه ښه کړي. خو هغوی چې له امریکا سره یې همکارۍ ته زړه ښه کړی باید

پوه شي چې امریکا یوازې تر هغه وخته په خپله ژمنه وفا کوي چې امریکایي ګټې په کې نغښتې وي او کله چې خبره د امریکایي ګټو نه وي، نو بیا به یې د ویتنام په شان مخالفینو ته پرېږدي او د هغوی د غوسې او غچ د اور په لمبو به کې په وسوځي.

اوس یې هم نه منئ!!

(فاتح)

اوس یې هم نه منئ چې دا یوه صلیبي ډرامه وه؟ که یې نه منئ هم یې باید ومنئ، ځکه چې الله جل جلاله هر څه افغان ولس او نړۍ ته رسوا کړل، د کفر غلامان او د طاغوت لارویان به تل شرمنده او خجالت وي، دا هماغه اشرف غني دی چې تاسو به بابا باله، او دا بل بیا هماغه عبدالله دی چې ځینو ساده ګانو او حسدګرو به ورته د مجاهد پاک نوم کاراوه، اخر هم رسوا شول.

د صلیبي یرغلګرو په کاسه رالوی شوي غلامان به تر څو افغان ولس ته په سترګو کې خاورې اچوي، اوس خو دی هغه خلک ځواب ووایي، کومو نیشنلیستانو به چې انتخابات د افغان ولس د ښه راتلونکي ضامن بلل، ولې اوس هغه کمپاینران د دې حالت په لیدو خجالت نه باسي کومو به چې ویل: اشرف غني بابا به افغانستان ته خپلواکي وګټي، خارجیان به وباسي، هغه یو آزاد انسان دی!! آزاد او غلام خو دلته معلوم شي چې یو کافر راځي ستا د کور په چارو کې مستقیمه مداخله کوي، او ته یې له امر نه ذره برابر سرغړونه نه شې کولی، آزاد او غلام خو دلته معلوم شي چې کله ورته د وخت دفرعونیانو لخوا د خپلو فرمانونو د منلو امر وشي.

حقیقت دادی چې امریکایي یرغلګرو دلته ډیری لوبې پروسې رواني کړي دي، د پښتو او دري دښمنۍ ته یې لمن ووهله، د شمال او جنوب کیسې یې بیا راتازه کړې، د فدرالي نظام بابولالې خو اوس هم ښې په درز کې رواني دي، مګر بیا هم داسې جاهلان شته چې د دې غلامو څیرو په اهدافو به یې سر نه خلاصیږي!!

موږ خو له اوله درته ویلي وچې: د ټاکنو په نوم د کفر په پروسه کې ګډون مه کوئ، چې تر څو دلته اشغالګر موجود وي، د ارګ هر مشر به یې لاسپوځې او غلام وي، هغه دی هر څه درته په اثبات ورسیدل، اوس که یو څوک هر څومره هڅه وکړي او تر بوسولاندې اوبه تیرې کړي، خو و به نه شي کولی چې د عقل خاوندانو ته دوکه ورکړي؛ مګر د عقل او فکر دښمنان به بیا هم تیر وځي؛ اوس به هم یو څو د دنیا او څوکۍ لیونیان افغان ولس ته وایي چې اشرف غني بابا تاسو ته خدمت کوي!!

اشرف غني چې ټول عمر یې په اروپا کې تیر کړی لکه د فارمي چرګ نه یې لوږه او تنده لیدلې، نه یې جنګ جګړې کړي، نه یې کوم ځاځکې وینه د دین او هیواد لپاره تویه کړې، او نه یې عمر د دې تقاضا کوي چې پر چا دې مشر شي، خو د دجالي میډیا په مرسته یې د ډیرو په زړونو جادو وکړ او ځان یې پرې د یو ښه مشر په حیث و مانه، همداسې عبدالله عبدالله درواخله، چې پیدا شوې که به یې د خدای جل جلاله له ډاره چیرته لمونځ هم کړی وی، جهاد خو لری خبره ده، د روسانو پر وخت یې د روسانو د کاروانونو امنیت ساته، اوس نو چې ځای د چوکۍ د تر لاسه کولو راغې هم مجاهد شو او هم خادم!!

دا خو د پټې سر دی تاسو وړاندې انتظار کوئ چې څه کیږي، داسې نادری به وویني او وا به یې وری چې غوني به مو ورته زیږ شي، خو غلامان به بیا هم د خپلې غلامۍ په حق کې په شیطاني دلایلو استدلال کوي.

هغه یو شاعر وایي:

پلورل شوي غلامان چې محـــکوم نه شي
دا بیړۍ په دې دریاب کې خــــــطري ده

لومړۍ نړیوال جنګ او په اسلامي نړۍ یې اغیزې

قاري عبدالستار سعید

سل کاله پخوا د ۱۹۱۴ م کال د جولای میاشت وه چې د اروپا په زړه کې دیوې جګړې اور ولګید،دا جګړه چې په پیل کې ددوو هیوادونو اتریش او صربستان ترمنځ وه وروسته یې ټولې اروپا او حتی دنړۍ ټولو براعظمونو ته سرایت وکړ، جګړې د ۱۹۱۸ م کال تر نومبر میاشتې پورې څه باندې څلور کاله دوام وکړ، خو په دې موده کې یې نړۍ او بشریت ته داسې زیانونه واړول چې تردې پخوا کومې جګړې نه و اړولي ، همدا لامل و چې داروپایانو دا جنګ لومړی نړیوال جنګ وبلل شو.

د لومړي نړیوال جنګ عوامل

د شلمې پیړۍ په پیل کې که د اروپا وضعیت مطالعه کوو، نو پنځه مطرح قوتونه مو مخې ته راځي چې دغه مهال یې ترمنځ د څواک سیالي روانه وه، انګلستان ، فرانسه ،المان، د روسیې تزاري امپراطوري او د اتریش – هنګري امپراطوري چې په دې لیکنه کې ترې یوازې په اتریش سره تعبیر کوو.

دې زبرځواکونو په پرلپسې توګه ترخپل منځ رقابت ته ادامه ورکوله، دا مهال چې په اروپا کې نشنلیزم اوج ته رسیدلی و، هر هیواد غوښتل چې ځان پر نورو د برلاسی ستیج ته پورته کړي،دوی ټولو په آسیا، افریقا،امریکا او سمندرونو کې مستعمرات هم لرل چې ډیر ځله یې د جنجال باعث د یو بل په مستعمراتو کې لاسوهنه وه،په دې سربیره د خامو موادو دمنابعو په سر شخړې او په سرحدي سیمو کې ارضي جنجالونه هم اوج ته رسیدلي وو.

دې پنځو قوتونو یو دبل په وړاندې پټ ایتلافونه هم لرل او ځینې ښکاره سیالۍ او جنجالونه یې هم ترمنځ موجود و،د بیلګې په توګه د روسي او اتریش ترمنځ له ډیره وخته د بالکان په سیمه کې سیالي روانه وه، فرانسې او المان چې دنولسمې پیړۍ په اتیایمو کلونو کې سخت جنګونه سره کړي وو اوس یې هم په ځینو سیمو لانجې ترمنځ پاتې وې، المان او انګلستان بیا په اقتصادي، او صنعتي ډګر کې دغه راز په سمندرونو د سلطې په برخه کې په پراخه سیالي بوخت وو، فرانسې او روسیې بیاترخپل منځ یو پټ تړون درلود چې په سختو حالاتو کې به یو دبل مرسته کوي، المان له اتریش سره دګډ نژاد له امله تودې اړیکې او یارانه درلود،ددوی په ګاونډ کې دغه مهال بل مطرح ځواک د ترکیې عثماني امپراطوري وه، عثماني ترکانو له المان سره تودې اړیکې درلودې، او تر واک لاندې سیمي یې د الماني مصنوعاتو لپاره د مناسب بازار حیثیت درلود، عثماني ترکانو له المان پرته له نورو اروپایانو سره ښې اړیکې نه درلودې، ځکه روسانو ترې په قفقاز کې سیمې نیولي وې، انګلیسانو ترې مصر ، دفارس خلیج او سره سمندرګي دغاړو ځیني سیمې قبضه کړې وې، فرانسې ترې المغرب او الجزائر نیولي و او ایټالیا ترې لیبیا او تونس قبضه کړي وو.

په همدې وضعیت کې چې د اروپا دغه د ځواک په نشه مست هیوادونه یوله بله په ویره کې وو او هر یوه بل ته د شک په سترګه کتل ،د یوې خطرناکې جګړې لپاره وضعیت په پوره توګه اماده و چې یوازې یې یوې بهانې ته اړتیا درلوده .

همدا بهانه د ۱۹۱۴ م کال د جون په ۲۸ مه موجوده شوه، د اتریش امپراطورۍ له روس پلوه صربستان سره سخته دښمني درلوده، په همدې ورځ داتریش د امپراطورۍ ولیعهد آرشیدوک فردیناند د یوصرب اتریشي لخوا ووژل شو، اتریش دا قتل د صربستان کار وباله او صربستان ته یې اخطار ورکړ چې که ددې قتل د تحقیق لپاره اتریشي پلاوي ته د تحقیق اجازه ورنکړي نو برید به ورباندې وکړي، صربستان د اتریش نور شرطونه ومنل مګر داتریشي پلاوي لخوا په صربستان کې د پلټنو شرط یې رد کړ، په همدې کې د المان مشر اتریش ته ډاډ ورکړ چې که په صربستان حمله وکړي ، المان به یې په ټول قوت ترشا ودریږي، همدا لامل و چې اتریش صربستان ته چې روسیه یې په کلکه ترشا ولاړه وه د جنګ اعلان وکړ .

جنګ پراخیږي

د ۱۹۱۴م کال د جولای په ۲۸ مه اتریش صربستان ته د جنګ اعلان وکړ، څرنګه چې صربستان د روسیې متحد و،او په یوازې ځان یې داتریش دفاع نه شوای کولای ،روسیې داتریش په مقابل کې دجنګیدو لپاره خپل ځواکونه اماده کړل،اودفرانسې لخوا په ورکړل شوي ډاډ یې له صربستان څخه ددفاع ټینګ وواهه،په قضیه کې دروسیې مداخلې د اتریش متحد المان ته ټکان ورکړ دوه ورځې وروسته داګست په لومړۍ نیټه دالمان دقیصر لخوا تزاري روسیې ته دجنګ اعلان وشو،المان د اګست په دریمه په فرانسه هم حمله وکړه او دفرانسې په خوا یې خپل ستر عملیات چې له وړاندې یې ورته طرح جوړه وه پیل کړل.

المان چې دا مهال یو کمساری نړیوال ځواک بلل کیده، له پخوا یې هڅه کوله چې خپل اروپایي سیالان په تیره فرانسه او روسیه وټکوي، دهمدې لپاره دوی له وړاندې طرح داسې جوړه کړې وه چې لومړی به دغرب په خوا پراخ عملیات صورت نیسي ترڅو فرانسه تس نس کړي، دفرانسې له نیولو وروسته به په شرق کې په روسیه ګوزار کیږي،المان په یو پراخ برید کې د فرانسې په خوا پرمختګ ته ادامه ورکړه، په دې لړ کې المان اړ و چې بلژیک هیواد چې دفرانسې په لاره پروت هم ترپوځي ګامونو لاندې کړي،څرنګه چې بلژیک هیواد په دې جګړه کې بې طرفه و دالمان لخوا په بلژیک برید بریتانیا وپاروله، نوځکه د اګست په څلورمه بریتانیا هم المان ته دجنګ اعلان وکړ، په ورپسې څو ورځو کې مونټه نیګرو او جاپان هم دالمان په وړاندې په جګړه کې ور ګډ شول ،جګړه چې ټوله اروپایي نیولې وه، نورو وچو ته هم وغځیده، په لړې ختیځ ، بحرالکاهل او افریقا کې یو دبل په مستعمراتو بریدونو پیل شول، د نړۍ نور هیوادونه هم په جګړه کې ورګډ شول تردې چې دجګړې ترپایه له دواړو خواوو دجنګیدونکو هیوادونو شمیر ۲۸ ته ورسید، له دې جملې المان، اتریش ، عثماني امپراطوري او بلغاریه په یوه صف کې و چې محور قواوې ورته ویل کیدې او په مقابل کې یې ۲۴ اروپایي ، امریکایي او اسیایي هیوادونه ووچې متحدین یې بلل.

د جنګ په پیل کې چې المان د فرانسې په خوا کوم عملیات پیل کړل، بلژیک او دفرانسې دخاورې ځیني برخې یې لاندې کړې، خو دفرانسوي انګلیسي او بلژیکي ځواکونو دسرسخت مقاومت له امله یې پرمختګ په ټپه ودرید، تردې چې دواړه خواوې دسنګرونو په کیندلو او ثابت جنګ په دوام مجبور شول،په دې جبهه کې یوه ستره پیښه د بلژیک حدودو کې رامنځته شوه، دمتحدینو قواوو دالماني ځواکونو د لومړي خط تر پښولاندې ځمکې ته تونلونه ورتیر کړل، دوی دالماني ځواکونو ترپښو لاندې په ۱۹ تونلونو کې ۴۱۰ ټنه منفجره مواد ځای په ځای کړل او بیا یې په یوځل انفجار ورکړ، دا انفجار چې غږ یې ۲۲۵ کیلومتره لرې په لندن کې واوریدل شو، د لس زره الماني ځواکونو په وژلو یې ددې هیواد لومړۍ کرښې ته درونډ زیان واړاوو.

المان که په لویدیځ کې له بن بست سره مخامخ و په ختیځ کې یې برلاسی دریځ درلود په ختیځ کې الماني ځواکونو دتزاري روسیې لښکرو ته پرلپسې ماتې ورکړې ۱۲۵ زره روسي عسکر یې ژوندي ونیول او پراخې سیمې یې ترې لاندې کړې، په همدې مهال داتریش او صربستان په جبهو کې هم جګړو زور نیولی و،

ایټالیا د جګړې په پیل کې دالمان او اتریش متحده وه خو د ۱۹۱۵ په مې میاشت کې یې لوری بدل کړ او د متحدینو په صف کې ودرېده، په مستعمراتو کې هم مهال جګړې زور واخیست، د افریقا په کامیرون ، توګو او ګنو نورو ساحلي سیمو کې متحدینو په الماني مستعمراتو او پوځي اډو بریدونه پیل کړل،له بلې خوا ۶۰ زره جاپاني ځواکونو د چین په ساحل د المان په ستره اډه چینګ تایوي باندې پراخ برید وکړ،دغه راز د فالکلند او لري ختیځ په حوزو کې هم انګلیسي اوالماني ځواکونو سره ونښتل، دمستعمراتو په جګړو کې المانیان یوازې د افریقا د ختیځ تانګا بندر په جګړه کې بریالي شول او په نورو جګړو کې یې له اروپا بهر تقریبا ټول مستعمرات له لاسه ورکړل او ځواکونه یې له مقاومت وروسته متحدینو ته تسلیم شول .

عثماني خلافت په جنګ ورګډیږي

د شلمې پیړۍ په پیل کې که داسلامي نړۍ وضعیت تحلیلوو نو په لنډو یې انځور داسې وړاندې کولای شو،په افریقایي لویه وچه کې ټول اسلامي هیوادونه د فرانسې، ایټالیا اونګلستان لخوا اشغال شوي و، هند او اوسنی پاکستان هم د انګلستان مستعمره و، ایران د روسیې او انګلستان ترمنځ په منځ نیم شوی او دنفوذ په سیمو ویشل شوی و، دبالکان ټاپووزمه او قفقاز په سیمو کې اسلامي خاورې روسیې له عثماني ترکانو لاندې کړې وې،د منځنۍ اسیا اسلامي هیوادونه هم د روسانو تر تسلط لاندې و، په درسته نړۍ کې یوازې افغانستان،د عثماني امپراطورۍ ملحقات او د جزیرة العرب ځیني صحرایي سیمې وې چې مسلمانانو پرې په خپله تسلط درلود، په اسلامي نړۍ کې یوازې عثماني خلافت ځواکمن هیواد و چې په ترکیه، دبالکان په ځینو سیمو، او د منځني ختیځ په عربي هیوادونو یې سلطه درلوده .

عثماني امپراطوري دا مهال دخپل تاریخ په ترټولو بدحالت کې وه چې اروپایي سیالانو یې پرې د (مریض شخص) نوم ایښی و،ترکان چې څو پیړۍ یې په اروپا سیورې پروت و، په وروستیو کې دنویو علومو او تخنیک په چاره کې له اروپایي سیالانو وروسته پاتې وو او همدې چارې پرې پخواني رقیبان زرور کړي وو.

کله چې د عثماني خلافت سیالان روسیه، فرانسه او انګلستان له پیاوړي المان سره په جګړه بوخت او سخت وځپل شول، عثماني ترکانو ولیدل چې المان په جګړه کې برلاسی دی ، عثماني ترکانو له المان سره دتودو اړیکو درلودلو له امله او په دې هیله چې له ځپل شویو متحدینو به انتقام واخلي او پخوانۍ نیول شوې سیمې به بیرته ترې ولجه کړي،د ۱۹۱۴ م کال د اکتوبر په ۲۹ مه په جګړه ورګډ او دالمان په پلوی یې د متحدینو په خلاف د جګړې اعلان وکړ.

عثماني ترکانو داهیله هم درلووده، چې داروپایي استعمارګرو سره په جګړه کې له ښکیلتیا وروسته به په ټوله اسلامي نړۍ کې داستعمارګرو په خلاف د جهاد په فتوی سره مسلمانان راپورته او اروپایان به له اسلامي سیمو وشړي.

خو داچې د عثماني ترکانو اصلي هدف د بایللو سیمو بیرته ترلاسه کول و، دهمدې لپاره دوی لومړی قفقاز ته د جنرال انور پاشا په مشرۍ سلګونه زره پوځیان ولیږل، ترڅو روسان چې په ختیځه اروپا کې له المان سره په جګړه بوخت و، په دام کې ښکیل کړي ،خودې لښکر د قفقاز په لوړو کې له درنو جګړو وروسته سخت شکست وخوړ، ویل کیږي د قفقاز په جګړه کې تر ۹۰ زره ډیر ترکي پوځیان ووژل شول چې ډیری یې دسړې هوا او یخ وهلو له امله مړه شول، ترکانو بل لښکر د سوریې دحاکم جمال پاشا په مشرۍ د سینا دښتې له لارې د مصر په خوا سوق کړ،دې لښکر د المانیانو په ملاتړ کوښښ کاوو چې د سویز کانال په نیولو سره له ختیځو مستعمرو سره د انګلیسانو رابطه قطعه کړي، ځکه انګلیسانو په پرلپسې توګه له خپلو مستعمراتو څخه په جګړو کې دانساني او مالي منابعو په حیث استفاده کوله، داسې ویل کیږي چې حتی په لویدیځه اروپا کې دبریتانیا د پوځ یوپه دریمه برخه هندي مرتزقه وسلوال و

چې دالمان په ضد جنګېدل،په لومړۍ نړیوال جنګ کې دټولو جنګېدلیو هندیانو شمیر تر یوملیون زیات بلل شوی دی چې دانګلیس په ملاتړ جنګېدل.

د سویزکانال په جګړه کې هم ترکي لښکرو شکست وخوړ او تر غزې پورې یي شاتګ وکړ، ترکانو دقفقاز د جبهې غوندې په جزیرة العرب کې پرلپسې بدې ماتې وخوړې، بغداد ، کویټ او بیت المقدس دانګلیسي لښکرو لخوا ونیول شول، انګلیسي لښکرو حتی د سوریې تر حلب پورې پرمختګ وکړ، د انګلیسانو په پرمختګ کې ستر کردار د ترکانو په خلاف دعربود پاڅون و، چې د لویدیځوالو په تاریخ کې د انګلیسي جاسوس ایډورډ لارنس کارنامه بلل کیږي، دغه انګلیسي جاسوس چې ځو لسیزې یي په عربو کې کار کړی و، او عرب یي د ترکانو په خلاف لمسولي و په پای کې بریالی شو چې دمکې مکرمې والي حسین بن علی چې په شریف حسین مشهور و، د لومړۍ نړیوالې جګړې په سختو شرایطو کې د عثماني خلافت په خلاف پاڅون ته تشویق کړي، شریف حسین چې دترکانو لخوا دمکې مکرمې والي ټاکل شوی و لوری یي بدل کړ او دانګلیسانوپه اشاره یي له ترکانو د استقلال پاڅون پیل کړ، نوموړي چې په قاهره کې د مصر او عربي نړۍ لپاره دځانګړي انګلیسي دفتر لخوا لوبیده، عرب قبایل یي د ترکانو په خلاف جنګ ته وهڅول، انګلیسانو له دوی سره د منفجره موادو مرسته کوله ترڅو د جزیرة العرب په لراوبر کې دترکانو لخوا د ریل ګاډي غځول شوي کرښې والوځوي او دترکي پوځ داکمالاتو مخه ونیسي ، دعربو پاڅون په جزیرة العرب کې ترکي پوځونه له ډیرو ستونزو سره مخامخ کړل او د انګلیسانو بریا ته یي لاره هواره کړه.

د ګالیپولي جګړه

د لومړي نړیوال جنګ په ترڅ کې د ګالیپولي په ټاپوزمه کې پیښه شوې جګړه یوازینۍ جګړه وه چې عثماني ترکانو په کې خپل جګړه ایز هنر ننداري ته وړاندې کړ او اروپایي متحدینو ته یي سخت شکست ورکړ،عثماني ترکانو د جګړې له پیله د تورې بحیرې او مدیترانې بحیرې ترمنځ د باسفور او دردنیل په تنګیو کنترول درلود، دې چارې د انګلیس او فرانسې ستر متحد روسیه له دې منعه کړې وه چې خپل سمندري ځواکونه د جګړې جنوبي او لویدیځو جبهاتو په خوا سوق کړي، دهمدې خنډ دلرې کولو لپاره متحدینوفیصله وکړه چې په هر قیمت وي باید یاد تنګي په تصرف کې راوستل شي .

ونستن چرچیل چې وروسته د بریتانیا نخبه سیاستوال شو، دغه مهال د بریتانیا د سمندري قواو مشر و، نوموړي د دردنیل تنګي او ورپسې د استانبول د نیولو لپاره ددې جګړې نقشه جوړه کړه او په لکونو ځواکونه یي دې سیمې ته سوق کړل، جګړه د ۱۹۱۵ کال په فبرورۍ کې لومړی په سمندري کښتیو او سمندر غاړو کې پیل شوه او وروسته د ګالیپولي په ټاپوزمه کې راټوله شوه ، په دې جګړه کې ۴۹۰ زره برتانوي او ۷۹ زره فرانسوي ځواکونه ښکیل و چې مشري یي د چرچیل په غاړه وه، د عثماني ترکانو لخوا د مصطفی کمال /اتاترک په مشرۍ ۳۱۵ زره پوځیان جنګیدل، جګړې په میاشتو میاشتو دوام وکړ او دواړو خواوو ته سخت تلفات ورسیدل، اروپایانو ټول وس وکړ چې په درد نیل تنګي سلطه راولي خو ترکانو سخت مقاومت وکړ، تاریخ لیکي: په دې جګړه کې د ترکي لښکر د مشر شعار دا وو: زه تاسو ته دا نه وایم چې ګالیپولي ته لاړ شئ او وجنګیږئ بلکې درته وایم هلته لاړ شئ او مړه شئ .

په دې جګړه کې چې د۱۹۱۵م کال په دسمبر کې د اروپایانو په شکست پای ته ورسیده څه کم دوه نیم لکه د متحدینو ځواکونه او تر یو نیم لک زیات د عثماني امپراتورۍ ځواکونه ووژل شول، دهمدې جګړې بریا ترکي سرلښکر مصطفی کمال ته غیرمعمولي شهرت ورکړ، او نوموړی د عثماني خلافت په وسلوالو ځواکونو کې د یو محبوب مشر په حیث مطرح شو، مصطفی کمال وروسته له همدې اعتبار او شهرت څخه په استفاده ترکي پوځیان د خلافت په خلاف بغاوت ته وهڅول، عثماني خلافت ته یي دپای ټکی کینښود او نوې په سیکولر نظام ولاړه ترکیه یي رامنځته کړه .

د جګړې وروستۍ صحنې

په ۱۹۱۷ م کال کې سره له دې چې دجګړې درې کاله تیر شوي و او له دواړو خواوو په میلیونو کسان وژل شوي و، جګړه کاملا د بن بست له حالت سره مخامخ وه،د جګړې په اصلي کرښه لویدیځه جبهه کې د المان او متحدینو ترمنځ ثابته لومړۍ کرښه پرته وه او په یوبل یې ډزو او بمبارونو ته ادامه ورکوله دجګړې دا کرښه چې له ژورو خندقونو جوړه وه، د مانش له دریاب څخه بیا تر سویس پورې غځیدلې وه چې ۶۵۰ کیلومتره اوږدوالی یې درلود.

المانیان چې په ځمکنۍ جګړه کې له بن بست سره مخامخ وو هڅه یې وکړه چې هوایي او سمندري جګړه پیل کړي، دوی ددښمن په ښارونو او جنګي کرښو بمبارونو ته زور ورکړ، له بلې خوا یې د اوبتلونو په توسط د مخالفینو په کښتیو بریدونه پیل کړل،د سمندري جګړې په ترخ کې المان په پرلپسې توګه څو انګلیسي بیړۍ غرقې کړې، دغه مهال چې دامریکا متحده ایالت د یو غیراروپایي زبرځواک په حیث بې طرفه دریځ درلود، دجګړې له دواړو خواوو سره یې د قرضونو د ورکړې او وسلو پلورلومعاملې درلودې،خو څرنګه چې امریکایان متحدینو ته ډیر ورنږدې و، المان نه خوښول چې امریکایي بیړۍ دې متحدینو ته مرستې ورسوي،الماني اوبتلونو د ۱۹۱۷ م کال په اپریل کې په اطلس بحر کې په امریکایي بیړیو برید وکړاو له سپرو امریکایانو سره یې ډوبې کړې، ددې پیښې په تعقیب دامریکا ولسمشر ویلسن د المان په خلاف د جګړې اعلان وکړ،او خپل تازه دمه ځواکونه یې د جګړې جبهاتو ته ولیږل .

که په جګړه کې دتازه دمه امریکایانو شاملیدل د متحدینو لپاره ښه زیری و، خو بله غاړه د همدې کال په اکتوبر کې په روسیه کې د ولادیمیر لنین او تروتسکي په مشرۍ بلشویکانو انقلاب وکړ، تزاري سلطنت یې چپه کړ، او له کامیابۍ سمدستي وروسته یې په نړیواله جګړه کې خپله بې طرفي اعلان کړه، د جګړې له صف څخه د روسانو وتل متحدینو ته بد خبر و.

د ۱۹۱۸م کال په مارچ کې المانیانو په لویدیځه جبهه کې یوځل بیا زورآزمایل پیل کړل، دوی د متحدینو په کرښه پراخ عملیات پیل کړل، دمتحدینو ځواکونه یې پرشا کړل خو المانیان د پاریس په نیولو ونه توانیدل .

دهمدې کال په جولای کې متحدینو دفرانسوي جنرال فردیناند فوش تر مشرۍ لاندې په الماني کرښه ځوابي برید پیل کړ، او المانیان یې له ماتیدونکي حالت سره مخامخ کړل،دغه مهال چې دجګړې تولې خواوې سختې ځپل شوي وې، په میلیونونو عسکر یې له لاسه ورکړي و او اقتصادي بنسټونه یې له پښو لویدلي و، المانیان په دې پوه شول چې نور جګړې ته دوام نه شي ورکولای، دوی لومړی د همدې کال د نومبر په ۱۱ نیټه په لویدیځه جبهه کې له متحدینو سره د موقت اوربند قرارداد لاسلیک کړ، له همدې فرصت نه په استفاده د المان قیصر ویلیم ۲ واک پریښود او هالنډ ته وتښتید، په المان کې نوي انتقالي حکومت واک په لاس کې واخیست او همدا تغیر د المان د شکست منلو په معنی و.

له شکست منلو وروسته جنګ عملا پای ته ورسیداو دمتحدینو لخوا له المان،ترکیې او اتریش څخه د تاوان اخیستلو بهیر پیل شو، د وارسا موافقت نامه چې د ۱۹۱۹م کال په جون میاشت کې په المان باندې تحمیل شو،دا هیواد یې تر سختو محدودیتونو او غرامتونو لاندې ونیو. دبیلګې په توګه متحدینو په المان ومنله چې :
دالمان ټولې جنګي او تجاري بیړۍ به انګلیستان او فرانسې ته ورکول کیږي، المان به همدې هیوادونو ته څو کاله کښتۍ جوړوي ،المان به په ټولو هیوادونو او مستعمراتو کې په خپلو شتمنیو سترګې پټوي او متحدینوته به یې بښي،المان به پنځه زره ارابې اورګاډي او یونیم لک موټر د متحدینو لپاره تولیدوي،المان به لس کاله زیات مقدار زغال سنګ فرانسې ، بلژیک او ایټالیا ته صادروي،المان به ۶ ملیارده او ۶۰۰ ملیونه سترلینګ لیره په نقدي توګه متحدینو ته ورکوي، المان به د سار د ډېرو سکرو کان ۱۵ کاله فرانسې ته پریږدي ترڅو هغوی چې څومره یې خوښه وي زغال ترې وچلوي، المان به د سمندري او هوایي ځواکونو د درلودلو حق نلري ، اضافه عسکر به نه جلبوي، خپل

پوځي ځواک به يوازې سل زره عسکرو ته راټيټوي چې ټانګونه او درنې وسلې به نلري.

په لوړو قيودو سربيره دغه پريکړه ليک نور هم ګڼ هيښوونکي مواد درلودل چې له امله يې المان پراخې ځمکې له لاسه ورکړې، دغه راز يې د خپلو ملي شتمنيو له جملې ۵۵ فيصده د اوسپنې،۴۵ فيصده د زغال سنګ،۷۵ فيصده د جستو او ۵۷ فيصده د سرپو کانونه له لاسه ورکړل ،دهمدې پريکړه ليک سخت شرايط باعث شول چې په المان کې ملتپالنه او دنورو اروپايانو په نسبت دکرکې احساس وده وکړي او په حقيقت کې همدا پريکړه ليک ددوهم نړيوال جنګ باعث شو، هغه جنګ چې له نړيوالو يې لومړنی نړيوال جنګ هير کړ .

هغه ارقام چې په وروستيو کې په ډاګه شوي وايي چې په لومړي نړيوال جنګ کې د فرانسې څلورميليونه او سل زره کسان ووژل شول چې ددې هيواد دټول نفوس يو په لسمه برخه تشکيلوي، دغه راز د المان ۳ ميليونه ، دبريتانيا اوه نيم لکه ، دامريکا يولک او پنځلس زره او د روسيې ۷ ميليونه او سل زره کسان ووژل شول، په جګړه کې په مليونونو کسان معيوب او زخميان هم شول او نږدې پنځه مليونه انسانان په کې نادرکه شول.

په اسلامي نړۍ د لومړۍ نړيوالې جګړې اغيزې

